د افغانستان اسلامي امارت

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت

# جرګه

علمي، سیاسي، څېړنیزه او ادبي مجله

- د ستونزو د کابو کولو بریالۍ هڅې
- نبوي سیرت
- د اسلامي حکومت بهرني سیاست ته لنډه کتنه
- د اسلام د سیاسي نظام بڼه
- د قانون او تقنین اهمیت او ضرورت
- په اوسنیو شرایطو کې ملي یووالي ته اړتیا

۱۱۸ مه ګڼه

درېیمه دوره: ۱۴۴۴ هـ ق کال، رمضان المبارک - ذوالقعدة الحرام

د تأسیس کال ۱۳٦۱

د افغانستان اسلامي امارت
د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د جرگه مجلې آمريت


کتنپلاوی:

- ښاغلی مولوي محمد اسماعيل «غزنوي»
- ښاغلی مفتي شفيع الله «ثاقب»
- ښاغلی حمد الله «فطرت»
- ښاغلی اکاډميسين دوکتورسيد محي الدين «هاشمي»
- ښاغلی څېړنپوه دوکتور محمد شريف «ځدران»
- ښاغلی شفيع الله «محمدی»
- ښاغلی څېړنوال سيد نظيم «سيدي»
- ښاغلی څېړندوی وجيه الله «ظهير»
- ښاغلی شريف الله شرافت «وياړ»

کاري ډله:

مسوول مدير : عزت الله مينه ناک
مسوول سکرتر: محمد موسی«ستانکزی»
د تصحيح مديره: فوزيه «درماني»
خبرياله : فرحناز«نوابي»
ډيزاين : احمد «لاروی»



يادونه: اداره يوازې د سرمقالې مسؤليت لري.
د اړيکې شمېره: ۰۲۰۲۳۱۱۷۱۱
پته: د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت، کابل افغانستان


# په دې گڼه کې

عنوان | مخ


- سرمقاله ........................................................ ۱
- د وزارت خبرونه او راپورونه ................................ ۳
- نبوي سپرت ............................................... ۱۲
- د اسلامي حکومت بهرنی سیاست.................. ۱۷
- د اسلام د سیاسي نظام بنه.............................. ۲۳
- د کورنی دیني روزنه ، د چا مسؤلیت ...!؟ .......... ۳۰
- د قانون او تقنین اهمیت او ضرورت .............. ۳۱
- په اوسنیو شرایطو کې ملي یووالي ته اړتیا ....... ۳۸
- د ناوړه دودونو لاملونه او حل لارې .............. ۴۴
- ستاینه ( توصیف) .................................. ۴۹
- په افغانستان کې د کوچیتوب ډولونه ............ ۵۳
- د کلیله او دمنه پښتو ژباړې.......................... ۵۵
- د میرویس نیکه دیپلوماسي او د هیواد ازادي ... ۶۳

# د اسلام په تاریخ کې لومړۍ مبارزه یا تن په تن مقابله:

د بدر په غزا کې تر عمومي معرکې وړاندې لاس په لاس پهلوانۍ لپاره د قریشو درې تنه نامتو او غښتلي پهلوانان هر یوعتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه او ولید بن عتبه د لښکر مخې ته را ووتل او د مقابلې لپاره یې اعلان وکړ؛ د انصارو څو تنه ځوانان یې مقابلې ته ور ووتل ،خو قریشو یې له مقابلې څخه ډډه وکړه، ویل تاسې زموږ سیالان نه یاست؛ دوئ په لوړ غږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ناري کړې! موږ ته زموږ سیالان او تربوران را ولیږه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه و له ډلې پر حمزه بن عبدالمطلب، علي بن ابي طالب او عبیده بن حارث بن عبدالمطلب غږ وکړ چې د قریشو مقابلې ته دې ور ووځي. رضی الله عنهم

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو سیالان او خپل د تره زامن مقابلې ته ولېږل، نو سیدنا حمزه رضي الله عنه د شیبه بن ربیعه مقابلې ته ورغی او سمدستي یې په لومړي برید کې سر تري غوڅ کړ، علي کرم الله وجهه بیا ولید په لومړي گوزار و پر ځاوه او عبیده رضي الله عنه چې په ټولو کې په عمر مشر وو د عتبه مقابلې ته ورغی دوئ دواړو یو بل سخت سره ژوبل کړل چې په دې کې علي او حمزه رضي الله عنهما وروړسېدل، عتبه یې وواژه او عبیده رضي الله عنه یې د خپل لښکر پر لور یووړ.

زخمي یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته یووړ هغه پښه مبارکه ورته وغځوله او عبیده رضي الله عنه خپل سر ور باندې کېښود او ویې ویل: ایا زه شهید نه یم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: زه شاهدي ورکوم چې ته شهید یې.

له غزا وروسته چې کله فاتح لښکر د مدینې منورې پر لور روان وو عبیده رضي الله عنه مدینې ته نیږدې پر لاره په صفراء سیمه کې شهید شو.



# JIRGA MAGAZINE

APRIL – JUNE 2023

ښکلي نورستان ته سفر

«د افغانستان اسلامي امارت د ټول هېواد لپاره بنسټيزې اقتصادي
برنامې په پام کې لري، لکه څنګه چې مو شل کاله د اشغال په وړاندې
جهاد ته ملاتړلې وه اوس به په ګډه د هېواد ودانولو او د خلکو خدمت
ته ملاوې تړو تر څو مو هېواد آباد او په ځان بسیاینې ته ورسیږي.»

**«د الحاج ملا نورالله نوري له وينا څخه»**







WWW.Mobta.af
@Mobta.af

سرمقاله

# د ستونزو د کابو کولوبریالی هڅې

د اسلامي امارت د بریا د لومړنیو ورځو شپو پرمهال ستونزو ته په کتو، چې د افغانانو د شتمنی د کنګلېدو له امله را منځته شوې، په بانکي او سوداګریزو چارو یې منفي اغېزې وښندلې. داسې انګېرل کېده چې ستونزې به نورې هم زور واخلي او هېواد به له یو ډول بحراني حالت سره مخ شي چې په رښتیا هم د اندېښنې وړ وې، خو نن ګورو چې د امارت له خوا د چارو د ښه مدیریت له امله شته انګېرنې ناسمې ثابتې شوې، د چارو د بهبود کچه لوړه شوه، په هره برخه کې ښکاره پرمختګ اولاسته راوړنې لېدل کېږي، سلګونه انکشافي پروژې تطبیق شوې ، چې له امله یې زرګونه هېوادوالو ته د کار زمینه مساعده شوه او د دې لپاره هڅې روانې دي چې په هر ډګر کې عملي اقدامات ترسره او دا ډول لاسته راوړنې ولرو چې له امله یې دایمي اقتصادي ثبات رامنځته او ولس ته څه ناڅه اسانتیاوې برابرې او آرام ژوند ولري، دغه ډول نظام چې هغه د خپل هېواد په ټول قلمرو حاکم وي او په خپلواکه توګه د هېوادنیو چارو د ترسراوي تصمیم نیسي او د ټولنې په ګټه د مثبتو تحولاتو، بدلونونواو په هره برخه کې د پرمختګ هڅه کوي، هغوکړیو ته چې د دې هېواد په نا ارامۍ کې خپلې ګټې او موخې ترلاسه کولای شي د زغملو وړ نه وي، نو بیا د دا ډول واکمنیو پر وړاندې د ستونزو او خنډونو د جوړولو او پیدا کولو هڅې کوي او دلته امن ، سوکالي او پرمختګ او پیاوړی مرکزي نظام د ځان په زیان بولي .

اوس نوموړو افغانانو ته پکار ده چې په یو موټي توګه هیڅ بهرنۍ کړۍ ته په هېواد کې د ستونزو د جوړولو حق ورنه کړو،څکه چې یووالی، د نظام پایښت او پیاوړتیا، تامین شوی امنیت ،او کومې چارې چې نن پخپلو امکاناتو د افغان ولس د هوساینې لپاره په عملي ډګر کې روانې دي دا د دې هېواد او ولس په ګټه دي، نور نو موږ باید په خپلو ګټو پسې ولاړ شو او په هغو لارو د تګ تابیا ونیسوکوم چې له نیکمرغۍ ډکې وي ، د بسیا ینې لامل ګرځي او له احتیاجۍ مو ژغوري! نېکمرغي په دې کې ده چې ټول قومونه د یوې ګلدستې په څېر یو د بل ترڅنګ د دې ګډ او مشترک کور( افغانستان ) چې برخلیک مو ورسره تړلی دی او عزت موپکې خوندي

دی د ابـادۍ لپاره هر ډول مثبتې هڅې تـرسره کړو او  هـم  یې له پردیو لاسوهنو وساتو، لکـه څنګـه چـې عالیقـدر امیرالمؤمنیـن شـیخ الحدیـث مولـوي هبـة اللـه اخنـدزاده حفظـه اللـه د کوچنـي اخـتر پـه منـا سـبت پیغـام کـې څرګنـده کـړې ده چـې :» هېـواد مـو نـوی لـه جګـړو راوتلـی دی، رغونـې او آبـادۍ تـه شـدیده اړتیـا لـري، اوس نـو ټـول افغانـان هغـه کـه مسـؤلین دي او کـه غیرمسـؤلین دي؛ مکلفیـت لـرو چـې خپـل هېـواد آبـاد او پخپلـو پښـو ودروو، د افغانسـتان آبـادي د افغانانـو خپـل مسـؤلیت دی،بایـد نوروتـه امیـد  ونـه کـړو؛ بلکـې پـه خپـل همـت او خپلـو هڅـو دا هېـواد ابـاد اود ژونـد ټولـې ممکنـه آسـانتیاوې هېوادوالـو تـه برابـرې کـړو. په دې اړوند د هېواد ملي تجاران او سرمایه داران تر نورو ډېر مکلفیت لري ، اسلامي امـارت لـه دوی سره پـوره همـکاري کـوي ، سـهولتونه ورتـه امـاده کـوي، مرسـته ورسره کـوي او د ښـه او معیـاري خدمـت زمینـه ورتـه برابـروي. ان شـاء اللـه تعالـی«

نو د نورو ډېرو ښېګڼو ترڅنګ سراسري تآمین شوی امنیت غنیمت وګڼو او د تلپاتې کېدو په برخـه کـې یـې خپلـه همـکاري ونـه سـپموو. د هېـواد د دښـمنانو پـه تېر اېسـتونکو خـبرو او پروپا ګنـډو بـاور ونـه کـړو، ټـول پـه ګـډه د یـوې داسـې فضـا د را منځتـه کولـو پـه هڅـه کـې شـو چـې لـه باوره ډکه وي او هیڅ یو بهرنی عامل په دې ونه توانیږي چې ترمنځ مو بې باوري رامنځته کړي.

یوازینـی تمرکزبایـد پـه دې وي، چـې څنګـه کولای شـو د خپـل هېـواد لـه سـتراتېژیک موقعیـت، کاني زېرمـو او اوبـو څخـه د دې هېـواد د هوسـاینې او بسـیاینې لپـاره ګټـه واخلـو او څنګـه کـولای شـو وزګارتیـا راکابـو، سـتونزې تـر یـوه بریـده حـل او د بـې وزلـۍ کچـه را ټیټـه کـړو؟چـې همـدې تـه پـه پـام لـه خپلـو شـتمنیو نـه پـه اسـتفادې د اقتصـادي ثبـات د تامیـن لپـاره هڅـې روانـې دي تـر څـو خپـل ټاکلـی مسیر چـې هغـه پخپلـو پښـو درېـدل دي پداسـې توګـه تـرسره او را لنـډ کـړو چـې پایلـه یـې زمـوږ د هېـواد او ولـس پـه ګټـه ، لـه ګاونډیوهېوادونـو او نړیوالـو سره پـه اقتصـاد ي او ګڼـو نـورو برخـو کـې د ګټـورو اړیکـو د پراختیـا سـبب وګرځـي.



# د وزارت خبرونه او راپورونه

## د غربي نورستان لرې پرتې ولسوالۍ منډول ته سفر

شنبه/۱٦/ شوال المکرم/ ۱۴۴۳

د سرحدونو،قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري او ورسره مل پلاوي د غربي نورستان منډول ولسوالۍ ته د سفر په ترڅ کې د يادې ولسوالۍ له ولسونو، قومي مخورو او ديني عالمانو سره د يادې ولسوالۍ په مرکز کې وکتل .

په دغه کتنه کې د يادې ولسوالۍ د خلکو په استازولي څو تنو په خبروکې منډول ولسوالي يوه صعب العبوره ولسوالي ياده کړه، له حکومت څخه يې د يادې ولسوالۍ د لارې په رغولو ټينگار وکړ او د معارف، روغتيا، کرنې او مالدارۍ په برخو کې يې له حکومت څخه د پاملرنې او همکارۍ غوښتنه وکړه.

وروسته د ياد وزارت سرپرست ښاغلي نوري وويل: نورستان هغه ولايت دی چې تل يې د جهاد سنگرونه پخپلو وينو گرم ساتلي او د يرغلگرو په وړاندې يې قربانۍ ورکړې دي. نوموړي د خلکو له تود هرکلي څخه مننه وکړه او د دوئ د ستونزو اوريدل او حل ورته راپيدا کول يې خپله وجيبه ياده کړه.

د منډول ولسوالۍ له مرکز پارون ښار څخه د ليرې والي او خام سړک له کبله له گڼو خدمتونو څخه بې برخې پاتې شوې ده. د دغې ولسوالۍ اکثره وگړي په مالدارۍ او کرنې بوخت دي. دوی وايي: د سرحدونو قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير لومړنی لوړ رتبه کس دی چې زموږ پوښتنې ته راغلی دی او د خلکو غږ له نژدې اوري، دوی د ورغلي پلاوي له ورتگ څخه ډېره زياته خوښي څرگنده کړه او خپلې ستونزې يې له نژدې ورسره شريکې کړې.

## نورگرام ولسوالۍ ته سفر

يکشنبه/۱۷/شوال المکرم/ ۱۴۴۳

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير نورستان ولايت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د دغه ولايت په لويديځ کې د نورگرام ولسوالۍ له قومونو سره هم وکتل.

د دې کتنې پر مهال د ياد وزارت سرپرست الحاج ملا نورالله نوري، مل پلاوي،د ياد ولايت مرستيال والي مولوي فيصل مختار، د لېوا قومندان مولوي سعيدالله سعادت، د يادې ولسوالۍ ولسوال، مسؤلينو، د مختلفو درو څخه راغلو مشرانو گډون درلود.

د يادې ولسوالۍ مشرانو د سرپرست وزير په مشرۍ د ورغلي پلاوي تود هرکلی وکړ او خپلې سيمې ته يې د لوړ پوړي پلاوي په ورتگ خوښي وښوده. دوی وويل: موږ د افغانستان له اسلامي امارت سره د اشغال پر وړاندې د جهاد په صف کې اوږه په اوږه ولاړ وو او اوس يې هم په کلکه ملاتړ کوو. دوی په ياده ولسوالۍ کې

د مواصلاتي لارو د نه شتون، د روغتيايي خدمتونو نشتوالی او يو لړ نورې ستونزې يادې کړې او له حکومت څخه يې په دې برخه کې د پاملرنې غوښتنه وکړه.

وروسته سرپرست وزير ښاغلي نوري راغليو ولسونو ته په وينا کې وويل: د نورستان له ولسونو څخه موږ ډاډمن يو چې ټول يې د اسلامي امارت ملاتړ کړی او په خپلو سيمو کې يې د هر ډول تحرکاتو مخه نيولې ده، د نورستان ولايت د ولسواليو د لارو په شمول به ټولو هغو محرومو سيمو ته په ځانګړې توګه پاملرنه کېږي چې په تېر کې له پامه غورځول شوې وې، موږ به هڅه وکړو چې ستاسو غږ او غوښتنې تر کابينې ورسوو. اوس چې امنيت دی ټول خلک په خلاصه پښه او پوره ډاډمنتيا د هېواد بېلابېلو سيمو ته په سياحت وتلی شي، که چيرته د لارو ستونزې نه وې نورستان ته به د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه سيلانيان راځي. نوموړي همدا راز زياته کړه امارت د ټول هېواد لپاره بنسټيزې اقتصادي برنامې په پام کې لري، لکه څنګه چې مو شل کاله د اشغال په وړاندې جهاد ته ملاتړلې وه اوس به په ګډه د هېواد ودانولو او د خلکو خدمت ته ملاوې تړو تر څو مو هيواد آباد او په ځان بسياينې ته ورسيږي. هغه د خلکو د ستونزو په اړه زياته کړه: د ولس پوښتنه او د هغوی مشکلات اورېدل زموږ يوه ايماني وجيبه او راسپارل شوې دنده ده، زه دا ډاډ درکوم چې ستاسې غوښتنې به تر اړوندو ارګانونو پورې رسوم او د حل په برخه کې به يې پوره هڅه کوم.

## د نورستان ولايت دو آب ولسوالۍ له ولسونو سره ليدنه .

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري او ورسره مل پلاوي د خپل کاري سفر په ترڅ کې د نورستان ولايت دو آب ولسوالۍ له ولسونو سره ليدنه وکړه. په دغه کتنه کې د يادې ولسوالۍ مسؤلينو، قومي مشرانو، علماء کرامو او ځوانانو له سرپرست وزير او ورغلي پلاوي سره د خپلې سيمې اړوند غوښتنې او وړانديزونه شريک کړل.

سرپرست وزير ښاغلي نوري يادې ولسوالۍ خلکو ته په خبرو کې وويل: د نورستان ټول وګړي يووالي ته ژمن ولسونه دي، ټل يې په سختو حالاتو کې د افغانستان د اسلامي امارت ملاتړ کړی دی او ترڅنګ يې دربدلي دي. هغه ژمنه وکړه چې د دې سيمې ستونزې به د حل په موخه تر اړوندو ارګانونو رسوي او د حل غوښتنه به يې کوي.

## په زابل ولايت کې د نقشبنديه سيف الاسلام مدرسې حافظانو د فراغت مراسم ترسره شول

۲۹/شوال المکرم/ ۱۴۴۳

د زابل ولايت په شاجوی ولسوالي کې د چينو سيمې په نقشبنديه سيف الاسلام مدرسه کې د (۲۹) تنو قاريانو د فراغت مراسم ترسره شول، د يادو قاريانو له جملې څخه (۴) تنه نجونې او (۲۵) تنه يې هلکان وو په دغو مراسمو کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو سرپرست وزير الحاج ملا نورالله نوري، د زابل ولايت د مرافعې رئيس شيخ نقيب الله اخندزاده، د شاجوی ولسوالي د مرکزي فقهی مجلس رئيس شيخ رحمت الله اخندزاده د ځايي دولتي ادارو مسؤلينو، علماء کرامو او د سيمې سلګونه خلکو ګډون کړی وو په پيل کې څو تنو ديني عالمانو د تېر اشغال، خپلواکۍ او علم پر ارزښت مفصلې خبرې وکړې. دوی عالمان د نبي عليه السلام وارثان ياد کړل او په اخير کې يې فارغ شويو حافظانو ته د حاصل کړې فضيلت مبارکي وويله ور پسې د سرحدونو، قومونواوقبايلو چارو وزارت سرپرست ښاغلي نوري يادې ناستې ته په خپله وينا کې وويل: دلته شل کلنې قربانۍ د دې لپاره وې چې خپلواکي، اسلامي نظام، د افغانانو د عزت او ناموسو د ساتنې او د اعلاء د کلمة الله لپاره وې، هغه زياته کړه: دا د شکر ځای دی چې

د امنیت او اسلامي نظام تر سیوري لاندې په یوه پاړمنه فضاء کې د فراغت مراسم لمانځو، مخکې مو داسې مراسم بمبار کېدل او په ارامه مو نه شوای لمانځلی.

نوموړي همدا راز وویل: د افغانستان اسلامي امارت د هېواد له قومونو او ولس څخه را پورته شوی نظام دی شکر یې پر موږ او تاسې ټولو لازم دی، دا چې اوس امنیت تأمین دی د هېواد سیاحتي سیمو ته په زرګونو سیلانیان راځي. هغه له مسؤلینو څخه وغوښتل چې د ولس حقونو ته دې پاملرنه وکړي او له خلکو سره دې نېک چلند کوي په اخیر کې د یادې مدرسې سرپرست عتیق الرحمن شهاب د راغلیو میلمنو له ګډون او دا چې فارغ شویو حافظانو ته یې د مبارکۍ تر څنګ د عمل توفیق وغوښت مننه وکړه

## د شینکۍ ولسوالۍ له قومي مخورو سره د همغږۍ غونډه

١/ ذالقعدة الحرام/ ١۴۴۴

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست الحاج ملا نورالله نوري د زابل ولایت شینکۍ ولسوالۍ ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د شینکۍ، اتغر او سیوري ولسوالیو له قومي مشرانو سره وکتل.

د دغې کتنې پر مهال د یاد وزارت سرپرست ښاغلی نوري، د زابل مرستیال والي محب الله حماس، د زابل د علماء شورا غړی مولوي عبدالقدوس ، د یاد ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو رئیس عبدالکریم سحر، د شینکۍ ولسوالي امنیه قومندان نعمت الله شکیب، د شینکۍ ولسوال زبیرآغا، قومي سپین ږیرو او عالمانو حضور درلود.

د لیدنې په پیل کې د قومي سپین ږیرو په استازیتوب څو تنو پخپلوخبروکې د تېر اشغال ماته او د اسلامي نظام قائمېدل یې د قومونو د قربانیو او یووالي برکت وباله، دوی وویل: موږ د دې نظام تر څنګ ولاړ یو او په ټینګښت کې یې له هیڅ ډول همکارۍ څخه دریغ نه کوو او هر ډول قربانۍ ته تیار یو. دوی د هېواد امنیت، او یووالی بې ساري یاد کړل او له حکومت څخه یې د ځلورو ولسوالیو د سړک د رغولو او د لوی پل د جوړېدو غوښتنه یې وکړه . د ناستې په وروستیو کې ښاغلي نوري د خپل سفر هدف د یادو ولسونو پوښتنه او د دوی ستونزې اورېدل یاد کړ او ویې ویل: تاریخ مه هېروئ، افغانان په هر انقلاب کې اتلان لري، دا یو ډېر لوی تاریخ دی چې د شینکۍ، سیوري او اتغر خلکو لوی ملا صاحب رحمة الله ته په خپله غېږه کې ځای ورکړی و. هغه د اسلامي نظام ارزښت ته په اشاري سره وویل: د نظام په راتګ سره سیمه ییز اوقومي تعصبونه له منځه تللي او د افغانانو عفت، عزت او وقار خوندي دي. هغه همدا راز زیاته کړه: لکه څرنګه مو چې پرون جهاد یوه فریضه وه اوس مو د دې ولس ساتل، د دوی د ستونزو حل کول، دوی ته خدمت کول یوه فریضه ګڼلې ده، ښاغلي نوري د خلکو د ستونزو په اړه وویل: ستاسې ټولې ستونزې به موږ د حل په موخه تر لوړو مقاماتو رسوو



## پامیر زموږ د هېواد د حاکمیت یوه مهمه نقطه ده

یکشنبه/ذوالقعدة الحرام/۵۱/۳۴۴۱

د بدخشان ولایت واخان ولسوالۍ د کوچنې پامیرد خلکو په استازیتوب وزارت ته راغلیو مشرانو د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له سرپرست وزیر ملا نورالله نوري سره په کاري دفتر کې وکتل. په دغه لیدنه کې د مشرانو په استازیتوب مولوي عبدالحق او نورو خبرې وکړې، دوی د اسلامي امارت له هڅو، کوښښ او یادې سیمې ته له پاملرنې څخه مننه او له دې نظام سره یې په هره برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه. دوی د وزارت له مقام څخه په پامیر کې د روغتیایي خدمتونو او یو بل کلینیک د

جوړېدلو، سرکونو د رغولو، د ښوونځي او مخابراتي برخوکې د خدمتونو او لبنیاتو ته یې د بازار موندنې غوښتنه وکړه.

د وزارت سرپرست ښاغلي نوري راغلیو مشرانو ته تر ښه راغلاست وروسته وویل: موږ د خپل ولس ټولو وړاندیزونو ته ژمن یو، تېر کال مو چې د پامیر له سیمې څخه د لیدنې پر مهال کومې ستونزې واورېدلې هغه مو د حل په موخه له رئیس الوزراء سره شریکې کړې چې د ټولو اړوندو وزارتونو کاري ټیمونه د ستونزو د حل کولو لپاره لاس په کار شوي. هغه وویل: د پامیر سرک منظور شوی ، د ټیلیفون خاده هلته نقل شوې چې په دواړو برخو به په لنډ وخت کې کار پیل کړي، د پامیري مالدارانو لبنیاتو ته د بازار موندنې په اړه یې هم ډاډ ورکړ. نوموړي وویل: پامیر زموږ د هېواد یوه مهمه نقطه ده او حکومت به ورته په ټولو برخو کې پوره پاملرنه کوي.

مسلکي معین احمد طه قادري:

## «اطلاعاتي فعالیتونه د اداري د ژبې حیثیت لري او د هېواد په کچه یې ترجماني کوي.»

یکشنبه ۱ ذوالقعده الحرام ۱۴۴۴




د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت نوي مسلکي معین ښاغلي مولوي احمدطه قادري د یاد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست له رئیس اوکارکوونکو سره وکتل.

په دې کتنه کې ښاغلي مولوي احمد طه قادري پخپلو خبرو کې د اطلاعاتو اوعامه اړیکو ریاست یو ډېر مهم ریاست یاد کړ ویې ویل چې یاد ریاست د وزارت ژبه او د هېواد په کچه د وزارت ترجماني کوي ځکه چې دغه ریاست کولای شي په ډېره ښه توګه د وزارت کړنې اوفعالیتونه له ولس سره شریک کړي او وزارت ښه وځلوي چې تر اوسه پوري تاسې دغه ترجماني په ښه شکل ترسره کړې ده.

ښاغلي قادري د چارو تر سره کولو کې په همکارۍ اوهمغږۍ ټینګار وکړ، کارکوونکي یې خپلو مسؤلیتونوته ځیر کړل وې ویل: که هر څوک خپل مسؤلیتونه وپېژني کار به ډېر ښه پرمخ ولړ کېږي دغه راز یې په چارو کې د دوئ د بریا هیله وکړه.

وریسي د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس ښاغلي ملا حمدالله فطرت هم پخپلو خبرو کې د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د کار اوفعالیت په اړه لنډ معلومات وړاندې کړه د همکارۍ ډاډ یې ورکړ اود یاد ریاست یو لړ تخنیکي اړتیاوې یې د پوره کېدو په موخه شریکې کړې. چې په دې برخه کې هم ښاغلي مولوي احمدطه قادري د همکارۍ او اړتیا د پوره کولو ډاډ ورکړ

## د وزارت اړوند د تحقیق او مطالعاتو ریاست له کارکوونکو سره لیدنه

یکشنبه ۸ ذولقعده الحرام ۱۴۴۴

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي احمد طه قادري د خپل کار په دفتر کې د وزارت اړوند د تحقیق او مطالعاتو ریاست له یو شمیر کارکوونکو سره لیدنه تر سره کړه.

په دې لیدنه کې د تحقیق او مطالعاتو ریاست د څېړونکوو د بورډ امر ښاغلي سید الرحمن د یاد ریاست د فعالیتونو په اړه د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ خوښي څرګنده کړه چې د وزارت مشرتابه په تېر کال کې دوئ ته دا فرصت په اختیار کې ورکړ تر څو یې وکولای شول چې د هېواد د ۳۱ ولایتونو د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي وضعت بر سېره د سرحدي سیمو او ولسوالیو

په اړه ځیرنې تر سره او را غونډ شوي ټول ځیړنیز مواد د یاد ریاست په معلوماتی فرویایل کې خوندي کړي.

وریسې مسلکي مرستیال ښاغلي قادري د تحقیق او مطالعاتو ریاست له کارکوونکو سره په خپلو خبرو کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت یې دټولو قومونو ګډ کور یاد کړ زیاته یې کړ چې د هېواد د خلکو د فرهنګ، دود، دستور او ژبو په اړه څېړنه او پلټنه د وزارت د کاري لید لوري په لومړیتوبو کې ځای لري او تاسو مسؤلیت لری چې په پوره غور په یادو برخو کې معلومات را ټول تر څو د استفادې وړ وګرځې نوموړي دغه راز د یاد ریاست په تر سره شویو کاري کړنو خوښي څرګنده او له کارکوونکو څخه یې وغوښتل چې ورسپارل شوي ټول مسولیتونه دې په پوره صداقت او امانت داری ترسره کړي.

دغه راز د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت مسلکي معین ښاغلي مولوي احمدطه قادري د ۱٤٤٤ ه ق کال د ذوالقعدة الحرام پر ۲نېټه د پلان او پالیسی ریاست له رئیس او کارکوونکو سره وکتل. په پیل کې د یاد ریاست رئیس مولوي نیک محمد افغاني د همدغه ریاست د کړنلارې، پلانونو، تر لاس لاندې او بشپړو شویو پروژو او نورو اړوند فعالیتونویه اړه لنډ معلومات وړاندې کړل، ویې ویل: دغه ریاست د مسلکي کسانو په لرلو سره د وزارت د پلانونو او پالیسیو د پر وخت پلي کولو لپاره هڅه کوي او له نورو ادارو سره په همغږۍ د وزارت ودانیزې او ترمیماتي چارې مخ ته وړي.

مسلکي معین ښاغلي قادري د یاد ریاست د تېرو لاسته راوړنو ستاینه وکړه. پر وخت او همغږي توګه یې د چارو په پر مخ بیولو ټینګار وکړ اود همکارۍ ډاډ یې ورکړ

**«په دیني اوعصري زده کړو د نویو ځوانانوسمبالول په اصل کې د اسلامي نظام د بقا اواستمرار لپاره کار کول دي»**

د سرحدونو،قومونواوقبایلو چارووزارت مسلکي معین ښاغلي مولوي احمد طه قادري له اړوند ریاستونوسره د لیدنو کتنوپه لړ کې د ۴۴۴۱ کال د ذوالقعدة الحرام پر۲۱نېټه د ښوونې اوروزنې ریاست له رئیس اوکارکونکوسره وکتل.

په یاده کتنه کې ښاغلي مولوي احمد طه قادري پخپلو خبرو کې پروخت د مسؤلیتونو په ترسره کېدو ټینګارکړویې ویل: لکه څنګه چې خلفای راشیدینو د اسلامي خلافتونو د بقا اواستمرار لپاره خپل مسؤلیتونه په صداقت تر سره کول موږ ته هم بویه چې د اسلامي نظام د استمرار اوبقا لپاره خپل مسؤلیتونه هېر نه کړو اوښه په غور یې ترسره کړو،خپل ځوانان په دیني اوعصري زده کړو سمبال کړو، تر څویه یوه سپېڅلې روحیه د هېواد اوو ولس د خدمت جوګه شي.

ښاغلي قادري د ښوونې اوروزنې د رئیس ښاغلي عبدارحمن حقاني او د لیسو د امرینو د وړاندیزونو اوغوښتنو په اړه له دوی سره ژمنه وکړه چې د وزارت له مشرتابه سره به یې د حل په موخه شریکوي .

## د رحمن بابا عالي لیسې له ښوونکو او زده کوونکو سره کتنه

دوشنبه ۹ ذوالقعدة الحرام ٤٤٤١

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د اداري مجلس د پرېکړې پر اساس د وزارت اړوند تعلیمي مرکزونو کې د اخلاقي او سالم ښوونیز چاپېریال د رامنځته کولو په موخه د دعوت او ارشاد رئیس ښاغلي مفتي شفیع الله ثاقب په مشرۍ مؤظفې کمېټې د رحمن بابا لیسې له ښووونکو او زده کوونکو سره د یوې غونډې په ترځ کې وکتل. یاده کتنه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت

پیل شوه. وریسې د مؤظفې کمېټې مشر ښاغلي مفتي شفیع الله ثاقب د اسلامي ثقافت په رڼا کې د ښوونې او روزنې پر ارزښت خبرې وکړې او ویې ویل: ستاسې د زده کړې او پوهې د تر لاسه کولو هدف باید هېواد، ولس او خپلو ارزښتونو ته خدمت کول وي. ښاغلي ثاقب دغه راز زده کوونکو ته د دنیوي او اخروي ژوند په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او ټول مسلمه امت ته یې د ښېرازۍ دعا وکړه.

د وزارت د داخلي تفتیش رئیس ښاغلي مولوي نیاز محمد تقي وویل په اړوندو لېسو کې د مثبتو بدلونونو له کبله د زده کوونکو ستونزې حل شوې دي او کومې ستونزې چې شتون لري ان شاء الله ډېر ژر به ورته د حل لارې چارې پیدا کړو نوموړي همدا راز له ښوونکو څخه مننه وکړه چې د یادې لېسې د زدکوونکو په روزنه کې زیار باسي او دغه راز یې زده کوونکي خپلو زده کړو ته د پاملرنې لپاره وهڅول. د کمېټې مشر او غړو له ښوونکو سره په ځانګړې غونډه کې د دوی وړاندیزونه او غوښتنې واورېدې او د وزارت له مقام سره یې د حل په موخه د شریکولو ژمنه وکړه. یاده کتنه د ښوونې او روزنې د رئیس ښاغلي مولوي عبدالرحمن رحماني په دعاء پای ته ورسېده.

## د TLO مؤسسې سره په بېلابېلو برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

سه شنبه/۱۴۴۴/۱۱/۳

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت او د اړیکو دفتر مؤسسې یا (TLO) تر منځ د عامه پوهاوي غونډود جوړولو، شخړو د هوارې او د ولسي خلکو د ستونزو د تشخیص په برخه کې د دوه اړخیزو همکاریو په موخه هوکړه لیک لاسلیک شو.

د دغې ناستې پر مهال د یاد وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ملا عبدالخالق عابد، مسلکي معین مولوي احمد طه قادري، د وزارت یوشمېر رئیسانو او د اړیکو د دفتر مرستیال عبدالرحیم خُرم او مل پلاوي حضور درلود. په پیل کې د هوکړه لیک متن تولو ګډونوالو ته واورول شو او وروسته د یادې مؤسسې مرستیال ښاغلي خُرم د دې هوکړه لیک موخه د یاد وزارت له پالیسیو سره سم د ولس او قومونو سره نږدې والی او د هغوی ستونزې حل کول یاد کړل. هغه وویل: د اړیکو دفتر یو غیر دولتي بنسټ دی چې د ولس او حکومت تر منځ د ښو اړیکو را منځته کولو، د قومي شخړو حل، په ولایتونو کې د همغږۍ غونډو جوړولو، د مرکچې قومي سپین ږیرو د ظرفیت لوړونې او نورو برخو کې کار کوي او له تاسو سره به په اړوندو برخو کې په مرکز او ولایتونو کې خپل کارونه مخ ته وړي. وریسې د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین ښاغلي عابد راغلي پلاوي ته هرکلی وکړ او ویې ویل: دا چې په هېواد کې اسلامي نظام قائم دی، نو خلک د یووالي په تغر ناست او د ټولو مېشتو قومونو حقوق خوندي دي. هغه زیاته کړه: دا هیواد د ټولو ګډ کور دی او د خدمت لپاره به یې ټول په ګډه کار کوو. نوموړي د هوکړه لیک مادو ته په اشارې سره وویل: زموږ او تاسې موخه ټول ولس او خلکو ته خدمت کول او دوی ته اسانتیاوې برابرول دي خدای (ج) دې وکړې چې دا کار په ګډه په ښه ډول سره مخ ته یوسو. په پای کې مسلکي معین ښاغلي قادري راغلي پلاوي ته ډاډ ورکړ او ویې ویل: د افغانستان د اسلامي امارت ټولې اداري او مسؤلین د اسلامي امارت مشرتابه اطاعت ته ژمن دي، زه تاسې ته ډاډ درکوم چې د هېواد په هره برخه کې به ستاسې کړنې په ښه ډول مخ ته ځي او حکومت به مو همکاري کوي. غونډه د هوکړه لیک په لاسلیکولو سره پای ته ورسېده..

# د سرحدونو،قومونواو قبایلو چارو وزارت د بشپړو شویو فعالیتونو راپور

(۱۴۰۱ لمریزکال)

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په یاد کال کې ( ٦٣) ځانګړي فعالیتونه پلان کړي و،چې له ډلې یې (۴۸) فعالیتونه بشپړ ،(۱۰) فعالیتونه د اجراء په حال کې دي، (۳) ځنډېدلي او دوه یې په ناپیل حالت کې پاتې دي، چې په دې راپورکې د بشپړوشویو فعالیتونوپه اړه لنډ معلومات د جرګه مجلې له لوستونکو سره شریکوو.

د وزارت د پلانونو او تخنیکي اسنادو د جوړولو، له پلي کېدو څخه یې د څارنې ،راپور اخیستنې او پروژو د مدیریت په برخه کې.- د وزارت له یوې پرمختیایي پروژې څخه څارنه او ارزونه شوې ده.

د وزارت د اداري ودانۍ ، درې ګونولېسواومیلمستونونو(۷) پروژو و دانیز او تخنیکي متفرقه براوردونه ترسره شوي دي.

- د ۱۴۰۲ لمریز کال لپاره ساختماني پلان او مالي فورمې جوړې او د مالیې ، اقتصاد، ځمکو او ښار جوړونې وزارتونو او مرکزي احصائیې ته استول شوي دي.
- د وزارت له ۹ مرکزي ځانګو څخه اقتصادي او ګرافیکي احصائیې را غونډې شوي دي او د احصائیې او مالوماتو اداري له خوا راستول شوې اقتصادي احصائیوي فورمې ډکې او بېرته ور استول شوي دي.
- د وزارت اړوندو ټولو تخنیکي اسنادو ته د شرعي او اداري اصولو په رڼا کې بیا کتنه شوې ده چې د پلي کېدو په موخه اړوند ځانګو ته استول شوي دي.
- د کوچیانو لپاره د ټولنیزو او اقتصادي خدمتونو د پراختیا پالیسي ارزول شوې ده او د لا بډاینې لپاره یې نظرونه اخیستل شوي دي.
- د وزارت لپاره ډیټا سنټر پالیسي جوړه شوې ده.
- د وزارت د اړوند ځانګو لپاره د اړتیا وړ تخنیکي اسناد په ګوته او د راتلونکي ۱۴۰۲ کال په پلان کې یې په اړه اجراآت په پام کې نیول شوي دي.
- له اړوند ځانګو څخه جغرافیایي او سرحدي معلومات راټول او د ( GIS) په (Geodatabase) کې ځای پر ځای شوې دي.
- اسنادو او معلوماتو ته د اسانه لاسرسي لپاره د پلان اوپالېسۍ ریاست لپاره ( MIS) سیستم د ( WEB based ) په توګه جوړ شوی دی.
- د افغانستان د اسلامي امارت د موخو د پلي کولو په منظور د وزارت له پالېسۍ سره سم وزارت د زرګونه دیني عالمانو، قومي مشرانو او مخورو په ګډون په کابل، پروان، پنجشېر، کاپیسا، لغمان، کنړ، نورستان، ننګرهار، لوګر، پکتیا، خوست، پکتیکا، میدان وردګ،غزني ، زابل، ارزګان، کندهار، هلمند، نیمروز، فراه، هرات،غور، بادغیس، دایکندي،بامیان، بغلان، سمنګان، بلخ، جوزجان، فاریاب، سرپل، کندز، تخار او بدخشان ولایتونوکې ۳۴ جرګې جوړې کړې دي چې له لارې ګډون وال او د هغوی له لارې ولس همغږۍ اویووالي ته رابلل شوی، ستونزې اوغوښتنې یې اورېدل شوېدي. یاده دې وي چې وزارت او په ولایتونو کې یې دویمو واحدونو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د قومونو او یوشمېر کورنیو ترمنځ د

ځمکو اونورو موضوعاتو پرسر سلګونه لويې او وړې شخړې حل کړې دي چې له ډلې يې په تخار ولايت خواجه بها الدين ولسوالۍ مهاجرقچلاق کلي کې د قومونو تر منځ د کرنيزو ځمکو او کورونو پرسر شخړه، نورستان ولايت کې د ۹۱ کلونوشخړه چې تر ۳۰۰ کسان پکې وژل شوي او لسګونه کلي پکې سوځېدلي و، په فراه ولايت کې درې شخړې ، کاپيسا ولايت کې د يوې لويې شخړې حل ،د بېلګې په توګه يادولی شو چې تاريخي مخينه يې لسګونوکلونوته رسېدله او له امله يې سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله هم اوښتې وه. چې په دوستۍ بدلې شوې ، دغه راز د وزارت اړوند دويمو واحدونو هم تر بېلابېلو سرليکونو په ځانګړې توګه د ( قومونو ترمنځ د يووالي او همغږۍ ) تر عنوان لاندې غونډې او جرګې جوړې کړې دي.

- قبايلي کارګرو او محصلينو ته ۵۰۰ پېژند کارتونه وېشل شوي دي.

- د هېواد له ۳۴ ولايتونو ۲۰۰ علماء اوروحانيون د دوی د لا ښه انسجام په موخه ثبت شوي دي .

- د هېواد د سرحدي، سياسي،ټولنيزاواکلتوري ارزښتونو د خونديتوب په موخه د نورستان، سمنګان، پنجشېر،کاپيسا، دايکندي اوکندهارولايتونو مالوماتي پروفايلونه ترتيب شوي دي.

- د جيوديزي اوکارتوګرافي نورمونو او اصولو سره سم د نورستان، سمنګان، پنجشېر، کاپيسا او دايکندي ولايتونو اړوند ولسواليو (۱۵ ) نقشې ترسيم شوي دي.

- د بدخشان، تخار، کندز، بلخ ، جوزجان او فارياب ولايتونو کې د افغانستان د شمالي پولو، د اسلامي نظام په استحکام کې د علماوو د ونډې، د اسلام د مقدس دين په رڼا کې د ښځو حقوق او د افغانستان د سرحدي ولايتونو د ځنګلونو په اړه څېړنې ترسره شوې دي.

- د وزارت اړوند کتابتون د بډاينې لپاره ۳۰۰ټوکه کتابونه پېرودل او را ټول شوي دي.

- د لرېو سرحدي پرتو سيمو ، ډيورند فرضي کرښې ته څېرمه قبايلي سيمو ځوانانو ته په ليليه توګه د زده کړو زمينو د برابرولو په منظور پلازمېنه کابل کې د خوشحال خان ، رحمان بابا او پيرمحمد کاکړ، کندهار کې د غازي عبدالله خان اڅکزي، خوست کې د قبايلو ليسې، ننګرهار کې د پښتونستان او د عبدالقادر کوچي ليسو، غزني کې د وکيل محمد جان کوچي ، هرات کې د کوچيانو نمونوي ليسې ته د شته زده کوونکو په شمول ۳۰۰۰ زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.

- له يادو ليسو څخه فارغ شوي ۳۰ ځوانان د يوې ځانګړې ازموينې له لارې د وزارت اړوند بايزيد روښان انستيتوت ته جذب شوي دي.

- کوچيانو ته د سواد زده کړې کورسونو د جوړولو او د جذب په اړه يې له پوهنې وزارت سره همغږي رامنځته شوې ده، چې په دې برخه کې (۱۰۰) برنامې جوړې شوې دي.

- له لوړو زده کړو وزارت سره د ترسره شوي ترون له مخې د دولسم ټولګي فارغ ۲۵۲ قبايلي زده کوونکو ته د اسنادو د طی مراحل کولو وروسته د هېواد د لوړو زده کړو په پوهنتونونو کې د زده کړو زمينه برابره شوې ده.

- د وزارت د کړنو او فعاليتونو د انعکاس ، پر وخت له خلکو سره د مالوماتو شريکولو، فرهنګي بډاينې او سيمه اييزو ژبو د ودې او پياوړتيا په منظور په پښتو

ژبه ۸۰۰۰ ټوکه (جرګه) مجله او په دوو ملي او اته محلي ژبو ۶۰۰۰ټوکه د (هموطن) په نوم مجله چاپ او په وړيا توګه د هېواد مرکز کابل او ولايتونو کې وېشل شوې ده.

ـ د وزارت د رسمي ويب پاڼې او فيسبوک له لارې ۳۶۰ خبرونه، راپورونه، مطبوعاتي خبرتياوې د کارموندنې او قراردادونو اعلانونه خپاره شوي دي.

ـ مذهبي او ملي ورځې د غونډو په ترڅ کې لمانځل شوې دي چې وينا والو يې د ارزښت په اړه له ګډون والو سره معلومات شريک کړي دي.

ـ د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا په موخه د سرحدونو او ډيورنډ له فرضي کرښې څخه د څار او بررسۍ په برخه کې د پکتيا ولايت په وړممې او تروې ولسواليو کې چې د فرضي کرښې په اوږدو کې موقعيت لري د سرغړونو او ناقانونه لارو د مالومولو په موخه ۱۸۳ ,۹۷۶ کيلو متره ، د بلخ ولايت په شورتپه او کلدار ولسواليو، د جوزجان ولايت قرقين او خواجه دوکوه ولسواليو، د کندز ولايت قلعه ذال ا ودشت ارچي ولسواليو او د بدخشان ولايت په اشکاشم او واخان ولسواليو کې له ګاونډيو هېوادونو سره د ګډې پولې په اوږدو کې ۳۲۹,۷۲۵کيلو مترسرحدونه د سرحدي نښو ، د تګ راتګ د ناقانونه لارو او سرغړونو د کشف په موخه بررسي شوي دي.

ـ د افغانستان د اسلامي امارت د لوړ مقام د حکم پر اساس د سرحدونو د څېړنې د عالي کميسيون په چوکاټ کې له ايران ، ترکمنستان ، ازبکستان ، تاجکستان او چين هېوادونو سره د سرحدي نښو نښانو د مدرنيزاسيون طرحه پلې شوې ده.

ـ د کوچيانو لپاره د اسکان او انسجام خدمتونو د وړاندې کولو په موخه له هغو ۲۹ ولايتونو څخه چې د کوچيانو شارګوټو لپاره پکې ځمکې په نښه شوې دي دمتحدالمال مکتوب پر اساس مالومات غوښتل شوي دي، په ۳۰ ولايتونو کې رسمي سرخېلان ټاکل شوي دي،

د سرپل ، زابل ، فارياب، ارزګان، باميان ، سمنګان، جوزجان،بدخشان، بادغيس او پروان ولايتونو د سرخېلانو اسناد په کمپيوټري سيستم برابر شوي دي ،د ۱۰۰۰ مالداره کورنيو ځارويو ته يې د اړوند ادارو په همکارۍ خوراکي توکي وېشل شوي دي،د کابل ولايت اړوند ۱۴ ولسواليو ته د کوچيانو ستونزو د راټولولو او حل په غرض سفرونه ترسره شوي دي ، ۹ ولايتونو کې د کوچيانو ځارويو ته د وترنري خدمتونوله وړاندې کولو، واکسين تطبيقولو او چينجيو ضد درملو د ورکړې له بهير او په ولايتونو کې له ۱۰ ګرځنده او ثابتو کلنيکونوځارنه شوې ده، ۵۷۰ کوچي سرخېلانو ته وترنرۍ او روغتيايي برخو کې سيمينارونه او ورکشاپونه جوړ او د شورا ګانو په همکارۍ يې ستونزې حل شوي دي، د کوچيانو ستونزې له اړوند ادارو سره د حل په موخه شريکې شوې دي، له بېوزلو کورنيوسره يې د بشري مرستو په موخه له مرستندويه او همکارو ادارو سره همغږي رامنځته شوې ده.

دا و د وزارت د بشپړشويوفعاليتونو په اړه لنډ معلومات چې وړاندې شول.



# نبوي سيرت

مولوي عبدالسلام طارق

**(شپږمه برخه)**

**« د حبشې له پادشاه نه د قريشو غوښتنه »**

د مکې کفارو چې وليدل ، چې د مکې خلک مسلمانيږي ، د حبشې په لور هجرت کوي او هلته په آرام سره ژوند تېروي، نو له هغوی سره وېره پيدا شوه، چې په دې ډول امکان لري چې زموږ لوی ځواک په تدريج سره مسلمان شي او په کوم بل هېواد کې ځای پر ځای شي او پر موږ له بهر نه کوم آفت را نازل شي، په دې خاطر هغوی مکه کې پر آنحضرت صلی الله عليه وسلم او د هغوی پر ملګرو ظلمونه نور هم زيات کړل، د عمرو بن العاص او عبدالله بن ربيعه په څېر درانه سړي يې د سفيرانو په توګه د حبشې پادشاه (نجاشي) ته ولېږل د مکې د قريشو او د حبشې د نجاشې پادشاه تر منځ له پخوا نه يو تجارتي تړون موجود وو او د دې تړون له مخې قريشو او حبشو پخپلو منځو کې د سوداګرۍ اړيکې لرلې، د غو دواړو سفيرانو ته د قريشو له خوا ډېرې ارزښتناکې ډالۍ، د حبشې د پادشاه او درباريانو له پاره ورکړل شوې ، د قريشو دغه جرګې د نجاشي په دربار کې له حاضرېدو سره سوغاتونه وړاندې کړل او د درباريانو پام يې د ځان په لوري را واړاوه ، اوبيا يې دا غوښتنه وړاندې کړه ، چې زموږ څو تنه غلامان باغيان شوي او ستاسې هېواد ته راغلي دي او خپل پلرنی دين يې پرېښی، يو نوی دين يې منلی دی، چې تر ټولو نوی حيرانوونکی دين دی، نو په دې خاطر دې د غه غلامان موږ ته را وسپارل شي ، پادشاه چې غوښتنه واورېده وي ويل: زه به لومړی څېړنه وکړم ، بيا به ستاسې پر غوښتنه غور کيږي، د نجاشي درباريانو هم د قريشو د سفيرانو تائيد وکړ، خو نجاشي مهاجر مسلمانان يې خپل دربار ته راوغوښتل او ورته وي ويل: هغه کوم مذهب دی چې تاسې غوره کړی دی، د مسلمانانو له لوري نه لومړی حضرت جعفربن ابي طالب رامخې ته شو او د نجاشي په مخکې يې خپله وينا داسې پيل کړله ، اې پادشاه! موږ ناپوهه وو، بت پرستان وو، مردار خواره وو، بد کاره وو، له ګاونډيانو سره مو بې رحمي او بد سلوک کاوه، په موږ کې چې څوک ځواکمن و، هغه به د کمزوري

حق لاندې کاوه ، آن تر دې چې الله پاک جل جلاله مونږ ته رسول را ولېږه، چې له حسب نسب ، صداقت او امانت نه يې مونږ ټول خبر وو، هغه مونږ موحدين کړو او له بت پرستۍ نه يې منع کړو، د رښتيا ويلو ، امانتدارۍ او صله رحمۍ حکم يې راته وکړ، له ګاونډيانو سره د ښه سلوک ښوونه يې راته وکړه ، له بد کارۍ ، دروغ ويلو او د يتيمانو له مال خوړلو نه يې منع کړو، له لوټ مارۍ نه يې وساتلو او د الهي بنده ګۍ حکم يې راته وکړ، مونږ پر هغه رسول ايمان راوړ او د هغه فرمان مو ومانه، په دې خاطر زمونږ قوم له مونږ نه خفه شو، مونږ ته يې ډول ډول تکليفونه را ورسول ، تر دې چې مجبور شو له خپل وطن راوځو او ستاسې په هېواد کې پناه واخلو، مونږ باور لرو چې ستاسې په هېواد کې به مونږ نه ځورول کيږو، نجاشي چې دغه خبرې واورېدې ، وې ويل : چې ستاسې پر رسول اکرم صلی الله عليه وسلم چې د الله جل جلاله کوم کلام نازل شوی دی له هغه نه يو څه راته واوروه ، حضرت جعفر (رض) د سورة مريم تلاوت پيل کړ، د قرآنکريم آيتونو له اورېدو سره د نجاشي او درباريانو له ستر ګو اوښکې روانې شوې ،کله چې حضرت جعفر (رض) د سورة مريم لومړني آيتونه تلاوت کړل ، نو نجاشي وويل: په دې کلام کې هماغه رنګ دی چې د حضرت موسی عليه السلام په تورات کې دی دا دواړه يو شان کلام ښکاري ، د قريشو استازو وويل: دوی د حضرت عيسی عليه السلام هم مخالفت کوي ، له دې خبرې نه د هغوی داهدف و، چې د حبشو نجاشي پادشاه چې عيسوی و، له مسلمانانو څخه به ناراضه شي ، حضرت جعفر(رض) وويل: نه هيڅکله، نه هو عبدالله ورسوله وکلمته القاها الی مريم وروح منه نجاشي وويل: ستاسې دا عقيده بيخي صحيح ده ، د انجيل مفهوم هم همدا دی ، نجاشي د قريشو قاصدان بېرته ناکام وليږل ، او ورته ويې ويل چې زه به دغه خلک هيڅکله تاسې ته ونه سپارم او ورسره يې ټولې ډالۍ او سوغاتونه هم بېرته ورکړل ، چې په دې سره هغوی نور هم سپک شول ، دا د نبوت د شپږم کال پېښه ده ، قريش چې کله د نجاشي په دربار کې هم ناکام شول ، نو دښمني يې له مسلمانانو سره نوره هم زياته شوه.

**« د حضرت حمزة (رض) اسلام منل »** د مکې قريش په نبوي دښمنۍ کې د ليونتوب حالت ته رسيدلي وو، يوه ورځ حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د صفا پر غره او يا يې په لمن کې ناست وو، چې ابوجهل له کوم لوري راغی، هغه چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم وليده ، لومړی يې ډېرې ستغې سپورې وويلې ، پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم چې کله د هغه د چټياتو ځواب ورنکړ، نو هغه يې په ډبره وويشت ، له ډبرې سره هغه ټپي (زخمي) شو او وينې ترې روانې شوې، هغه غلی خپل کورته راغی، ابوجهل د کعبې غولي ته راغی او د خلکو په يوه غونډه کې، چې پخپلو منځو کې يې خبرې کولې کيناست ، حضرت حمزة بن عبدالمطلب(رض) د حضورصلی الله عليه وسلم تره و. له هغه سره يې ډېره مينه وه، خو تر اوسه لا په شرک کې پاتې وو او له مشرکانو سره په حالاتو کې شريک و، د هغه عادت و چې سهار به يې غشی او لينده واخيسته ، د ځنګل په لوري به ووت ، ټوله ورځ به په ښکار کولو کې مشغول و، ماښام به چې بېرته

راغی، لومړی به یې د کعبې طواف کاوه ، بیا به له معمول سره سم خپل کورته راغی، نو په لار کې یې د ابوجهل وینزه ولیده ، هغې ورته د ابوجهل له لوري آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته ښکنځلې کول، په ډېره ویشتل او د هغه له شکر او صبر سره چې اوسېدل بیان کړل، حضرت حمزة (رض) د پیغمبرصلی الله علیه وسلم له تره ولی سره سره رضاعي وروره م و، د وینې او شیدوجوش هغه له ځانه بې ځانه کړ، هغه لومړی کعبې ته ولاړ، له طواف نه چې فارغ شو، نو سمدلاسه د هغې غونډې په لور ورغی چې ابوجهل په کې ناست او خبرې یې کولې ، حضرت حمزة (رض) ډېر پهلوان جنګیالی او د عربو په مشهورو توریالیو کې شمېرل کېده ، غونډې ته له رسېدو سره یې د ابوجهل پر سر په زوره د لیندي (کمان) واروکړ، چې سر یې ټپي شو او وینې ترې روانې شوې، بیا یې وویل چې زه هم د محمد صلی الله علیه وسلم پر دین یم او هماغه څه وایم چې هغه یې وایي ، که په تا کې څه همت وي، نو اوس یې زما په مخکې ووایه، د ابوجهل ملګري په قهر شول او د هغه ملا تړ ته راپاڅېدل، خو ابوجهل د حضرت حمزة (رض) له زړور توب او بهادری نه دومره متأثر وو، چې پخپله یې خپلو ملګرو ته وویل او منع یې کړل، چې په رښتیا سره زما له خوا زیاتی شوی و، که حمزة له مانه د خپل وراره بدله اخیستې نه وای، نو بې غیرته به ګڼل کېده ، زیاتره داسې ویل کیږي ، چې ابوجهل د حمزة (رض) د خبرو په اورېدو په دې اند یېښنه کې شو، هسې نه چې دی د خپل قهر او غوسې له امله مسلمان شي او په همدې خاطر یې داسې خبره حضرت حمزة (رض) ته واوروله ، چې خبره همدلته ختمه شي او حمزة (رض) د اسلام په لور متوجه نه شي ،حضرت حمزة (رض) له ابوجهل نه د بدلې اخیستو وروسته پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته وې ویل: چې که ته یې واورې، خوشحاله به شې ، چې ماله ابوجهل نه ستا بدله واخیسته ، آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کاکا زه په داسې خبرو نه خوشحالیږم ، هو که ته مسلمان شې نو زه به زیات خوشحاله شم ، د دې خبرې په اورېدو سره حضرت حمزة (رض) هماغه وخت اسلام ومانه ، د حضرت حمزة (رض) له مسلمانېدو سره مصیبت ځپلیو مسلمانانو ته ډېره ګټه ورسېده دا د نبوت د شپږم کال پېښه ده ، په دې وخت کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دارارقم کې وو، قریش د آنحضرت صلی الله علیه وسلم شان کې ډېر ګستاخ او بې باکه شوي وو، اوس د حضرت حمزة (رض) اسلام منلو هغوی یو څه محتاط او مؤدب کړل او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په شان کې به یې په پوچو الفاظو ویلو کې یو څه فکر کاوه.

**« د حضرت عمرفاروق (رض) اسلام منل »** د حضرت حمزة (رض) د مسلمانېدو د خبر په اورېدو سره د قریشو وار خطایي، دښمني او کینه نوره هم زیاته شوه او پخپلو منځو کې یې په مشورو کولو پیل وکړ، حضرت عمر (رض) د حضرت حمزة (رض) په څېر د عربو مشهور میړنی او پهلوان وو، او آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته په تکلیف رسولو کې یې ښکاره برخه اخیسته ، هغه به مسلمانان راوستل او په وهلو وهلو به یې ستړی کېده، دمه به یې کوله او بیا به یې وهل ، لنډه دا چې هغه حضرت عمر (رض)

د مسلمانانو په مرتد کولو کې بې اندازې کوښښونه وکړل، خو ناکام شول، اخریوه ورځ یې د کفارو په غونډه کې پریکړه او وعده وکړه، چې زه به یوازې پر قریشو د نازلې شوې فتنې جرړې اوباسم یعنې د دې فتنې د باني محمد صلی الله علیه وسلم کار پای ته رسوم. ابوجهل چې واورېدل وې ویل: که تا دا کار وکړ، نو زه به سل اوښان او زر اوقیې سپین زر در کړم، په دې ډول حضرت عمر (رض) په وسله سمبال توره په لاس د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په لټه کې ووت، په لاره کې ترې په مشهور روایت نعیم بن عبدالله (رض) پوښتنه وکړه، چې عمره په دې ډول چېرته روان یې هغه وویل د محمد صلی الله علیه وسلم په وژلو پسې روان یم، ځکه زما اراده ده، چې نن به د قریشو شل ګونه تدبیرونه آسانه کوم، حضرت نعیم (رض) ورته وویل: چې ته د بنو هاشمو له انتقامه نه وېرېږې. حضرت عمر (رض) وویل: تر څو پورې چې زما په لاس کې توره وي، زما له هیچا نه وېره نشته، بیا یې نعیم (رض) ته وویل چې ته هم د هغوی ملاتړ کوې، راشه، چې لومړی ستا کار سر ته ورسوم، حضرت نعیم(رض) ورته وویل: چې ته ما او محمد صلی الله علیه وسلم وروسته ووژنه، لومړی د خپل کور خبر واخله، چې ستا خور مسلمانه شوې او اسلام ستا کور ته داخل شوی دی، حضرت عمر (رض) چې دا له تیغه تېره ځواب واورېد، دستي د خپلې خور د کور په لور روان شو، هغه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وژلو په نیت وتلی وو، په لار کې د هغه د خپلې خور د کور په لور ګرځېدل، د هغه د اسلام په لور ګرځېدل وو، د خور کور ته ورسید، هلته حضرت خباب بن الارث (رض) د حضرت عمر (رض) خور فاطمې رضی الله عنها او د هغې څښتن حضرت سعید بن زید (رض) ته د قرآنکریم تدریس کاوه، د حضرت عمر (رض) د پښو د خرپار په اورېدو، حضرت خباب (رض) همالته په کور کې چېرې پټ شو او پر کومو پاڼو چې قرآنکریم لیکل شوی وو، هغه یې هم پټې کړې، هغه چې څنګه کور ته ورننوتو، پوښتنه یې وکړه، چې تاسې څه شی لوستل، فوراً یې خپل اوښی حضرت سعید (رض) راونیو او پر ځمکه یې را وغورځاوه او په وهلو ټکولو یې پیل وکړ، چې ته ولې مسلمان شوې، خوریې د خپل څښتن د خلاصون له پاره راغله او له ورور سره لاس په ګریوان شوه په دې کش وګیر کې د حضرت عمر(رض) خور حضرت فاطمه رضی الله عنها داسې زخمي شوه، چې له سره یې وینې را روانې شوې، حضرت عمر (رض) خپله خور او اوښی دواړه ښه ووهل خور یې اخر په زوړ توب سره ځواب ورکړ: قد اسلمنا وتابعنا محمدا افعل ما بدا لک ( هو موږ مسلمانان او د محمد صلی الله علیه وسلم فرمان منونکې شوي یو اوس چې له تانه څه کېدای شي ویې کړه ) د خوردا زوړ ځواب یې چې واورېده، سترګې یې راپورته کړې، هغه یې په وینو کې لیت پیت ولیده، دغې نظارې د هغه پر زړه یو څه اغېز وکړ او د قهر او غضب توپان یې ورو شو، حضرت عمر (رض) خور ته وویل: ښه نو تاسې ماته هغه کلام وښیاست یا واوروئ، چې تاسې اوس لوسته او د لوستلو آواز یې ما کورته د داخلېدو پر وخت او رېدلی وو، د حضرت عمر (رض) دا خبرې چې یو اندازه د سوچ او فکر له مخې وې، نو خور یې نوره هم زړوره شوه او هغه ته یې وویل: چې

لومړی غسل وکړه ، نو موږ به تاته هغه پاڼې د لوستلو له پاره درکړو حضرت عمر (رض) په هماغه وخت کې غسل وکړ، له غسل نه چې فارغ شو د قرآنکریم پاڼې یې واخیستې او په تلاوت یې پیل وکړ، څو آیته یې لا لوستي نه وو، چې بې واکه یې وویل: څومره خوږ او شیرین کلام دا څو زما پر زړه اغېز کوي.

د دې خبرې په اورېدو حضرت خباب (رض) چې د ننه پټ شوی و ، فوراً را ووت او وې ویل: عمره مبارک شه، د محمد صلی الله علیه وسلم دعا ستا په حق کې قبوله شوه ما پرون له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه دا دعا اورېدلې چې الهي له عمربن خطاب یا ابوجهل نه یو تن ضرور مسلمان کړې، بیا خباب (رض) د سورة طه لومړی رکوع ورته واوروله، حضرت عمر (رض) د سورة طه آیاتونه اورېدل او ژړل یې ، حضرت عمرفاروق (رض) حضرت خباب (رض) ته وویل: همدا اوس مې محمد صلی الله علیه وسلم ته بوځه، په دې ډول یې په هماغه وخت کې حضرت عمر (رض) د ارقم کور ته بوتلو، دا وخت هم اېستلې توره د حضرت عمر(رض) په لاس کې وه، خو دا توره اوس له هغه امله نه وه، چې حضرت عمر (رض) یې د خور ترکوره پورې راوستې وو، دار ارقم ته ورسید، دروازه یې وټکوله، صحابه کرام چې د ننه وو، هغوی چې د حضرت عمر (رض) په لاس کې ایستلې توره ولیده په دروازه بېرته کولو کې یې ځنډ وکړاو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته یې عرض وکړ، چې عمر له ایستلې توري سره په دروازه کې ولاړ دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: دروازه بېرته کړئ ، حضرت حمزة (رض) هم موجود وو، هغه وویل: را پرې یې ږدئ ، که اراده یې نیکه وي خو خیر او که نه نو د هماغه په توره به ترې سرغوڅ شي، صحابه کرامو دروازه خلاصه کړه، حضرت عمر (رض) راننوت، آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې هغه کورته د راننوتلو په حال کې ولید، مخې ته یې ورغی او د هغه لمن یې و نیوه ، په زوره یې راکش کړ او ورته ویې فرمایل: اې عمره ته نه منعه کیږې حضرت عمر (رض) یې په ځواب کې وویل: یا رسول الله زه د ایمان راوړلو له پاره حاضر شوی یم ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چې واورېدل، له ډېرې خوښۍ یې په زوره الله اکبر وویل: او ورسره ټولو صحابه و، په دومره لوړو آوازونو الله اکبر وویل چې د مکې په غرونو انګازې شوې ، د حضرت حمزة (رض) او د حضرت عمر (رض) له مسلمانېدو سره مسلمانانو ته زیات قوت په برخه شو، حضرت عمر (رض) له مسلمانېدو وروسته راساً د ابوجهل کور ته ولاړ، دروازه یې وټکوله ابوجهل د باندې را ووت، او په پراخه ټنده یې ورته اهلا وسهلا او مرحبا وویل: او د راتګ د لامل پوښتنه یې ترې وکړه، حضرت عمر (رض) وویل: د الله جل جلاله شکر دی چې زه مسلمان شوی یم او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول منم، د دې خبرو په اورېدو ابوجهل بېرته کور ته ننوتلو او حضرت عمر فاروق (رض) ترې هم بېرته راغی ، د هغه هدف دا وو، چې د اسلام تر ټولو دا لوی دښمن د خپلې مسلمانۍ په خبر وسیزم،حضرت عمرفاروق (رض) له مسلمانېدو سره د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په حضورکې عرض وکړ، چې موږ ته اوس په پټه په کورونو کې لمونځونه کول په کار نه دي، بلکې په ښکاره باید په کعبه کې لمونځونه ادا کړو، همغه و چې پرته له کوم بندیز مسلمانانو د کعبې په خونه کې لمونځونه ادا کول پیل کړه او همدا مکه کې د اسلام سپیڅلی دین په ښکاره ډول اعلان و، دا د نبوت د شپږم کال د وروستۍ میاشتې پېښه ده ، د حضرت عمرفاروق (رض) عمر په دې وخت کې ۳۳ کاله وو، د حضرت عمرفاروق (رض) له مسلمانېدو سره په مکه کې د مسلمانانو شمېر څلوېښتو تنو ته ورسید، په حبشه کې چې کوم مسلمانان وو هغه پر دغه شمېر برسیره وو.

نور په بله ګڼه کې

# د اسلامي حکومت بهرني سياست ته لنډه کتنه

څېړندوی وجيه الله ظهير

## لنډيز

رسول الله ﷺ چې د الله ﷻ محبوب پيغمبر او د ټول عالم لپاره رحمت او د خوښۍ زيری دی، کله چې يې مدينې منورې ته د کافرو او مشرکينو د ظلم او ستم په پايله کې د ستر خالق تعالی په مهربانۍ او امر سره هجرت وکړ، هلته بيا په دې وتوانېد چې د مدينې په ښکلي ښار کې د اسلامي حکومت د بنسټ ډبره کېږدي. هغه اسلامي حکومت چې د کورنۍ سياسي کړنلارې په څېر يې بهرنۍ سياسي تګلاره هم روښانه او څرګنده وه. دغه اسلامي حکومت چې د ټولې نړۍ د لارښوونې لپاره و، بهرني سياست يې هم ځانګړې اصول درلودل، هغه ا صول او قواعد چې له قرآن او له احاديثو يې سرچينه اخيسته او ټولو بهرنيو وګړو(غير مسلمو) ته يې د خپلواکۍ ترڅنګ د مال، ځان او د عزت ساتنې سينه وهله او هم يې د خپلې جامع اساسنامې له مخې نورو(غير مسلمو) سره داسې اړيکې رغولې چې په تاريخ کې سارې نه لري او د نړۍ نور نظامونه ترې عاجز دي. د موضوع مبرميت هم په همدې

(۱ ـ ۱۰ هـ ق)

کې نغښتې چې نن ورځ مسلمان ملت د اسلامي نظام په ټولو اساساتو، اصولو، غوښتنو او هر اړخيز سياست ځان پوه کړي، چې په همدې موخه دغه لنډه علمي څېړنه ترسره شوې، تر څو سالم او معقول سياست زده شي او د ټولنې ټولو ناخوالو ته يې له مخې داسې مثبت ځواب ووېل شي چې د ستونزو د ګراف کچه په ښه ډول را ټيټه کړي. دغه راز مسؤوليت منل، نورو ته خير رسول، زغم او صبر او په هر رنګ حالت کې د قربانۍ، سرښندنې له ډګره نه په شا کېدل، د اعلاء كلمة الله لپاره په ځان او مال جهاد کول، د اسلامي نظام سپېڅلی بيرغ په نړۍ رپول، ژمنو ته پابند پاتې کېدل او ثابت دريځ درلودل، د اسلامي نظام د بهرنۍ سياسي تګلارې د اجنډا مهمې برخې دي، چې همدغه موضوعات د دې څېړنې په سريزې، نورو سرليکونو، پايلې او وړانديزونو کې په ښه ډول څېړل شوي.

## سريزه

دا يو مسلم أمر دی چې د اسلامي حکومت هر اړخيز سياست، قوانين او اصول د محدودو افرادو، ځانګړو ډلو او د مشخصو قومونو د غوښتنو، خواهشاتو او هيلو لپاره نه، بلکې د ټول بشريت د پرمختګ او ښېګڼو لپاره رامنځته او ټاکل شوي دي. هغه اسلامي رياست او نظام چې په رښتيني پيروۍ سره يې انسانان بريا ته رسېږي، هم يې دنيا او هم يې آخرت پرې ښايسته کېږي. دغه سپېڅلی نظام چې رسول الله ﷺ يې لومړنی رښتينی حاکم دی او د اصولو او قواعدو مأخذونه يې قرآن او نبوي سنت دي، د ژوندانه د هر اړخيز نظام لپاره اصول، احکام او لارښوونې له ځانه سره لري. دا انګېرنه ناسمه او بېځايه ده چې ځينې پرې شخوند وهي او وايي چې دين له سياست څخه جلا دی او خالق تعالی ﷻ د خپلو پيغمبرانو په ذريعه، يوازې د عقيدې او عباداتو احکام خپل مخلوق ته رالېږلي او ټولنيز، اقتصادي او سياسي تمدني احکام يې نه دي رالېږلي. هغه افراد او اشخاص چې دا ډول فکر لري، له شک پرته په اسلام نه دي خبر او يا يې په دې اړه د پوهې کمی دی.

دا چې انسان يو مدني الطبع او ټولنيز مخلوق دی او ټولنيز سياسي ژوند تېرول يې د فطرت غوښتنه ده، نو دټولنيز سياسي ژوند تېرولو لپاره يې د سياسي نظام، قوانينو، اصولو او قواعدو شتون يو ضروري امر دی.

په اصل کې دغه لنډه، علمي- څېړنيزه مقاله د يو لړ سرليکونو درلودونکې ده چې د اسلامي حکومت بهرنۍ سياسي کړنلاره روښانه کوي. د اسلامي حکومت اړيکې له نورو(غير مسلمو) سره، د اسلامي حکومت له لوري د نړۍ ځينې مشرانو او پاچاهانو ته پيغامونه، د اسلامي حکومت پلازمېنې ته د وفدونو او پلاوو راتګ، سياسي تړونونه، د جهاد بهرنۍ سياسي تګلاره او په اسلامي حکومت کې د غير مسلمو(کافرو) حقوق، هغه سرليکونه دي چې په تشريح او روښانتيا کې يې له معتبرو، علمي منابعو او مراجعو څخه ګټه اخيستل شوې او څېړنه پرې د وس په توان پوره شوې.

## د څېړنې مبرميت

د څېړنې مبرميت په دې کې دی چې د اسلامي حکومت بهرنۍ سياست ډېرې پراخې او وسيعې برخې لري، که څه هم په اړه يې کار شوی، خو دغسې واحده، علمي ليکنه په دې برخه کې تر دې دمه نه ده ترسره شوې؛ نو ځکه مې اړتيا حس کړه، چې د خپل وس په توان مختصره څېړنه پرې وکړم، تر څو لوستونکو ته د ګټې وړ وګرځي.

## د څېړنې موخه

د څېړنې موخه دا ده چې هر مسلمان فرد د اسلامي نظام په اساساتو، قوانينو، اصولو او سياسي تګلارې ځان پوه کړي او هم يې په خپل ژوند کې عملي او پياده کړي؛ نو په همدې موخه دغه لنډه علمي – څېړنيزه مقاله ليکل شوې.

## د څېړنې پوښتنې

داسلامي حکومت بهرنۍ سياسي کړنلاره او پاليسي څه وه؟ د کومو اصولو او قوانينو له مخې دغه سياسي تګلاره پرمخ يوړل کېده او له مخې يې کوم تغييرات او تحولات په ټولنه کې رامنځته شول؟ دغو پوښتنو ته په دې لنډې، علمي- څېړنيزې مقاله کې ځوابونه ويل شوي.

### د اسلامي حکومت بهرني سياسي اړيکي له نورو سره

رسول الله ﷺ چې کله د مکې د مشرکينو له لوري د بعثت په ديارلسم کال مدينې منورې ته په هجرت کولو سره مجبور شو، نو خپل نږدې ملګري (ابوبکر رض) سره يې يو ځای د هجرت دغه سخته او له کړاوونو ډکه لار ووهله او له دولسو ورځو وروسته مدينې منورې ته ورسېد. هلته بيا د مدينې د اوسېدونکو(انصارو) په مرسته په دې وتوانېد چې د هجرت په لومړي کال د اسلامي حکومت د بنسټ ډبره کېږدي. (۸: ۲۷مخ)

هغه اسلامي حکومت او نظام چې د نړۍ د نورو نظامونو بر عکس يې د پيل له ورځې څخه ځينې مهم، ځانګړي او سپېڅلي اصول او قواعد درلودل. يا په بلې اصطلاح دغه اسلامي حکومت داسې يوه غوره، مهمه او ځانګړې اساسنامه درلوده چې له مخې يې د ټولې نړۍ نظم ته اوړه ورکوله او د مسلمانانو د خپلمنځي اړيکو، خالق تعالی سره د اړيکو ترڅنګ يې نورو(غير مسلمانانو) سره هم اړيکې تنظيم او برابرولې.(۹: ۲۳۰ مخ)

دا چې زموږ موضوع د اسلامي حکومت په بهرني سياست څرخي، نو؛ لازمه ګڼم چې د اسلامي حکومت د سپېڅلي اساسنامې په درېيمې برخې(غير مسلمانانو سره پر اړيکو) بحث وکړم او پيل کې هغه ليکونه(خطونه) چې د رسول الله ﷺ په مشرۍ د غير مسلمانانو(د نړۍ پاچاهانو) ته د وړ او مناسبو استازو په

وسیله استول شوي، ذکر او وځېړم.

### ۱ – د نړۍ مشرانو او امیرانو ته پیغامونه

د نړۍ ځینو مهمو مشرانو او امیرانو ته رسول الله ﷺ د پیغامونو لړۍ هغه مهال پیل کړه، کله چې د مکې له مشرکینو سره د اسلامي حکومت له لوري د رسول الله ﷺ په مشرۍ د حدیبیې د سولې تړون ترسره شو. له دغه تړون وروسته رسول الله ﷺ وغوښتل چې د اسلامي دعوت جریان نړیوال کړي او د نړۍ ګوټ- ګوټ ته د اسلام د مبارک دین د امن او عزت پیغام ورسوي.

ابو الحسن ندوی لیکي، رسول الله ﷺ د نړۍ پاچاهانو ته خطونه ولیکل او هغوی یې په حکمت او ښه اسلوب سره د الله ﷻ لارې ته راوبلل او هر مشر ته یې د هغوی د حال مناسب او لایق استازی غوره کړ. زیاتوي، رسول الله ﷺ ته وویل شول چې پاچاهان د مهر پرته لیک نه قبلوي، نو په همدې اساس رسول الله ﷺ د سپینو زرو یو مهر جوړ کړ، چې پرې لیکل شوي وو:«محمد رسول الله».(۱۶: ۱۱۷ مخ)

عبدالرحمان عثماني لیکي، د رسول الله ﷺ دغو پیغامونو ته د نړۍ مهمو مشرانو په مختلفو بڼو ځوابونه وویل او دغه لیکونه په ټوله کې د حبشې پاچا(نجاشي)، هرقل(د روم امپراطور)، کسری(پرویز خسرو د ایران پاچا)، مقوقس(د مصر حاکم)، د بحرین امیر، د یمامه حاکم، د دمشق او عمان پاچاهانو ته د لایقو او وړ استازو په ذریعه چې د هغوی په ژبه پوهېدل، واستول شول.

وړاندې لیکي، له دغو لیکونو ښکارېدله چې د اسلام مبارک دین یوازې عربو پورې اړه نه لري، بلکې د ټولو انسانانو لپاره دی. وایي، سربېره پر دې دغه لیکونه، ټولو هغو مغروره پاچاهانو او امپراطورانو ته چې هغه مهال یې د سترو پرمختللو هېوادونو واک په لاس کې و، او په لویو جغرافیو یې امرونه چلېدل، د خطر زنګ و، ځکه که چېرې دوی په خپلو سیمو کې د اسلام د دین د دعوت پر وړاندې خنډ او مانع وګرځي او خلک پرېنږدي چې د اسلام دین ومني، نو؛ ستر زیان او تاوان سره به مخامخ شي.(۸: ۳۲مخ)

### الف: د حبشې پاچا ته لیک

انصاري لیکي، د نبوت د دربار یو غښتلی استازی(عمرو بن امیه)، رسول الله ﷺ د حبشې د پاچا(نجاشي) دربار ته د لیک د رسولو لپاره په یوې سترې او مهمې دندې وګماره او دې استازي وکولای شول چې په ډېر ښه ډول سره یاد لیک د نجاشي پاچا تر حضوره ورسوي. مخکې لیکي، دغه استازي چې کوم پیغام له ځانه سره وړی و، په هغه کې رسول الله ﷺ د حبشې واکمن(نجاشي) ته فرمایلي وو: (اسلم تسلم). یعنې د یوه خدای ﷻ اطاعت وکړه، نو په امن او سلامتیا کې به پاتې شې.

دغه راز نجاشي پاچا یې لیک کې مخاطب کړی و، چې مسلمانو مهاجرینو ته پناه ورکړه، پاملرنه ورته وکړه چې هلته پرې څوک زور او زیاتی ونه کړي. ورته لیکلي یې وو، زه تاسو او هم مو پوځونه د لوی خدای ﷻ لوري ته را بولم او په حقیقت کې همدا د خیر غوښتني پیغام دی. فرمایلي یې وو، له شک پرته د امن او سلامتیا مستحق هغه څوک دی چې هدایت مني او قبلوي.(۵: ۵۰۸مخ)

مؤرخین لیکي، کله چې نجاشی پاچا د رسول الله ﷺ لیک ولوست، نو په ډېر قدر او عزت سره یې ترې

هرکلـی وکـړ، ایـمان یـې راوړ او بیـا یـې پـه ډېـرو غـوره او ښـو الفاظـو د رسـول اللـه ﷺ لیـک ځـواب کـړ. انصـاري لیکـي، ټولـې نـړۍ ولیـدل چـې بیا وروسـته د رسـول اللـه ﷺ د تابعـدارۍ او د امـر منلـو پـه پایلـه کـې حبشـه تـر ډېـرو کلونـو د امـن او سـلامتیا زانگـو وه.(٥: ٥٠٩مـخ)

عثماني لیکـي، سر بېره پر دې چـې نجاشي پاچا د رسـول اللـه ﷺ پیغـام تـه مثبـت ځـواب وو‌ایـه او ایمان یـې راوړ، ترڅنـگ یـې د رسـول اللـه ﷺ د غوښـتنې پـر اسـاس جعفـر رض، سره لـه ټولـو هغـو مهاجرینـو چـې تـر دې دمـه پـه حبشـه کـې مېشـت وو، پـه دوو کشـتیو کـې سـپاره کـړل او د عمـرو بـن امیه(اسـتازي) سره یـو ځـای یـې مدینـې تـه واسـتول، چـې هغـوی بیـا د خیبر پـه سیمـه کـې د رسـول اللـه ﷺ خدمـت تـه ورسـېدل. مخکـې لیکـي، نجـاشي پاچا د هجرت په نهم(٩) کال د تبوک لـه جنـگ څخـه وروسـته وفـات شـو او رسـول اللـه ﷺ یـې بیـا غایبانـه جنـازه وکـړه او هـم یـې د هغـه ځـای ناسـتې تـه د اسلام د منلـو پیغـام ولېـږه، خـو څرگنـده نـه ده چـې هغـه ایـمان راوړ او کنـه؟(٨: ٣٢ – ٣٣مخونـه)

## ب: د روم امپراطور ته لیک

د رسـول اللـه ﷺ د پیغامونـو او لیکونـو پـه سلسـله کـې یـو لیـک د روم امپراطور(هرقـل) تـه و، چـې د دحیـة الکلبـي پـه وسـیله یـې مخـې تـه وړانـدې شـو. محمـد شـاه ارشـاد لیکـي، هرقـل پـه ځـان نـذر منلـی و، کـه چېرې خدای ﷻ پـه فارسیانو بـرى ورکـړ او صلیـب یـې تـرې واخیسـت، نـو دی بـه پـه پلي(پیـاده) ډول حـج او بیـت المقـدس تـه سـفر کـوی او هلتـه بـه صلیـب پـه خپـل ځـای ږدي. وايـي، هرقـل د حـج پـه لاره حمـص(د بـصرې پلازمېنـه) تـه رسـېدلی و، چـې د رسـول اللـه ﷺ لیـک ورتـه ورسـېد. مخکـې لیکـي، د رسـول اللـه ﷺ لیـک ورتـه وژبـاړل شـو او مخکـې یـې ولوسـتل شـو. وايـي، مخکـې لـه دې چـې گـډوډ یـا پـه قهـر شي، د نـورو معلوماتـو لپـاره د عـربي سـوداگرو د کاروان د پیداکېدلـو پـه تـکل کـې شـو، تر څو لـه یو عرب ( هغه څوک چـې رسـول اللـه ﷺ تـر نـورو ښـه پېـژني) څخـه د هغـه او د نـوي دیـن پـه اړه لازمـه څېړنـه وکـړي.(٣: ٥٣٣مـخ)

نـدوي لیکـي، د سـاتونکو د پلټنـو پـه پایلـه کـې ابوسـفیان بـن حـرب چـې دا مهـال د سـوداگرۍ پـه نیـت تللـی و، د هرقـل دربـار تـه حـاضر کـړل شـو او بیـا هرقـل، لـه هغـه څخـه د یـو ځیـرک او پـوه انسـان پـه توگـه پـه ډېـر ښـه ډول ځینـې مهمـې پوولـس پوښـتنې(دلته د بحـث د اوږدوالي لپاره تـرې تېرېږو) د رسـول اللـه ﷺ او د هغه د نـوي دین په اړه وکړې او ابـو سـفیان هـم د پخوانیـو عربـو پـه څېـر ورتـه پـه ریښـتیني ډول ځـواب کـړې. لیکوال وړاندې لیکي، کله چې هرقل د رسـول اللـه ﷺ پـه اړه د ابـو سـفیان ټولـې خـبرې واورېـدې، پـوخ بـاور یـې راغـی چـې دا خامخـا حـق پیغمبر دی. بیا یې ابوسـفیان مخاطـب کـړ، ویـې ویـل: کـه سـتا وینـا ریښـتیا وي، نـو زمـا د پښـو لانـدې ځمکـه بـه هـم دغـه پیغمـبر نیسـي او زمـا بـاور و، چـې د وروسـتي پیغمـبر د بعثـت او راوتلـو وخـت پـوره دی، خـو دا مـې نـه وه انگېرلـې چـې سـتاسو لـه منځـه بـه را پورتـه کېـږي، کـه زه پوهېدلـی چـې زه ورتـه رسـېږم، نـو مـا بـه یـې پښـې ورتـه مینځلـې وې.(١٦: ١١٨مـخ)

عثـماني لیکـي، هرقـل پـه ټولـه کـې د رسـول اللـه ﷺ لیـک تـه قـدر وکـړ او یـاده موضـوع یـې خپلـو درباریانـو تـه وړانـدې کـړه، خـو د هغـوی د مخالفـت او قهـر سـبب وگرځېـده.

مخکې لیکي، هرقل ایمان را نه وړ، خو؛ د رسول الله ﷺ استازي(دحیة الکلبي رض) ته یې د بېرته تګ پر مهال ګران بیه ډالۍ ورکړې، کومې چې بیا د لارې په اوږدو کې ترې غلو واخیستلې. وایي، وروسته له اوږده سفر څخه استازی(دحیة الکلبي رض) مدینې ته را ورسېد او د هرقل د دربار ټول جریان او پیغام یې رسول الله ﷺ ته وړاندې کړ. وروسته له دې بیا رسول الله ﷺ، زید بن حارث رض ته دنده وسپارله چې خپلو پنځو سوو سرتېرو سره د لارې په اږدو کې د یادو غلو مخه ونیسي او مات یې کړي.(۸: ۴۳مخ)

## د فارس امپراطور ته لیک

د فارس پاچا(خسرو پرویز) یو له هغو شاهانو څخه و، چې رسول الله ﷺ ورته د عبدالله بن حذافة السهمي (رض) په وسیله خپل لیک او د اسلام د منلو ستر مبارک پیغام استولی و. ارشاد په خپل اثر کې د دې پېښې په تړاو لیکي، کله چې مسلمان استازی د کسری دربار ته ورسېد او هغه یې د رسول الله ﷺ له پیغام څخه خبر کړ، نو د هغه مخ له ډېر قهر او غصې څخه سور واوښت او نږدې و چې وچوي. مخکې لیکي، د رسول الله ﷺ لیک یې په ډېرې بې باکۍ ټوټه – ټوټه او څیرې کړ او د یمن والي(بازان) ته یې ولیکل، چې دوه تنه، دې حجازي تن پسې چې د نبوت دعوه یې کړې، ور ولېږه او زما پر وړاندې یې حاضر کړه.(۴: ۵۳۷مخ)

دغه راز ندوي لیکي، کله چې رسول الله ﷺ د کسری له دې بد چلند څخه، چې ویلي یې و: زما غلام ماته دا ډول لیک را استوي؟ خبر شو؛ نو کسری ته یې ښېرا وکړې او ویې ویل چې ای الله! ته یې پادشاهي زما د لیک په څېر ټوټه – ټوټه کړې. وړاندې لیکي، د دې پېښې وروسته د یمن والي خپلو دوو تنو ته امر وکړ چې ولاړ شئ دغه د نبوت دعوه کوونکي ته د کسری پیغام ور ورسوئ. زیاتوي، د یمن د والي استازي چې کله رسول الله ﷺ ته راغلل، له جریانه یې خبر کړ او بیا رسول الله ﷺ هغو ته یوه ورځ وروسته د وحیې په ذریعه وویل چې ځئ ولاړ شئ! زما رب ستاسو کسری پاچا د خپل زوی(شیرویه) په واسطه وژلی دی.(۱۶: ۱۱۹مخ)

عثماني د یادې قضیې په تړاو لیکي، استازو چې کله د رسول الله ﷺ له لوري دا خبر واورېد، نو حیران شول او په ډېرې وارخطایۍ یې یاد خبر د یمن تر والي(بازان) پورې ورسوه. لیکي، ډېر وخت نه و وتلی چې د خسرو د زوی(شیرویه) له لوري بازان ته د پلار د وژلو خبر په کتبي ډول را ورسېد چې په کې لیکلي یې وو: د بل لیک تر را رسېدو پورې د هغو افرادو پر وړاندې هېڅ اقدام ونه کړې چې د پلار له خوا مې بخښل شوي. لیکوال وړاندې لیکي، دغه عجیبې پېښې ټولې د دې سبب شوې چې بازان او ورسره ټول هغه فارسیان چې په یمن کې وو، ایمان راوړي او د اسلام په مبارک دین مشرف شي.(۸: ۴۴مخ)

## د مصر واکمن ته لیک

رسول الله ﷺ د مصر واکمن(مقوقس) هم د یو لیک په ذریعه چې د حاطب بن ابي بلتعه (رض) له لوري ورته استول شوی و، د اسلام دین ته را بللی و. محب لیکي، مقوقس د مصر واکمن د قبطیانو د قبیلې ډېر لوی سردار و. وایي، هغه د رسول الله ﷺ له استازي سره له ډېرې نرمۍ او نېک چلند څخه کار واخیست، ایمان یې را نه وړ، خو رسول الله ﷺ ته یې د نورو ډالیو ترڅنګ، دوه کنیزې(ماریه - سیرین) هم د ډالۍ په ډول واستولې.(۱۲: ۳۰۳مخ)

نـدوي بيـا پـه دې اړه داسـې ليـکلي، د مصر واکمن د رسول الله ﷺ د استازي ښه تود هرکلی او عزت وکړ او د ليک په ځواب کې يې نرم او مناسب څه وليکل. وايي، دغه راز يې رسول الله ﷺ ته ځينې ډالۍ هم واستولې چې هغو کې دوه وينځې هم وې، چې يوه يې بيا د رسول الله ﷺ د زوی (ابراهيم) مور (ماريه قبطي) وه.(۱۶: ۱۱۹مخ)

دغه ډول عثماني ليکلي، کله چې مقوقس ته د رسول الله ﷺ مبارک ليک ورسېد، نو د هغه ليک پر وړاندې يې له نرمۍ کار واخيست او ويې ويل: ما د دغه پيغمبر(محمد ﷺ) په اړه ښه څېړنه کړې چې گوښه توب بد گڼي او ژوند کولو ته خلک هڅوي. دغه راز زه خبر شوی يم چې په نېکيو امر او له بديو منع کوي او هم د خپل پيغمبري خصلت له مخې د وحيې په ذريعه له غيبي خبرو، خبر ورکوي. نو اراده لرم چې په دې اړه نوره هم څېړنه وکړم او ځان پوه کړم. ليکوال مخکې راوړي، مقوقس، د رسول الله ﷺ ليک يې په پوره احترام سره وساته او مختلفې ډالۍ يې رسول الله ﷺ ته واستولې، چې د هغو له جملې څخه دوه کنيزې هم وې چې بيا وروسته يې يوې (ماريه رضی الله عنها) سره رسول الله ﷺ نکاح هم وکړه.(۸: ۴۳مخ)

دغه راز رسول الله ﷺ يو لړ نور ليکونه د بحرين امير (منذر بن ساوی) د يمامې مشر (هوذه بن علی)، د دمشق مشر (حارث) او يو ليک يې د عمان شاهانو (جيفر – عبد) ته واستول (له کومو چې د اسلامي حکومت بهرنۍ سياست ښه څرگندېږي)، چې د دوی له جملې څخه د بحرين امير(منذر بن ساوی) د رسول الله ﷺ ليک ته مثبت ځواب ووايه او نورو مخالفت وکړ، خو څه موده وروسته بيا د عمان مشرانو هم د حقيقت په درک کولو سره ايمان راوړ او د اسلام په مبارک دين مشرف شول.(۸: ۴۴مخونه)

نو؛ له دغو ټولو مبارکو ليکونو او پيغامونو څخه په دې پوهېږو، چې د اسلام د بهرنيو چارو سياست د واک او قدرت پر نشې نه څرخېده او نه يې کار دا و چې پردۍ خاورې تسخير يا تر خپلې ولکې لاندې راولي. هو، دا يوه خبره روښانه ده چې اسلامي حکومت ځانگړې پاليسي، اصول او قواعد درلودل، چې لويه موخه يې پر نړۍ د اسلامي حکومت خورېدل و. هغه اسلامي حکومت چې د عدل په سپېڅلې داعيې پايېده او د ټول بشريت لپاره يې خير غوښت.

دا نيوکه به ډېره بېځايه او بې خونده وي چې څوک وايي چې گواکې اسلامي حکومت پردۍ خاورې يا مالونه گټل، که احياناً داسې کوم څه موجود و، نو بيا ولې رسول الله ﷺ هغه واکمنان چې ايمان يې راوړ او د اسلام مبارک دين يې ومانه، په خپل واک پرېښودل او ولې يې ترې مقام وانه خيست؟ نو؛ ښکاره شوه چې داسې نيوکې د اسلام په اړه د هغو وروسته پاتې دښمنانو هغه پوچ او بېکاره تبليغات دي چې تل يې په لاره اچولي او هيله لري چې د مسلمانانو ذهنيت به له دې ناکارې لارې څخه خراب کړي او په خپل دين به يې بد گمانه کړي، چې داسې څه امکان نه لري او دغه کرغېړن دښمن به کله هم په دې شومه دسيسه کې بريالی نه شي، ځکه د اسلام دين د خالق تعالی حق دين دی او هماغه پاک ذات به يې د خپلو مخلصو او رښتينو بندگانو پر مټ ساتي.

نورپه بله گڼه کې

# د اسلام د سیاسي نظام بڼه:

سیف الله ساعي د پوهنتون استاد

د اسلام د سیاسي نظام اړوند یو شمېر علماء وايي چې په قرآن او احادیثو کې د اسلامي نظام یوځو بنسټیز اصول بیان شوي چې له هغو څخه د اسلامي حکومتولۍ کاري چوکاټ او پولې په ګوته کېږي، خو د اسلامي نظام کوم ځانګړې ډول او بڼه په قرآن او احادیثو کې شتون نه لري، بلکې دا کار یې د هرې زمانې اړتیاوو ته په کتو سره د امت صوابدید او اجتهادي بصیرت ته پرې اېښی دی.

## د اسلام د سیاسي نظام اړوند اصول:

هغه اصول چې قرآن د اسلامي سیاسي نظام په اړه بیان کړي په لاندې ډول دي:

۱- الله پاک د مائدې سورت له ۴۳ آیت څخه تر ۵۰ آیت پورې د بني اسرائیلو د سیاست یادونه کړې ده او د هغو پولې یې بیان کړې دي چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

موږ تورات نازل کړی چې پکې لارښوونه او رڼا ده، نبیان، علماء او د الله لمانځونکي خلک له هغو سره سمې پرېکړې کوي، بیا مو انجیل نازل کړ چې د تورات تصدیقوونکی دی او بیا مو قرآن نازل کړ.

او په همدغو ایتونو کې الله پاک فرمايي: څوک چې د الله تعالی له را نازل کړو حکمونو سره سمې پرېکړې نه کوي هغوی ظالمان، فاسقان او کافران دي.

۲- او په همدغو ایتونو کې یې د (ولاتتبع أهواهم عما جاء من الحق) ژباړه: «له راغلي حق څخه په مخ ګرځولو سره د هغوی د نفسي غوښتنو پیروي مه کوه» په جمله سره دا خبره ښکاره کړه چې د خلکو د هغو غوښتنو پیروي مه کوه چې له حق یعنې اللهي وحې سره ټکر وي.

۳- همدارنګه په بخاري شریف کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې د بني اسرائیلو نبیانو د هغوی سیاست پر مخ وړلو، یو نبي به چې وفات شو، بل نبي به یې ځای ناستی شو، او له ما وروسته کوم نبي نشته؛ نو له همدې امله له ما وروسته به خلیفه ګان (ځای ناستي) وي.

۴- په مسلم شریف کې روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: ستاسو غوره واکمن هغه دی چې له تاسو سره مینه لري او تاسو له هغه سره مینه ولرئ، او بد واکمن مو هغه دی چې هغه له تاسو کرکه کوي او تاسو له هغه کرکه کوئ.

له دغه روایت څخه دا خبره په ډاګه کېږي چې د واکمن او رعیت ترمنځ باید د باور اړیکه شتون ولري چې د باور ښکارندوینه د هرې زمانې له حالاتو سره بېلابېله کېدلای شي.

له همدې امله د قرآن کریم، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وینا او کړنې او همدارنګه د ابوبکر رضي الله عنه له یوې وینا څخه د اسلامي حکومتولۍ څلور بنسټونه په ډاګه کېږي:

(۱) حکومتولي باید د خلکو پر خوښه وي.

(۲) خلیفه یا واکمن استبدادي واک نه لري، بلکې هغه باید د قرآن او احادیثو پابند وي.

(۳) د قرآن او احادیثو د ښکاره حکمونو پر وړاندې د

خلکو رایه د باور وړ نه ده.

(۴) او حکومت د خلکو پر وړاندې ځواب ویونکی وي، او خلکو ته د حکومت د احتساب حق حاصل دی، ځکه ابوبکر رضي الله په لومړۍ خطبه کې وفرمایل: که زه سم وم؛ نو زما ملتیا وکړئ او که په غلطه روان وم؛ نو سمې لارې ته مې راولئ.

**له اسلام سره د نړیوالو او بشر د قوانینو ټکر ټکي**

سره له دې چې اسلامي هېوادونه د الهي قانون د شتون له امله نړیوالو قوانینو ته اړتیا نه لري، خو یو شمېراسلامي هېوادونو چې په خپله خوښه یا په زور نړیوالو قوانینو ته غاړه اېښې ده، نو هغوی باید هغه ټکي په پام کې ونیسي چې له اسلام سره په ټکر کې دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**(۱) ډیپلوماتیک خوندیتوب:** د ۱۹۶۱ زېږدیزکال د ویانا کنوانسیون په ۳۱ مه ماده کې راغلي: د ډیپلوماټیکو نمایندګیو کارکوونکي په کوربه هېواد کې له عدلي او قضایي تعقیب څخه خوندي دي، همدارنګه له هرډول مدني او اداري تعقیب څخه هم په امن کې دي. خو اسلام بیا ډیپلوماټیکو نمایندګیو کارکوونکي عادي انسانان ګڼي چې د هر ډول کړنو او تصرفاتو په اړه یې په اسلامي ټولنه کې محاسبه کیږي، د اسلام له نظره سفیر او نور ډیپلوماټیک استازي باید تر نورو انسانانو زیات د خپل هېواد په استازیتوب قوانین مراعات کړي او ځان مسؤول و ګڼي. (الکتورالزحیلي آثارالحرب في الفقه الاسلامي ص ۳۳۹)

(۲) د اسلام له نظره د بل هېواد استازي یا هغه څوک چې په دارالاسلام کې امان ورکړل شوی وي، کله چې وغواړي دارالحرب ته ستون شي؛ نو کولای شي خپل مالونه ورسره یوسي پرته له وسلې، سپرلۍ او هغه غلام څخه چې له دارالحرب څخه نیول شوی وي که یې له دغو شیانو یو په پیسو اخېستی وي پلورونکي ته به واپس ورکول کیږي او پېرونکي ته به یې پیسې ورکول کیږي. (ابویوسف، کتاب الخراج ص ۱۸۸)

(۳) په نړیوالو قوانینو کې معامله بالمثل د یو اصل په توګه منل شوې ده، خو د اسلامي دولت سپارښتنه په دې اړه له نړیوالو قوانینو څخه هم په اصولو کې او هم په عملي ډګر کې لوړه ده لکه ځنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل عمل د بدر غزا له بندیانو سره دا خبره ثابته کړه. لکه ځنګه چې ابویوسف رحمه الله په خپل خراج نومي کتاب کې وایي: د مسلمانانو لپاره په کار نه ده چې د دښمن له راليږل شوي استازي سره دوکه او خیانت وکړي، که څه هم کافرانو د مسلمانانو بندیان وژلي وي، خو مسلمانان به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې وینا پر بنسټ چې فرمایي: (وفاء بالغدر خیر من الغدر بالغدر). (د دوکې په مقابل کې وفا کول غوره دي تردې چې د دوکې ځواب په دوکه ورکړل شي) هیڅ ډول دوکه نه ورسره کوي.

**له اسلام او افغاني دود سره د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې ټکر ټکي:**

۱- د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې د لومړۍ مادې له مخې: ټول انسانان نړۍ ته ازاد راغلي او د حقوقو او حیثیت له پلوه سره برابر او یو شان دي. ټولو انسانانو نارینه او ښځینه وو ته یو ډول ازادي ورکول د اسلام او افغاني دودونو سره ټکر کړنه ده.

۲- د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې د پنځمې

مـادي لـه مخـې: هيڅـا تـه غـير انسـاني سـزا نـه ورکـول کيـږي او سـزا بايـد لـه تشـدد او تذليـل څخـه خـالي وي چې د هغـوی پـه انـد پـه دې کـې د شريعـت لـه لـوري ټـاکل شـوې د حـدودو سـزاوې لکـه: رجم(سنگسـار)، لاس پريکـول، پـه دورو وهـل او داسـې نـور هـم راځـي، ځکـه خـو چې کله ناکلـه پـه اسـلامي هېوادونـو کـې دا ډول سـزاوې پلـې کيـږي د بـشر د حقوقـو د مدافعينـو غبرونـه پورتـه کيـږي.

۳- د بـشر د حقوقـو د نړيوالـې اعلاميـې ۱۷ مـاده وايـي: هربالـغ سـړی او ښـځه حـق لـري چـې د نـژاد، ملـت، تابعيـت او مذهـب لـه قيـودو پرتـه يـو لـه بـل سره واده وکـړي او ښـځه او مېـړه پـه ټولـو چـارو کـې يـو لـه بـل سره برابـر حقـوق لـري. خو د اسلام له مخې د مؤمنې ښځې نکاح له کافر سره روا نه ده او د مؤمن سړي نکاح يوازې د اهل کتاب سره روا ګڼل شوې ده.

۴- پـه اتلسـمه مـاده کـې بيـا وايـي: هرڅـوک حـق لـري چـې د فکـر، وجـدان، مذهـب او عقيـدې د بدلولـو، د عقيـدې او ايمـان د ظاهرولـو او هـم خپـل مذهبـي تعليمـات ترسره کـړي. خـو پـه اسـلامي هېـوادونـو کـې د يـو مسـلمان لپـاره د اسـلام پرېښـودل ارتـداد بلـل کيـږي چـې د ارتـداد د حـد سـزا ورتـه ټـاکل شـوې ده.

## د اصطلاحاتو او کړنو توپير:

ځينـې نـور هغـه ټکـي پـه اسـلامي هېـوادونـو کـې شـتون لـري خـو اسـلام څوارلـس سـوه کالـه مخکـې لـه هغـو ښـه بديـل ورتـه وړانـدې کـړی د بېلګـې پـه توګـه:

الـف: د جمهـور رئيـس کلمـه او د هغـه د ټاکلـو کړنـلاره او شروط، اسـلام د امـام، امـير او خليفـه کلمـې لـري چـې پـه نصوصـو کـې ترې يادونـه شـوې ده او د هغـو د ټاکلو کړنلاره او شروط يـې ټـاکلي دي، خـو د ولسـمشر يـا جمهـور رئيـس کلمـه يـوه نـوې کلمـه ده، همدارنګـه د ټاکلـو کړنلاره يـې هـم سـتونزې لـري د بېلګـې پـه ډول پـه يـوه افغاني غونـدې ټولنـه کـې کـه دوه ميلونـه نـا اهلـه خلـک يـو څـوک انتخـاب کـړي او يو کـم دوه ميلونـه علـماء، متفکريـن بل نفر انتخاب کـړي؛ نو بيا بـه هـم د نـا اهلـو پـر انتخـاب سـړی کټونکـی وي يعنـي يـوازې کميـت تـه کتـل کيـږي، کيفيـت پـه پـام کـې نـه نيـول کيـږي. همدارنګـه د يـو امـير د معزولـۍ لپـاره بايـد شرعـي لاملونـه شـتون ولـري خـو پـه جمهـوري نظـام کـې څلـور يـا پنځـه کالـه وروسـته پـه اتومـات ډول هغـه معزولـه کيـږي او ......

ب: پـه اسـلام کـې د جمهـورو علـماوو لـه نظـره د امـام يـا خليفـه لپـاره نارينـه تـوب شرط دی خـو پـه مروجـه سـياسي نظامونـو کـې ښـځه هـم جمهـور رئيـس يـا پاچـا کېـدلای شي.

ج: پـه اسـلامي نظـام کـې لـه امامـه نيـولې تـر عـادي وګـړي پـورې ټـول د قانـون پـر وړانـدې يـو ډول وي خـو پـه جمهـوري او شـاهي نظـام کـې د ولسـمشر يـا پاچـا لپـاره بايـد ځانګـړې محکمـه شـتون ولـري او يـا بيخـي لـه قانـون لـوړ ګڼـل کيـږي.

د: د اسـلام لـه نظـره کـه امـام يـا عـادي دولتـي کارکوونکـی د دنـدې لـه امله هـر ډول ډالـۍ ترلاسـه کـړي هغـه بـه بيـت المال تـه سـپارل کيـږي، خـو پـه جمهـوري او شـاهي نظامونـو کـې داسـې څـه شـتون نـه لـري.

هــ: د قـاضي القضـات او سـترې محکمـې د غړو لپاره نارينـه والـی شرط، خـو پـه اوسـنيو شـته سـياسي نظامونـو کـې ښـځه هـم قـاضي القضـات جوړېـدلـی شي.

و: پـه اسـلام کـې د نارينـه او ښـځينه مسـؤوليتونه او حقـوق بېـل بېـل او عادلانـه دي خـو پـه اوسـنيو سـياسي نظـام کـې هرڅـه برابـر دي.

ز: د اسـلام لـه نظـره ځينـې شـيان تکاليـف بلـل شـوي لکـه شـاهدي ورکـول، دنـده ترسره کـول، خـو پـه اوسـنيو سـياسي نظامونـو کـې بيـا دغـه ډول شـيانو تـه حقـوق ويـل کيـږي.

ح: په اسلام کې له محرم پرته ښځې شرعي سفر نه شي کولای، په حدود او قصاص کې شاهدي نشي ورکولای او داسې نور خو د اوسنیو سیاسي نظامونو له نظره دا کومه ستونزه نلري.

## د اسلامي نظام د حکومتولۍ اړوند اصطلاح:

په اسلام کې چې د حکومتولۍ کوم نظام په ګوته شوی، هغو ته اهل سنت خلافت او امارت وايي او اهل تشیع يې امامت بولي چې ځینو علماوو بیا د دغو دواړو ډلو د خلافت او امامت ترمنځ په لاندې ټکو کې توپير بيان کړی دی:

الف: لومړی توپير خو همدغه د اصطلاح توپير دی چې اهل سنت د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ځای ناستي ته خليفه او اهل تشيع امام ورته وايي.

ب: خلافت د نوماندۍ پر بنسټ نه، بلکې د امت تر صوابديد او ټولنيز اختيار پورې اړه لري، خو امامت د هغوی په اند منصوص دی چې امام د نوماندۍ او سپارښتنې له لارې ټاکل کيږي چې د هغوی په اند د علي رضي الله عنه ټاکنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په سپارښتنه او نوماندۍ ترسره شوه.

ج: امام د هغوی په اند د الله تعالی معصوم استازی وي، لکه څنګه چې الله خپل نبي ته لارښوونه کوي همدارنګه امام ته هم لارښوونه کوي؛ نو هغه چې څه وايي او څه کوي هغه د الله له لوري وي، چې خبره يې هيڅ د خطا احتمال نه لري، خو خليفه بيا د اهل سنت په اند د نبي ځای ناستی وي، له ديني اړخه د مجتهد مرتبه لري، خبره يې د سمون او تېروتنې دواړو احتمال لري.

هـ: خليفه د خلکو پر وړاندې مسؤل او ځواب ويونکی وي او له خلکو هرڅوک د هغه پر پرېکړه نيوکه کولای شي، خو د هغوی په اند د امام رايه حتمي وي، هيچاته ځواب ويونکی نه وي او نه خلک د هغه پر پرېکړه کومه نيوکه کولای شي.

و: امامت د هغوی په اند نسبي او ميراثي منصب دی، يوازې په يوه کورنۍ پورې اړه لري، خو خلافت ميراثي او نسبي نه دی، په کومه کورنۍ او نسل کې محدود نه وي لکه: څنګه چې ابوبکر رضي الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم ميراثي او نسبي ځای ناستی نه و. او د اهل سنت له نظره نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپل ژوند کې خپل ځای ناستی ونه ټاکلو، بلکې د مسلمانانو صوابديد او انتخاب ته يې پرېښودلو، لکه: په مسلم شريف کې چې روايت دی چې يوځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خليفه د تعيين اراده وکړه بيا يې پرېښودله او ويې ويل: (يابی الله والمؤمنون الا ابابکر) الله او مؤمنان به له دې نټه وکړي چې له ابوبکر پرته دې بل څوک خليفه وي، چې دا د نبي کريم صلی الله عليه وسلم لخوا د امت پر ټولنيز صوابديد يو ډول باور کول و او حکمت يې دا و چې د يو ځانګړي تن په ټاکلو سره دا کار د تل لپاره يوه تګلاره ونه ګرځي، همدا لامل و چې ابوبکر رضي الله عنه د خلکو له بحث او مباحثې وروسته د خليفه په توګه وټاکل شو، چې په دې سره مسلمانانو ته دا اختيار حاصل شو چې خپل واکمن په خپله وټاکي.

## د سياسي نظامونو بڼې او د واکمنانو نومونه يې:

د دولت اوسنی تعريف چې پر دريو يا څلورو عناصرو مشتمل دی چې هغه عبارت د خلکو، جغرافيې، حکومت او حاکميت له ټولګې څخه دی، په دغو عناصرو کې يې د قلمرو يا جغرافيې عنصر د اسلامي هېوادونو ترمنځ د ډېرو علماوو په باور د منلو وړ نه دی، بلکې قلمرو بايد د عقيدې له مخې وټاکل شي، خو اوس د ټولو ترمنځ په خوښه يا ناخوښه منل شوی دی، خو دريم عنصر يې چې حکومت

دی دغه حکومت بیا بېلابېلې بڼې لري کله شاهي وي، کله جمهوري، کله امارتي، یعنې دولت یو کل شو، خو امارت چې د واکمنۍ بڼه ده، دا یې یوه برخه شوه، نو ځکه واکمن ته کله، ولسمشر، جمهور رئیس، صدر اعظم، وزیر اعظم، خلیفه، امیرالمؤمنین، امام او پاچا یا سلطان ویل شوي دي.

پورتنۍ اصطلاحات د واکمنۍ تر بېلابېلو ډولونو پورې تړاو لري چې پر دغو اصطلاحاتو نومول شوي کسان د هغو واکمنیو په سر کې قرار لري، چې له مخې یې د دولتونو حکومتي چارې یا نظامونه پر بېلابېلو ډولونو وېشل کېږي لکه:

**۱- جمهوري نظام:** دا ډول نظام ته په اسانه تورو د خلکو حکومت ویل کېدای شي، د آمریت پر خلاف په دغه ډول نظام کې ټولې پرېکړې د خلکو استازي کوي.

**۲- پاچايي یا سلطني نظام:** د دغه ډول نظام په سر کې یو تن د پاچا یا سلطان په نوم شتون لري او د خپلو کړنو مسؤولیت نه لري، سره له خپلو ټولو ډولونو یې.

**۳- اسلامي نظام:** چې د اسلامي خلافت، امامت او امارت په نوم ترې یادونه کېږي او په اسلامي تاریخ کې د مسلمانانو مشر او د اسلامي هېواد واکمن ته امیر، خلیفه او امام ویل شوی دی.

## د اوسني مروجه جمهوریت او اسلامي خلافت ترمنځ د توپیرټکي:

الف: په جمهوریت کې د اکثریتو رایه معتبره ده خو په اسلامي خلافت کې د اهل حل او عقد.

ب: په جمهوریت کې د رایه ورکوونکي لپاره ټاکلی عمر، د هېواد تابعیت لرل، د تذکرې ستېکر، مخکې نوم لیکنه او...... شرط دي، خو په اسلامي خلافت کې د اهل حل او عقد لپاره بیا د اسلامي عقیدې له پلوه رسوخ او مضبوطې، نارینه والی، په دیني علومو کې پوختګي، تقوا او پر دین ټینګ دریدل او د هېواد پر حالاتو او اوسني سیاست کې بشپړ بصیرت درلودل شرط دي.

ج: همدارنګه په جمهوریت کې د ولسمشر لپاره ځانګړی عمر، د هغه هېواد تابعیت لرل او..... شرط دي خو په یو اسلامي هېواد کې هم د مشر لپاره دیني پوهه، شجاعت او بهادري، د اسلامي عقیدې له پلوه رسوخ او مضبوطې، نارینه والی، تقوا او پر دین ټینګ دریدل او ... اړین دي.

د: په مروجه جمهوریت کې ولسمشر خپلواکه نه وي، بلکې د مقننه قوې د پرېکړې پابند وي، خو په اسلامي خلافت کې خلیفه خپلواک وي یوازې په مهمو چارو کې د اهل حل او عقد څخه مشوره اخلي، که د هغوی رایه سمه وه له هغې سره سمه پرېکړه کوي، خو د هغوی مشوره الزامي اړخ نه لري.

## د مروجه جمهوریت په اړه د علماوو اندونه:

د ځینو علماوو له نظره مروجه جمهوري نظام له اسلام سره هیڅ اړیکه نه لري او باید په اسلامي هېوادونو کې شتون ونه لري ځکه:

۱- په دغه ډول نظام کې حزب اقتدار او حزب اختلاف دواړه وي، خو اسلام وايي: (واعتصموا بحبل الله جمیعا) چې ټول د الله پر رسۍ منګولې ولګوئ.

۲- په جمهوریت کې ټولې پرېکړې د اکثریت پر بنسټ کېږي، خو په اسلام کې د اکثریتو د رایې په اړه راځي: (وان تطع اکثر من في الارض یضلوک عن سبیل الله) که ته په ځمکه کې د ډېریو پیروي وکړې، هغوی به دې د الله له لارې لار ورکی کړي.

۳- اوسنی جمهوري نظام یو غیرفطري له لوېدیځ څخه راوړل شوی تپل شوی نظام دی چې له کیفیت پرته یوازې کمیت ته پکې کتل کېږي، څوک چې ډېرې رایې یوسي هغه بریالی دی، د نارینه او ښځینه، پوه او ناپوه، ښه او بد ټولو رایه پکې برابره ده.

۴- د جمهوریت د ټاکنو کړنلاره ناسمه ده ځکه د رایې خپلولو

لپاره خپلوی له منځه وړل، د زياتو پيسو لګول، فريب او دوکه، رشوت، د مخالف لوري ګواښل او وژل يکې عملي اړخ لري.

۵- د ټاکنو د ګټلو او يا بايللو په صورت کې يو شمېر نوري ناخوالې او ناروا کړنې ترسره کېدل چې لامل يې همدغه په جمهوري بنه ټاکنې دي.

## په اسلام کې د مشر ټاکلو کړنلارې:

په اسلام کې د سرونو د شمېرلو پر ځای انسانيت تلل کيږي، له همدې امله په اسلام کې د مشر ټاکلو ځانګړې کړنلارې دي لکه:

**۱- د اهل حل او عقد بيعت:** کوم چې د ابوبکر رضي الله عنه د ټاکلو لپاره ترسره شو.

**۲- استخلاف:** د وخت خليفه له يوڅو اهل حل او عقد سره مشوره وکړي او دا سپارښتنه وکړي چې له ما وروسته دې فلانی زما ځای ناستی شي لکه: ابوبکر رضي الله عنه چې له عثمان، عبدالرحمن بن عوف، سعيد بن زيد، اسيد بن حضير او له مهاجرو او انصارو څخه د نورو يوشمېر اهل حل او عقد رضي الله عنهم سره مشوره وکړه او عمر رضي الله عنه يې وټاکلو.

**د استخلاف له لارې د مشرټاکلو شرطونه:**

الف: په لومړي خليفه کې به د خلافت ټول شرطونه شتون لري.

ب: دوهم خليفه به هم د خلافت اړوند ټول شرطونه لري.

ج: لومړي خليفه به د دوهم خليفه په ټاکلو کې له اهل حل او عقد سره مشوره کړې وي.

**۳- شورا:** دريېمه کړنلاره د شورا له لارې د خليفه ټاکل دي، چې د وخت خليفه د اهل حل او عقد څخه يوه شورا جوړه کړي او بيا دا وصيت ورته وکړي چې له ما وروسته چې دغو کسانو له خپلو څخه په يوه خوله هرڅوک وټاکل هغه به خليفه وي، لکه: عمر رضي الله عنه چې له عثمان، علي، زبير، طلحه، سعد او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنهم څخه يوه شپږکسيزه شورا جوړه کړه چې په پايله کې يې د عثمان رضي الله عنه ټاکنه رامنځته شوه.

**۴- استيلاء او تغلب:** چې د خليفه له مړينې وروسته يوڅوک په زور او ځواک خلافت لاسته راوړي، چې د هغه خلافت هم منعقد بلل کيږي او پيروي يې واجبه ده.

## ټاکنې او ستونزې يې:

۱- په ټاکنو کې په عامه توګه هغه څوک بريالي کيږي چې زياتې رايې ترلاسه کړي، خو که نوماندان زيات وي بيا داسې هم کيږي چې څوک په خپله حوزه کې پنځلس سلنه رايې ترلاسه کړي هغه هم بريالی اعلانيږي، او نوري پنځه اتيا سلنه رايې ځکه بې پايلې او باطليږي چې بېلابېلو کسانوته ته ورکړل شوي دي او هيچا هم پنځلس سلنه نه دي پوره کړې، چې په دغه صورت کې لږکي د اکثريتو استازيتوب کوي. د دغې ستونزې د له منځه وړلو لپاره ډېری هېوادونو له بېلابېلو لارو چارو څخه کار اخيستی دی لکه:

۲- فرانسې د Second Ballot د دوهمې ټاکنې لاره غوره کړې ده د دغې کړنلارې معنا داده چې که يو چا له خپلې حوزې څخه پنځوس جمع يو رايې ترلاسه کړې هغه بريالی دی. خو که هيچا هم پنځوس جمع يو پوره نه کړ د يوې اونۍ په ترڅ کې د دوهم ځل لپاره ټاکنې کيږي چې دغه ځل بيا يوازې هغه خلک نوماند کېدای شي چې په لومړي ځل يې له دوولس نيم سلنه زياتې رايې ترلاسه کړې وي او بيا چې هرچا زياتې رايې واخيستې هغه بريالی دی.

۳- بل ډول د Proportionate Representation يعنې د متناسب استازيتوب ټاکنې دي چې دا بيا په خپل وار په بېلابېلو صورتونو وېشل شوې دي:

الف: يو صورت يې دادی چې کومې د ټاکنو پانې خپريږي

په هغو کې د هیڅ نوم نه وي، بلکې د ډلو نومونه او نښانونه وي پکې او خلکو ته ویل کیږي چې کومه ډله مو خوښه وي د هغې مخې ته نښه کیږدئ، بیا له ټاکنو وروسته کټل کیږي چې په ټول هېواد کې کومې ډلې څو سلنه رایې ترلاسه کړې دي، چې هرې ډلې څومره سلنه رایې ترلاسه کړې وي همدومره سلنه څوکیانې په پارلمان کې ورکول کیږي، چې د همغې ډلې همدومره سلنه استازي به د پارلمان غړي جوړیږي.

ب: په ځینو هېوادونو کې بیا یوه ډله د خپلو نوماندو غړو نومونه وړاندې کوي چې هغه کسان به د پارلمان غړي جوړوي، چې په هغو کې ځینې لومړیتوبنه په پام کې نیول شوي وي د بلګې په ډول: یوه ډله د پنځوسو کسانو لېست وړاندې کوي؛ نو اوس که همدغه ډلې پنځوس سلنه رایې ترلاسه کړې، همدغه پنځوس کسان به د پارلمان غړي جوړیږي، خو که یې رایې کمې وي بیا به په لېست کې لومړیو نومونو ته لومړیتوب ورکول کیږي، پر دغه کړنلاره هغه مهال عمل کېدلای شي چې ټاکنې د سیاسي ډلو پر بنسټ ترسره شي.

ج: په ځینو وختونو کې په هره حوزه کې خلکو ته د ترجیحي رایو اختیار ورکول کیږي، د بېلګې په ډول: په یوه حوزه کې ډېر خلک نوماند دي؛ نو خلک له هغوی څخه یوازې دریو کسانو ته د لومړیتوب له مخې رایه ورکولای شي چې د یو، دوه او درې نښو په کارولو سره لومړی، دوهم او درېیم انتخابوي، او د دې ترڅنګ دا خبره هم په ډاګه کوي چې په فلانۍ حوزه کې به تر دېرش زرو کمو رایو څوک نه بریالی کیږي، نو بیا چې چا دېرش زره رایې اخېستې دي هغه بریالی اعلانیږي او که تر دېرش زرو یې زیاتې رایې اخیستې وي؛ نو هغه زیاتې رایې په اتومات ډول دوهمې ترجیح والا نوماند ته لېږدول کیږي چې دغه نظام ته واحد د لېږد وړ رایه Single Transferable Vote ویل کیږي، معنا داچې رایه یوه ده خو د متبادلې لارې څخه له یو چا څخه دوهم تن ته ولېږدل شوه.

د لړکیو د رایو پر بنسټ د واکمنۍ د رامنځته کېدو د حل لپاره چې کومې کړنلارې په ګوته شوې دي هغه بیا هم هیڅ نظام په دې حل لارو کې په بشپړ ډول نه دی بریالی شوی او بل دا چې دغه کړنلارې ډېرې پېچلې هم دي؛ نو څومره چې پېچلتیا زیاته وي همدومره د درغلۍ چانس زیات وي، لګښت یې ډېر، او تر ډېرو ورځو پورې یو غیر باوري حالت خپور وي او بیا هم سل په سلو کې د اکثریتو د استازولۍ ډاډ نه ترلاسه کیږي.

## د پورتني ټول بحث پایله:

علماء وایي چې دغو اصولو ته په کتو سره د حکومتولۍ ډول، عملي کاري چوکاټ او د خلکو له خوا احتساب یې د هرې زمانې له حالاتو سره تړاو لري چې په ۱۴ سوه کاله تعامل کې د عوامو او علمي حلقو له لوري د بېلابېلو حکومتولیو د ډولونو او شکلونو د جواز سندونه تر لاسه شوي دي؛ نو د افغانستان اوسني قیادت ته په کار ده چې د انعطاف او نرمښت په خپلولو د نظام د ډول، تقنین، قضاء او اجرائیه قوې په برخو کې له ژور سمون راوستلو ورسته د خلکو د باور په ترلاسه کولو سره د علماوو د اجتماعي اجتهاد په رڼا کې یوه داسې واکمني رامنځته کړي چې هم د اسلامي هېوادونو لپاره یوه حسنه قدوه وي او هم له نړیوالو سره له یو مخ ټکر څخه د خوندیتابه لارې چارې پکې په پام کې نیول شوې وي، (ما لا یدرک کله لا یترک کله).

# د کورنۍ ديني روزنه، د چا مسؤليت...!؟

شفيع الله محمدي

په کورونو کې تر ټولو ستره نيمګړتيا او کمزوري ديني شعائرو، اصولو، احکامو او کارونو ته په جدي توګه پاملرنه نه کول دي، ياني نه علمي مجلسونو ته تګ او نه هم د ديني علومو او درسونو زده کړه او اورېدل شته.

بايد په ياد ولرو چې د ذکر شويو کارونو اړتيا زموږ په ژوند کې داسې مثال لري لکه څنګه چې خوراک او څښاک د ژوندي پاتې کېدلو په پار ضروري وي، او دا هم هغه ارزښتونه دي چې د قيامت په ورځ د انسان د نجات (خلاصون) سبب ګرځي.

حقيقت دا دی چې ډېری خلک د خپلې کورنۍ، ښځې اوماشومانو ديني ښوونې او روزنې ته سمه پاملرنه نه کوي، بيا د ښځې او اولادونو له رويې څخه شکايت هم کوي، خو په دې نه پوهېږي چې د کورنۍ د غړو د ناوړه سلوک او تعامل اصلي عاملين دوئ پخپله دي، دا چې د کور مشران خپله له دين څخه ناخبره وي نو څنګه به وکولای شي چې د خپل رب عبادت او بندګي او د حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم اطاعت په سمه توګه اداء کړي. کله چې پلار يا د کور بل هر مشر له دې واجب څخه بې پروا او بې خبره وي، نو د کورنۍ نور غړي به څنګه وکولای شي چې په ديني شعائرو، اصولو، احکامو او کارونو پوه واوسي.

د اکثرو کورونو د ړنګېدو (بې اتفاقي،جدايي) اصلي لامل او سبب د ديني زده کړو او لارښوونو څخه لرې والی او بې خبري ده، موږ د ډېرو داسې مواردو شاهد يو چې د ځينو کورنيو اکثريت غړي په دې لا نه پوهېږي چې د جنابت غسل څنګه بايد وکړي؟ نو په دومره جهالت کې به هغوئ د يو بل پر حقوق، متقابل احترام او درناوی څنګه پوه شي؟

د دې ستونزې د حل يوازېنۍ لار د ديني او شرعي علومو زده کړې دي، هر هغه څوک چې د خپلې کورنۍ سرپرستي پر غاړه لري، دا پرې واجب ده چې د خپلې کورنۍ تر لاس لاندې غړو ته د ديني او شرعي زده کړو زمينه برابره کړي ځکه چې دا يې مسوليت دی، الله تعالی په قران کريم کی فرمايي: (يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَ أَهْلِيكُمْ ناراً وَقُودُهَا النَّاسُ وَ الْحِجارَةُ ) سورة التحريم (٦).

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی خپل ځانونه او د کورنۍ غړي مو د دوزخ له اور څخه وژغورئ، هغه اور چې خاشاک به يې انسانان او کاڼي وي...

د ذکر شوي آيت کريمه په تفسير کې مُفسرين ليکي چې دا په هر مسلمان باندې لازمه ده چې خپل اهل، عيال، وينځو او خپلوانو ته هغه څه ور زده کړي کوم چې الله تعالی په هغوئ فرض کړي دي، او له هغو شيانو څخه يې منع کړي له کومو شيانو څخه يې چې منع کړي دي.

هغه کورنۍ ځومره نېکمرغه او بختوره ده چې الله تعالی سړي ته يوه نېکه او صالحه ښځه ورپه برخه کړي، يا ښځې ته يو نېک خاوند ورپه برخه کړي تر څو د الله تعالی په عبادت، بندګي او د بشريت د ستر لارښود حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په اطاعت کې يو له بل سره مرسته وکړي، او ځومره د خوښۍ ځای دی چې الله تعالی يوه کورنۍ کې نېک افراد سره را ټول کړي کوم چې يو له بل سره په نېکو کارونو کې مرسته کوي او يو بل نيکي ته سره هڅوي.



# د قانون او تقنين اهميت او ضرورت

ليکوال: څېړندوی عبدالقهار عزيزي

## د قانون او تقنين معنی او مفهوم

تقنين چې پښتو ژبه کې د قانون جوړونې په معنی دی، عربي کلمه ده. تقنين د «قنن» مصدر دی او د قوانينو وضع کولو په معنی دی او قانون «داندازه‌کولو او طريقې» په معنی استعمال شوی دی. په اصطلاح کې تقنين، د احکامو تدوينول په داسې ډول چې په مرتب ډول د شمېرو لرونکي وي. اوسني مدني، جنايي او اداري قوانين يې ښې بېلګې دي. دا ډول چاره ساده او خاص ده چې قضات په اسانۍ سره مقييدوي، وکيلان ورته مراجعه کوي او اتباع يې پر بنسټ تعامل کوي.

يا په بل عبارت، د قانون لغوي معنی مقياس او طريقه ده. موخه هغه مجموعه قواعد دي چې د افرادو ژوند تنظيموي. تقنين بيا په منظم او مرتب ډول د تشريعي قواعدو او احکامو راټولول دي.

دکتور وهبة الزحيلي وايي: تقنين د معاملاتو او نورو عقوداتو او لاره پرانيستونکو نظرياتو اړوندو احکامو تدوينول دي چې د قانوني موادو په بڼه رامنځته کيږي او رجوع کول ورته اسانه او ساده وي.

### په اسلام کې د تقنين تاريخ

په اسلامي تاريخ کې تقنين يا قانون جوړونه کوم نوی څيز نه دی. بلکې د اسلام د پيل راهيسي رامنځته شوی دی. په اسلام کې د تشريع په نوم هم يادېږي. د تشريع او تقنين کوم ځانګړی توپير نه ليدل کيږي. په عربي هېوادونو کې تقنين او تشريع په يوه معنی کارول کيږي.

کله چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم معاذ بن جبل (رضي الله عنه) يمن ته د قاضي په توګه استاوه، نو ورځخه يې وپوښتل چې فيصله به په څه کوې، نوموړي ځواب ورکړ چې په کتاب الله، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل که دې هلته ونه موندل بيا؟ نوموړي عرض وکړ چې په سنت رسول الله، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم بيا وپوښتل، که دې هلته هم ونه موندل بيا، نو معاذ (رضي الله عنه) وفرمايل چې خپل اجتهاد به کوم. دا په دې معنی ده چې د قاضي نظر له قران او سنتو وروسته مقام لري او همدا اجتهاد، له معاصر تقنين سره نږدې دی خو توپير يې دا دی چې اجتهاد د مجتهد ليدلوری او د مجتهدينو نظريات سره توپير لري خو په تقنين کې بيا د نظر خاوندانو ليدلوري سره وحدت مومي او په يوه ټولګه کې تنظيمېږي.

د لومړي ځل لپاره د تقاعد سستم نه المان رامنځته کړ، نه امريکا او نه غرب، دا نظام عمر فاروق (رضي الله عنه) رامنځته کړ. يوه ورځ عمر (رضي الله عنه) د مدينې په بازار کې روان و، يو سپين ږيری يې وليده چې سوال کوي،

پوښتنه یې ترې وکړه، مشره د کوم ځای یې؟ بوډا وویل، زه یهودي یم، له خلکو سوال کوم، څو جزیه برابره کړم او بچو ته پرې څه واخلم. عمر په دریدلي غږ وویل، موږ درسره انصاف نه دی کړی، په زلمیتوب کې مو درنه جزیه واخیسته خو په بوډاتوب کې مو ضایع کړې، بیا یې بوډا له لاسه ونیوه، خپل کور ته یې بوتلو، خواړه یې ورکړل، د بیت المال مسئول یې راوغوښت، ورته یې وویل، ده او ده ته ورته خلکو ته له بیت المال نه لګښت ورکړه. میاشتنی معاش یې ورته وټاکه او د تل لپاره یې ترې جزیه ساقطه کړه. بیا عمر همدا کار له هغو صحابو کرامو سره وکړ چې عمر یې خوړلی و، ټول عمر یې د بیت المال نه ورته ځانګړی معاش وټاکه «شرر صافی» دغه راز، نوي زیږیدلي ماشوم ته د معاش ټاکلو اصل، چې اوس مهال په اروپایي او غربي هېوادونو کې عام دی؛ د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) له لوري ایجاد شوی دی. همدارنګه، هغه مشهوره واقعه چې حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) ته یو کس جګیږي او د غنیمت د هغې ټوټې د وېش په اړه ترې وضاحت غواړي چې د مسلمانانو ترمینځ وېشل شوې. حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) خپل زوی ته وایي چې ځواب ورکړي. دا دې ښودنه کوي چې اسلام کې د بیان ازادي تر نورو وړاندې منل شوی اصل دی او اسلامي حکامو ورته ارزښت ورکړی دی. په همدې ډول، کله چې له جګړې پرته د بیت‌المقدس د فتحې لپاره حضرت عمر (رضي الله عنه) له خپل غلام سره یو ځای بیت المقدس ته داخلیږي او د عمر فاروق (رضي الله عنه) له لوري ټاکل شوي نوبت په اساس غلام په اوښ سپور بیت‌المقدس ته داخلیږي، دا خپله د قوانینو د ایجاد او د حکامو له لوري د رعایت ښه او عالي مثالونه ګڼل کیږي. علاوه پر دې، د اداري او قضايي چارو د ثبت په موخه دېوانونه هم د حضرت عمر (رضي الله عنه) په زمانه کې رامنځته شول. په اوسنی نړۍ کې اداري قوانین او قضايي قوانین دا چارې تنظیموي چې د قوانینو ایجاد ته ضرورت روښانه کوي.

همدارنګه، د حضرت عمر په زمانه کې لومړي ځل لپاره اداري سیستم په ولایتونو او ولسوالیو ووېشل شو. حضرت عمر (رضي الله عنه) په خلافت کې ۱۳ ولایتونه (مکه معظمه، مدینه منوره، بصره، کوفه، جزیره، سوریه، الیاء، راملا، برنی مصر، ښکتنی مصر، خراسان، آذربایجان او فارس) او ۱۰۰ ولسوالۍ وې چې ولسوال به خپله خلیفه یا والي انتخاباوه. ددې سر بېره په ولایتي کچه لاندې رییسان هم موجود وو: کاتب، د دارالانشاء مشر؛ ۲- کاتب الدیوان، پوځي منشي؛ ۳- صاحب الخراج، د عوایدو رییس؛ ۴- صاحب الاحداث، د پولیسو مشر؛ ۵- صاحب بیت المال، د خزانې مشر؛ ۶- قاضي، د قضاتو مشر. په دې زمانه کې والیان په لیکلي امر انتخابېدل. د حضرت عمر (رضي الله عنه) د خلافت پرمهال لومړي ځل لپاره د دولتي مامورینو پر ضد د شکایتونو څېړنې ځانګه ایجاد شوه. دې ځانګې د اداري محکمې په ډول خپل کار پرمخ وړلو، چې قانوني کړنلاره یې خپله حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) له لوري رهبري کېده. ددې ځانګې مشر محمد ابن مسلمه و، چې عمر (رضي الله عنه) د ډېر باور وړ کس و. ځنې وختونه به د ګروېږنې کمیسیون هم جوړېده ترڅو د اتهام تحقیق وکړي. دا د اداري سیستم یوه بې‌ساري بېلګه ده او د اداري قوانینو په واسطه تنظیمیږي. ددې سربېره حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د لومړي ځل لپاره لاندې چارې ترسره کړې:

۱- لومړنی کس دی چې د وزارتونو دولتي سیستم یې رامنځته

کړ، د چارواکو او عسکرو سوانح په کې ثبت کېدې. همدارنگه داسې دفتر یې رامنځته کړ چې والیانو او د حکومتونو مشرانو ته استولي حکمونه او فرامین په کې ساتل کېدل.

۲- لومړي ځل لهپاره یې د عامه نظم په موخه پولیس رامنځته کړل.

۳- د بېنظمۍ پرمهال یې د خلکو د نظم د ساتلو مقررات رامنځته کړل.

۴- چارواکي یې د دندې تصدۍ پرمهال له سوداگریزو معاملو منع کړل. یو ځل د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) استازی د حارث ابن کعب ابن وهب سره د هغه له معاش زیاتې پیسې ولیدل شوې. عمر(رضي الله عنه) ترې د شتمنۍ پوښتنه وکړه. نوموړي وویل چې دا یې په سوداگرۍ کې گټلې دي. حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) وفرمایل، قسم په الله چې موږ ته تجارت لهپاره نه یې استولی، او ترلاسه کړې گټه یې ترې بېرته واخیسته.

دا چې اسلامي حکومت په هغه دوره کې پراخه شوی و، حضرت عمر(رضي الله عنه) ددغو ساحو د کنټرول لهپاره ځینې وزارتونه او ادارې رامنځته کړې. لومړي ځل لهپاره یې په دولتي چوکاټ کې پوځي اداره رامنځته کړه. ددې سربېره، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) د فقهې مؤسس هم گڼل کیږي. یو لوی اسلامي فقیه په توگه په اسلامي تاریخ کې ثبت دی او په ورته ډول، نوموړي د لومړي ځل لهپاره اسلامي قوانین تدوین کړل. حضرت عمر (رضي الله عنه) د لومړي ځل لهپاره له بېوزلو سره تر مشورې وروسته هغوی ته بیتالمال ایجاد کړ. دغه بیتالمال به له مسلمانو او نامسلمانو بېوزلو، اړمنو، زړو، یتیمانو، کونډو او معیوبینو سره مرسته کوله. بیتالمال له خلفای راشدینو څخه تر اموي واکمنۍ او بیا تر عباسي دورې پورې سلگونه کلونه فعال و. دغه راز عمر (رضي الله عنه) لومړي ځل له پاره ماشومانو ته د معاش او زړو کسانو سره د مرستې لهپاره د تقاعد سیستم او مقررات هم رامنځته کړل.

دا هغه څه و چې په قران او احادیثو کې نه و. مگر د مقرراتو په توگه یې ایجاد کړل. ددې سربېره، په اموي خلافت او دغه راز په عباسي خلافت کې د حکومتي چارو د سمون په خاطر بېلابېل ادارات رامنځته شول. ځینې اصلاحات له نورو امپراطوریو تقلید او ځینې نوي رامنځته شول. دا ټول د ځانگړو قواعدو او مقرراتو په اساس پر مخ تلل چې د قوانینو اړتیا ترې روښانه کیږي. په وروستیو کې د فتاوی الهندیه یا فتاوی العالمگیریه کتاب چې د هندي علماؤو تدوین کړی دی، د عباداتو، عقوباتو او معاملاتو اړوند احکام په کې تدوین شوي دي، دغه راز په ۱۸۶۹ ز. کال کې د مجلةالاحکام تنظیمول چې د حنفي فقهې په اساس تدوین او د بیع، دعوی او قضاء اړوند احکام په کې راټول کړای شوي دي د تقنین تر ټولو ښې بېلگې دي. تقنین په حقیقت کې په معینو احکامو باندې د قاضي ملزومول دي چې تجاوز ونهکړي. خلیفه ابو جعفر المنصور له امام مالک څخه په ۱۶۳ هجري کال وغوښتل چې د اسلامي شریعت د اصولو د احکامو او مصادرو په اړه یو جامع کتاب ولیکي. مجلة الاحکام د عثماني خلافت او دغه راز په هند کې دمظفر محي الدین اورنگ په بلنه هندي علماؤو فتاوی هندیه یا فتاوی عالمگیریه ولیکله. عبادات او معاملات په کې راټول شوي و. دا د تقنین په معنی دی. د قدري پاشا « مرشد الحیران» قانون العدل والإنصاف» کتاب الأحکام الشرعیة في الأحوال الشخصیة» په نومونو کتابونه هم د قانون په مثال دي.

## د تقنین پلویان علماء او مشایخ

په جمهورو معاصرو فقهاؤو کې شیخ صالح بن غصون، شیخ عبدالمجید بن حسن، شیخ عبدالله خیاط او نورو علماؤو د تقنین د جواز او ضرورت په اړه لیکنې کړې دي. معاصرو مشاهیرو لکه شیخ محمد عبده (چې د سید جمال الدین افغاني شاګرد دی)، شیخ احمد شاکر، شیخ محمد أبو زهرة، شیخ مصطفی زرقا، شیخ علي الطنطاوي، الدکتور وهبة الزحیلي، الدکتور یوسف قرضاوي، شیخ محمد بن الحسن الحجوي صاحب د تقنین روا والي پلویان دي.

## دلایل

-الله تعالی په قرانکریم کې فرمایي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ» النساء: ٥٩. دا ایت شریف امر کوي چې د الله تعالی او د رسول الله له امر وروسته د اولي الامر یا حاکم امر ومنئ. د حاکم امر، خپله د تشریع په حکم کې قرار لري چې اصول او احکام ایجادوي. قانون هم له هغه وروسته نافذ ګرځي، چې حاکم یې لاسلیک کړي. د تقنین او تشریع ترمنځ دلته اړیکه ځرګنده او روښانه کیږي. ددې سربېره باید په پام کې ونیول شي، چې د مخلوق اطاعت یوازې په روا کارونو کې جواز لري او ناروا کارونو کې اطاعت نشته لکه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې فرمایي «لا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق». نو چې کوم روا کارونه وي، ولو که مباح هم وي، کله چې یې اولي الامر حکم وکړي، لازم ګرځي.

- د معاذ بن جبل (رضي الله عنه) یمن ته د قاضي په توګه استولو حدیث کې، اسلام ددې جواز ورکړی دی چې عالم/مجتهد کولی شي داسې مسایل د احکامو په توګه رامنځته کړي چې په قران او احادیثو کې نه وي موجود.

- «لا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق» حدیث شریف ددې امر کوي چې د مخلوق اطاعت به په هغو کارونو کې نه کوئ چې د الله تعالی معصیت لامل ګرځي. دا امر د پلار، مېړه او اولي الامر حکم ته متوجه دی. یعنې د دوی اوامر په هغه صورت کې د منلو وړ دي، چې د الله تعالی له حکمونو سره مغایرت ونه لري، بلکې موافق اوسي. تقنین همدې ته وایي چې اولي الامر د کوم ځیز امر وکړي او دغه اوامر په یوه ټولګه کې منظم او ترتیب کړی شي. که چېرته تقنین ته اجازه نه وای، رسول الله صلی الله علیه وسلم به امر کړی وای چې مخلوق دې د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم ځخه پرته بل ځه نه حکم ایجادوي او نه حکم کوي. دلته اصل ذکر شوی او اصل دا دی چې حکم به د الله تعالی د حکم خلاف نه وي، نو همدا دلیل دی چې تقنین کوم ناروا عمل نه دی بلکې چارې تنظیموي.

- د خلفاي راشدینو، په ځانګړې ډول د حضرت عمر فاروق(رضي الله عنه) د خلافت په زمانه کې ډېرو مسایلو لەپاره مقررات ایجاد شول. دا مسایل پورته په تفصیل سره ذکر شول. بیا یې وضاحت ته اړتیا نه لیدل کیږي. د صحابه کرامو اقوال او اعمال موږ ځکه د دلیل په توګه وړاندې کوو چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي: {اصحابی كَالنُّجُومِ بِأَيِّهِمْ اقْتَدَيْتُمْ اهْتَدَيْتُمْ} ژباړه: زما اصحاب د ستورو په شان په دوی پسې اقتداء وکړئ هدایت به ومومئ».

- که چېرته تقنین یا قانون جوړونه ترسره نه شي، نو دا به د حکومتي او قضایي چارو د بې‌نظمۍ لامل شي. لکه ځرنګه چې بېلابېل علماء او بېلابېل فقهي مذاهب شتون لري، قاضي به په یوه مسئله کې یو ډول او بله مسئله کې د بل امام د نظر مطابق فیصله کوي. په احنافو کې هم

ځيني داسې مسايل شته چې امام ابوحنيفه، امام محمد او امام ابويوسف پرې جلا جلا نظريات لري. نو فلهذا د قضايي چارو د وحدت په خاطر اړينه ده چې ټول مسايل په واحده ټولګه کې ځای پر ځای کړل شي. دغه راز په حکومتي کچه د نظم راوستو لپاره، لکه ترافيکي نښې او لارښوونې مراعت کول او دې ته ورته نور مسايل د حکومتي چارو د نظم او سمون لامل ګرځي، که چېرته دا ډول قواعد او مقررات نه وي، نو بې‌نظمي او ګډوډي به رامنځته شي. ددې سربېره، په اسلامي شريعت کې حدود او قصاص ټاکل شوي مجازات دي. نورو جرايمو لپاره مجازات ټاکل د قاضي صلاحيت ګڼل شوی دی. د تعزيراتو په نوم يادېږي. دا په دې معنی نه ده چې له حدودو او قصاص پرته نور جرايم نشته، بلکې د امورو زمام لرونکي صلاحيت لري چې ځينو اعمالو ته مجازات وضع کړي. له هغه ځايه چې د افرادو نظريات سره متفاوت دي او دغه راز د نن ورځې په قضاتو بشپړ باور هم نشي کېدای چې ګوندې د خپلې خوښې مطابق به مخکې لاړ شي. که چېرته د نن زمانې قضات مقيد نه شي، ښايي ډېرې متغايرې او متناقضې پرېکړې وکړي. د فيصلو وحدت هم له مينځه ځي، نو فلهذا بايد يو لړ اصول وي چې د قضاتو د خپلسرۍ مخنيوی وکړي او مقيد کړل شي او دغه راز د حکمونو وحدت هم رامينځته شي. دې لپاره په هره برخه کې قوانينو جوړولو ته اړتيا ليدل کيږي.

- معاصره نړۍ کې ځينې داسې فعاليتونه رامنځته شوي دي چې په فقه کې يې مثالونه نه تر سترګو کيږي. د بېلګې په توګه ترافيکي جرايم او اړوند مسايل، د امنيتي کمرو نصبول، د برېښنا سرقت، يا په ټولنيزو شبکو کې د ځينو موادو نشر، له انټرنيټ څخه ګټه اخيستنه، انټرنيټي جرايم او نور اعمال. دې لپاره اړتيا ده چې اسلامي علماء ددغو مسايلو د جرمېندۍ او تنظيم په برخه کې مقررات ايجاد کړي. همدا مقررات په فقه کې د علماؤو نظريات او په حقوقو کې د قانون په نوم سره ياديږي چې تشريع او تقنين بلل کيږي.

دا چې په عمومي ډول د قوانينو ايجاد ته اړتيا څرګنده شوه، داسې يو قانون هم بايد وي چې ددغو فرعي قوانينو احکام ورسره په ټکر کې نه وي او ددغو قوانينو احکام تنظيم کړي. دا ځای دی چې اساسي قانون ته اړتيا محسوسوي.

## د اساسي قانون د ايجاد اړتيا

قوانين په بېلابېلو برخو وېشل شوي دي. اساسي قوانين، فرعي قوانين، مقررات، لوايح او طرزالعمل.

**اساسي قانون:** د نورو قوانينو مور ده او هغه قانون دی چې د دولت اساسي جوړښت، د دولت د درېګونو قواوو واکونه، د دغو قواوو اړيکې، د افرادو حقوق او وجايب او له دولت سره د افرادو اړيکې تنظيموي. دولت له درې ګونو قواوو څخه جوړ دی. د قواوو خپل مينځي اړيکې او صلاحيتونه او له افرادو سره اړيکې او دغه راز د افرادو حقوق او وجايب هغه مسايل دي چې اسلام کې يې په مغايرت کې کوم دليل شتون نه لري. اموي او ورپسې عباسي خلفاؤو له فارسيانو څخه اداري سيستم انتقال کړ. په اصطلاح د اداري سيستم په تنظيمولو او جوړولو کې يې فارسيانو تقليد وکړ. ديوانونه يې رامنځته کړل. ددغو سيستمونو د تنظيم په خاطر يې اصول وضع کړل او دا اصول په اوسنۍ معاصره نړۍ کې په اساسي قانون کې تنظيميږي چې په څرګنده د اساسي قانون د ايجاد غوښتنه کوي. اساسي قانون داسې کوم قانون نه دی چې ګواکې له شريعت څخه دې وړاندېوالی ولري يا له شريعت مخکې

ورته رجوع وشي (العیاذ باللـه) بلکې اساسي قانون هغه موارد چې په فقه کې راغلي دي او د دولت اړوند دي، وحدت ورکوي؛ او کوم موارد چې د دولت او دولتي قواوو اړوند وي او له فقې بهر پاته دي، ایجادوي خو داسې کوم ځه په کې نه ځای پر ځای کیږي چې له شریعت سره په ټکر کې وي.

افغانستان اسلامي هېواد دی. په اسلامي هېواد کې د قانون او په تېره بیا د اساسي قانون ایجاد لهپاره منابع د کفري هېوادونو سره توپیر لري. په افغانستان کې د قانون او په ځانګړي ډول د اساسي قانون منبع لومړی قرانکریم، دوهم سنت نبوي، بیا اجماع او قیاس او وروسته عقل دی. په داسې حال کې چې په کفري هېوادونو کې د قانون او په تېره بیا د اساسي قانون لومړنی منبع عقل دی. نو فلهذا زموږ قواعد او مقررات تر هغوی باید غوره او له هغوی ځخه باید په قواعدو ایجادولو کې مخکښ اوسو او همدا دلیل دی چې اروپایي هېوادونو د اسلامي هېوادونو له فقې او قوانینو ځخه استفاده کړې ده او خپل قوانین یې پرې بډایه کړي دي. اروپایي هېوادونو د حنفي فقې ځخه ډېره استفاده کړې ده او خپل قوانین یې پرې غني کړي دي. لامل یې عثماني خلافت دی. په عثماني خلافت کې حنفي فقه د دولتي قضایاو د حل مرجع ګڼل کېده. مجلةالاحکام کې یې تدوین کړه او له همدې مجلةالاحکام ځخه بیا اروپایي هېوادونو هم ګټه واخیسته. د بېلګې په توګه، په فرانسه کې د عقد/تړون یا په ساده اصطلاح د خرڅلاو پرمهال د پلورونکي او پیریدونکي په اراده کې رضا مهمه نه ګڼل کېده. یعنې که کوم کس به راغی او بل کس لهپاره به یې بام اخېړاوه، د بام ځښتن مکلف و چې اجوره یې ورکړي. یا زموږ په ټولنه اوسنی دود چې کوم کس په خپل سر د بل کس ځپلی/بوټان رنګ کړي. د فقهې او قانون له اړخه د اجورې مستحق نه ګرځي. اروپایانو دا چاره د اجورې د استحقاق سبب باله. مګر کله چې په ۱۸۰۳ ز. کال کې ناپیلیون د فرانسې مدني قانون جوړاوه، د عثماني خلافت پرمهال ایجاد شوي مجلةالاحکام ځخه، چې حنفي فقه یې د قواعدو په شکل منظمه کړې ده؛ استفاده وکړه او د عقد پرمهال د ارادې اختیار او رضامندي یې د عقد له شرایطو وګاڼه. دا په دې معنی چې اسلامي حکامو د فقهې مسایلو منظمولو وروسته وحدت رامنځته کړ او دا وحدت د نظم او ډسپلین سبب وګرځېد چې اروپایانو یې هم تقلید وکړ. موږ په نړۍ کې د یوازیني خپلواک اسلامي هېواد په توګه، باید په هره برخه کې د قوانینو او په تېره بیا د اساسي قانون د مخکښانو له ډلې اوسو او داسې منظم قوانین باید رامنځته کړو چې نوره نړۍ او په ځانګړي ډول غیر اسلامي هېوادونه له موږ ځخه استفاده وکړي.

د اساسي قانون په اړه بل دلیل د مدني میثاق دی. د مدینې میثاق د مدینې د تړون، د مدینې اساسي قانون، د مدینې دستور، د مدینې منشور، صحیفة المدینة او نورو نومونو سره یاد شوی دی. لومړنی تړون و چې حضرت محمد صلی اللـه علیه وسلم مدینې ته له هجرت ځخه وروسته عقد کړ. په دغه تړون کې د مسلمانانو، یهودو او آن بت پرستانو روابط تنظیم شول. په انګریزي ویکیپېډیا کې د ابن هشام سیرت په حواله دغه تړون ۴۷ مادهییز یاد شوی دی. دا تړون ځینو علماؤو د یو بین‌المللي سند په توګه او ځینو د اساسي قانون په توګه یاد کړی دی. هغوی چې د اساسي قانون مخالفت کوي، نو رسول اللـه صلی اللـه علیه وسلم په زمانه کې خو خپله رسول اللـه صلی اللـه علیه وسلم موجود و، بیا به یې د قران

او احادیثو په اړه ویلي وای چې ګواکې داسې یوه ترون ته ضرورت نشته. په هر حال، اساسي قانون هغه قانون دی چې د دولتي قواوو خپلمنځي اړیکې او صلاحیتونه او د افرادو حقوق او وجایب او له دولت سره اړیکې تنظیموي. مخکې دا روښانه شوه چې نورو قوانینو او لوایحو ته ضرورت دی. هره اداره ځانګړې لایحې، وزارتونه مقرراتو او بیا هغه څه چې د دولتي قواوو ترمنځ مشترک وي او همدارنګه افراد هم په کې شامل کړل شي، هغه بیا د عادي قوانینو، مقررو او لوایحو په واسطه نه تنظیمیږي. ځکه ساحه یې پراخه وي. نو فلهذا د نورو قوانینو ترڅنګ اساسي قانون ته هم اړتیا لیدل کیږي، خو شرط یې دا دی چې له اسلامي شریعت سره نه یوازې ټکر باید ونه لري، بلکې لومړنی منبع یې اسلامي شریعت وي. امام غزالي هم د اساسي قانون طرفدارانو علماؤو له ډلې دی او وایي چې په اوس وخت کې د چارو د سمون او انسجام لپاره شدیده اړتیا ده. ددې سربیره، عبدالرحمن کواکبي هم د اساسي قانون پلوی دی او وایي چې معاصره نړۍ کې ټول اسلامي هیوادونه اساسي قانون ولري او په خپل کتاب کې سلطان عبدالحمید ته اشاره کوي چې په واکمنۍ سره یې اساسي قانون له مینځه یووړ. له همدې وروسته یې استبداد شروع کړ او بالاخره عثماني خلافت ړنګ شو. نو د استبداد د مخنیوي او واکمنۍ د دوام په خاطر ضرور ده چې اساسي قانون موجود وي. خیرالدین تونسي د عثماني خلافت صدراعظم و، کله چې د انګلستان، فرانسې او جرمنۍ له سفر څخه راوګرځېد، «زما اولادونو ته نصیحت» تر نوم لاندې کتاب ولیکه. نوموړي په خپل کتاب کې ویلي چې اسلام کوم حقوق اتباعو ته ورکړي دي، هغه په اروپا کې عملاً موجود و. نو فلهذا دې لپاره اساسي قانون ته شدیده اړتیا ده ترڅو د اتباعو حقوق په ترتیب او منظم ډول له اسلامي نصوصو څخه استنباط

او د اساسي قانون په یوه ټولګه کې ځای پر ځای کړي. نو پورته دلایلو ته په کتو، په افغانستان کې نه یوازې عادي قوانینو، بلکې اساسي قانون ته هم شدیده اړتیا ده ترڅو د نظام اساسي کرښې روښانه او څرګندې شي او ترڅنګ یې له بین‌المللي رسمیت‌پېژندنې سره هم مرستندوی ثابت شي.

## ماخذونه


۱ـ قران کریم

۲ـ التونسی، خیرالدین، الوزیر المصلح المستنیر،www.aljazeera.net. په عربي.) ترلاسه شو په ۲۰۲۳-۳-۱۸.

۳ـ خدوری، مجید؛ گرایش‌های سیاسی در جهان عرب، ترجمه‌ی عبدالرحمان عالم، تهران، دفتر مطالعات سیاسی و بین‌الملل، ۱۳۶۹، چاپ دوم، ص ۲۳.

۴ـ ستانکزی، نصرالله، مبادي حقوق، انتشارات سعید، کابل،۱۳۹۷ .

۵ـ شریف، رحماني، د اسلام سیاسي نظام، استقلال خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۷ .

۶ـ شریف، رحماني، اسلامي سیاست، خپلواک خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ .

۷ـ طالقانی، سیدمحمود؛ مقاله‌ی کواکبی و استبداد، درج شده در: کواکبی، سیدعبدالرحمان؛ پیشین، مقدمه‌ی کتاب طبیعت استبداد.

۸ـ غزالی، ابوحامد محمد. (۱۳۶۳)، فضائل الانام من رسائل حجه الاسلام (مکاتیب فارسی)، بتصحیح و اهتمام عباس آشتیانی، تهران: انتشارات کتابخانه سنایی و کتابخانه طهوری.

۹ـ محمد غزالی، الاسلام و الاستبداد السیاسی، چاپ سوم، قاهره: دار الکتب الاسلامیه، ۱۹۸٤، ص ٥٤

۱۰ـ محمد غزالی، دستور الوحده الثقافیه بین المسلمین، چاپ دوم، کویت: دارالقلم، ۱۹۸۳، ص ۱۷۰.

۱۱ـ معني زیاده، اقوام‌المسالک في معرفه احوال الممالک، بیروت: انتشارات مؤسسه الجامعیه للدراسات و النشر و التوزیع، ۱۹۸۵، ص ۳۳؛ خیرالدین تونسي، پیشین، ج ۱، صص ۲۱، ۹۹-۹۸.

۱۲ـ همایی، جلال الدین، غزالی نامه، تهران: انتشارات کتابفروشی فروغی، ۱۳۴۲.

۱۳ـ واثق، احمدګل، مبادي حقوق، خپلواک خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۳ .

# په اوسنيو شرايطو کې ملي يووالي ته اړتيا

څېړنپوه دوکتور محمد شريف ځدران



د ملي يووالي اصطلاح له دوو کلمو جوړه شوې ده چې ملي يې ملت ته منسوب او يا په ملت پورې د اړوند په معنا ده، په اصطلاح کې د يوه هېواد د خلکو فکري او عملي اتحاد ته وايي چې د هېواد او ملت له خپلواکۍ، د خاورې له تماميت او ملي ګټو او ارزښتونو څخه دفاع وکړي. ملت له يو لوی جمعيت څخه عبارت دی چې په يوه واحده جغرافيه او د ځانګړو سرحدونو تر منځ واوسېږي، ګډ قوانين ولري، د يوه واحد حکمران له خوا اداره شي، ګډې ګټې او ګډ کلتور ولري، يا په بل عبارت: ملت په يوه ځانګړې سياسي جغرافيه کې د ګډ کلتور، ګډ تاريخ، ګډ اقتصاد او ګډو عقايدو لرونکو خلکو ته ويل کېږي.

د تاريخ په اوږدو کې افغانان هغه وخت د ژوند او پرمختګ لوړو پوړيو ته رسېدلي دي چې په کور دننه يې ملي يووالی او واحد قيادت رامنځته کړی دی او دا يو تاريخي واقعيت دی چې ملي يووالی تل د افغان ملت تاريخي، سياسي، فرهنګي او ټولنيزې ريښې ټينګې کړې او تل يې د کورنيو او بهرنيو دښمنانو ناروا کړنې او هدفونه شنډ کړي دي، په اوسني افغانستان کې چې څه باندې ځلوېښت کلنې جګړې او د لوېديځ او ختيځ پوځي يرغلونو او استعماري سياستونو افغانان په سياسي، اقتصادي او فرهنګي لحاظ سخت ځپلي دي؛ پکار دي چې اسلامي امارت او د هېواد سياستوال، روڼ اندي، ملي او قومي مشران د هېواد ملي يووالی يو ځل بيا پياوړی او ټينګ کړي.

اسلامي امارت او ملي يووالی يو تر بله نه شلېدونکې اړيکې لري او په بيا احيا او ټينګولو سره يې هېواد کې په ميراث راپاتې ستونزې حل او فصل کېدای شي؛ ځکه ملي يووالی دی چې اسلامي قيادت ته دوام او پياوړتيا بخښي او بالمقابل د اسلامي امارت قيادت بايد په هېواد کې ملي يووالي ته ښې زمينې برابرې کړي او پياوړې يې کړي؛ ځکه ملي يووالی له کورنيو او بهرنيو دښمنانو څخه د هېواد د ژغورنې يواځنۍ ګټوره او سالمه لاره ده.

زموږ په جګړه ځپلي هېواد کې د سياسي او ملي ثبات د لا پياوړتيا، د اسلامي، ملي، تاريخي، سياسي، ټولنيزو او اخلاقي ارزښتونو د بقا او ساتنې په موخه د مېشتو ورونو قومونو او ولسونو تر منځ ملي،

سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي همغږۍ ته ملي یووالی وایي؛ یا په بل عبارت: ملي یووالی زموږ د هېواد د بشپړې خپلواکۍ، ملي حاکمیت، د خاورې د تمامیت، د اسلامي او ملي ارزښتونو او په هېواد کې د ټولو پرګنو د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو حقونو د ټینګولو او تأمینولو په معنا دی.

په دې کې هېڅ شک نشته چې افغانستان د ډېرو وروڼو او قومونو ګډ کور دی؛ خو په اسلامي لحاظ دوی په خپلو کې سره وروڼه دي چې په دې ارتباط د بشریت د ستر لارښود محمد صلی الله علیه وسلم د حجةالوداع له وینا نه یوه لنډه خبره موږ ټولو ته یو لوی نصیحت دی؛ وایي: ((هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی)). (۱: ۵۵ مخ)

**د ملي یووالي مهم عناصر**

ملي یووالی پر لاندې روښانه قاعدو او عناصرو جوړېږي چې د هر عناصر د نه رعایتولو او عملي کولو په صورت کې ملي یووالی نیمګړی پاتېږي؛ له دې امله لاندې عناصر مهم او رعایتول یې اړین او لازم ګڼل کېږي:

۱- ملي حکومت؛ یا ملي ټولنه.

۲- ملي کلتور.

۳- ملي شوې ملي ګټې.

۴- د عوایدو او امتیازاتو وېشل.

۵- امنیت.

حکومت د هېواد او ملت د سیاسي واحدونو بنیادي رکن دی چې د دوو عنصرو: (سیاسي قدرت او حاکمیت له ځانګړتیاوو برخمن دی او د غوښتنو او ملي مشترکو ارزښتونو د تأمینولو او برابرولو خورا زیات ظرفیت په نویو ټولنو کې لري، د دې عنصر او رکن په عملي او علمي ډول نه کارول، کولی شي چې سیاسي واحدونه په لومړنیو او قبیلوي ټولنو او په مختلفو او متفاوتو ټولنیزو جوړښتونو باندې تبدیل کړي. (۲: ۱۱ مخ)

ملي یووالي ته په داسې یو هېواد لکه په افغانستان کې چې ډېر قومونه یکې اوسي؛ رسېدل ګډ ارزښتونه او محورونه لازم دي چې د خلکو افکار، چلندونه، مفکورې او اعمال د یووالي پر لور وهڅوي او د ټولنیز اتحاد او ملي باور د پیاوړتیا لامل وګرځي، دغه غوره محورونه عبارت دي له: مشترک هېواد، مشترک او واحد سیاسي حاکمیت، ملي او رسمي مشترکه ژبه او بالاخره روحي علایق او له مشترک تاریخ او ویاړونو سره مینه، که چېرې دغه ارزښتونه او محورونه د تاریخ په اوږدو کې خلکو ته وروښودل شي او د یوه هېواد او ملت وړ وګرځي؛ نو ارومرو دغه هېواد او ملت له تفرقې او ملي نفاق څخه ژغورې او د همدلۍ، همکارۍ او هر اړخیز مشارکت پر لور سوقېږي. (۳: ۱۳۴ - ۱۳۵ مخونه)

ملي یووالی د ټولو هغو عناصرو او لارو چارو مجموعې ته وایي چې په یو هېواد کې د ملتونو، قومونو او مېشتو نژادونو تر منځ اجماع راولي، د بېلګې په توګه: د لویې برتانیې درېو پوځي یرغلونو د افغانانو تر منځ ملي اجماع او ملي یووالی راوست او د لویې برتانیې د ماتې لامل وګرځېد.

د ملي یووالي ځانګړتیاوې ملي حکومت، ملي دولت، یا ملي ټولنه، ملي فرهنګ، مشترکې ګټې، د امتیازاتو او عوایدو برابر وېش ګڼل کېږي. (۴: ۵۶ مخ)

ملي یووالی او ملي پیوستون هغه یووالي ته ویل کېږي چې د یوه هېواد د ملي هویت او فرهنګ پر بنسټ منځته راغلی وي او د هغه هېواد معنوي ارزښتونه، تاریخي عظمت، حیثیت او پخوانی برم او جلال له هر ډول دوړو او تېرې څخه خوندي وساتي. (۵: ۱۱ مخ

د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې چې پر ملي يووالي د نړيوال ښکېلاک او د ګاونډيو هېوادونو له خوا څه باندې څلوېښت کاله تباه کوونکي ګوزارونه شوي او د افغانانو تر منځ يې د دښمنۍ خطرناک تخمونه شيندلي دي؛ د افغانانو تر منځ د بيايووالي د احيأ کولو او ټينګولو په کار کې لاندې ملي او اسلامي ارزښتونه او بنسټونه مهم رول درلودلای شي:

١- د اسلام سپېڅلی دين.

٢- ګډه او مشترکه جغرافيه او تاريخ.

٣- ملي هويت.

۴- ګډې ګټې.

٥- ژبه.

٦- ادبيات.

٧- ملي او مذهبي جشنونه.

٨- لرغوني آثار.

٩- مشترک دښمن. (٦: ٣٧١ مخ)

**١- د اسلام دين**

اسلام يواځنی دين دی چې ټول بشريت يوه کورنۍ ګڼي او انسان ته وايي چې تاسې له يو پلار او مور څخه دنيا ته راغلي ياست؛ لکه په دې اړه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: يا ايهاالناس انا خلقنا کم من ذکر و انثی ژباړه: ای خلکو! ما تاسې له يوې مور او پلار څخه پيدا کړئ. وروسته يې هغوی په مختلفو طايفو، قبايلو او څانګو ووېشل؛ لکه په دې اړه چې راغلي دي: و جلعنا کم شعوبا و قبائل لتعارفوا... البته د پېژندلو په موخه او نه پر قوم او قبايلو باندې د فخر او وياړ لپاره؛ برعکس پر يو بل باندې لوړتيا او غوره والی يې په تقوی سره ښودلی دی؛ لکه الله جل جلاله چې په دې اړه وايي: ان اکرمکم عندالله اتقاکم...(٧: ١٨- ١٩ مخونه)

قرآن کريم په ډېرو څرګندو کلماتو سره مسلمانان په خپلو کې له نفاقه منع کوي او د يووالي پر لور يې لارښوونه کوي. (٨: ١٠٣ آيت) د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د هجرت په لسم کال د (حجةالوداع په خطبه کې مسلمانان يووالي ته راوبلل او هغوی ته يې په خطاب کې وويل: ((وګړو! بېشکه ستاسې رب يو دی او ستاسې لار يوه ده، عرب پر عجم او عجم پر عرب، سور پر تور او تور پر سپين کوم غوره والی(فضيلت) نه لري، غوره والی يوازې په تقوی دی، هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی...))

بيا يې وويل: ((وګړو! په عمل کې خلوص، د مسلمانو ورونو خير غوښتنه او په خپلو منځو کې يووالی دا درېواړه داسې چارې دي چې ستاسې زړونه پاک ساتي.)) (١: ٥٥- ٥٦ مخونه)

په پای کې بايد ووايم چې زموږ د ملي هويت اساسي او غوره برخه د اسلام مبارک دين جوړوي او په اصل کې اسلامي يووالی يوه الهي ډالۍ او ورکړه ده چې زموږ د ملت په برخه شوې ده.

**٢- مشترکه جغرافيه او تاريخ**

مشترکه جغرافيه او هېواد چې د جغرافيايي سرحدونو په واسطه ټاکل کېږي؛ نه يواځې د يوه ملت د مشترک ژوند، کار، احساس او د ملي پيوستون او يووالي ګډ کانون دی؛ بلکې د ملت او حکومت د جوړېدو او تشکيل لپاره اړين عنصر ونه دي او يا په بل عبارت: جغرافيه د ملت او حکومت تر څنګ يو له درېو اصلي عنصرو څخه چې د هېواد په جوړولو کې حياتي او رغنده رول لري؛ ګڼل کېږي او که چېرې جغرافيه نه وي؛ ملت او حکومت نه جوړېږي

چې په همدې اساس مشترک هېواد او ټاټوبی د ملي یووالي په ټینګولو او تأمینولو کې مهم رول او اغېز لري. (٦: ٣٨٠- ٣٨١ مخونه) دغه راز د یوه ملت د هویت ریښه د هغه په تاریخ کې ده او ملي هویت د یو وجود په څېر دی چې د یوه ملت ټولې فرهنګي برخې د هغه پر بنسټ یووالی مومي، تاریخ راښيي چې موږ ټولو څنګه یو مشترک سرګذشت درلود او ولې په راتلونکې کې مشترک برخلیک لرو؟. په واقعیت کې کولای شو ملي هویت په تاریخي هویت کې مشاهده کړو؛ یعنې ثابته جغرافیه او اوږده زمانه لکه چې د افغانستان ټول مؤرخین باور لري چې آریانا، خراسان او افغانستان درېواړه نومونه یو سیاسي هویت دی؛ یا په بل عبارت: دغه درېواړه هویتونه زموږ ټاټوبی دی، که څه هم دغه جغرافیه او خاوره د تاریخ په اوږدو کې کله زیاته او کله هم کمه شوې ده؛ خو زموږ تاریخي هویت لا پر ځای دی. د تاریخ په اوږدو کې زموږ ملي او ټولنیز هویت په دې ډول خلاصه کولی شو:

الف- آریانا.

مشترک هېواد= آریانا

مشترک دین= زردشتي

مشترکه ژبه= آریک

ب- خراسان.

مشترک هېواد= خراسان

مشترکې ژبې= پښتو او دري

مشترکه اراده= د پردیو پر ضد مبارزه

ج- افغانستان.

مشترک هېواد= افغانستان

مشترک دین= اسلام

مشترکې ژبې= پښتو او دري

مشترکه اراده= د نړیوالو ښکېلاګرو پر وړاندې مبارزه .

افغان تاریخ په بېلابېلو دورو کې د آریانا، خراسان او افغانستان په تاریخي جغرافیه کې زموږ د ګډ ژوند او کار کیسې ته وايي، دغه راز د هر افغان فطري غوښتنه ده چې ځان، کورنی، قوم او خپل ملت وپېژني او د خپل تېر او اوسني تاریخ په رڼا کې د حب الوطن او ملي یووالي روحیه تأمین او ټینګه کړي؛ ځکه پوهېږي چې د ملي یووالي پر بنسټ افغانستان د یرغلګرو مقابله کولای شي او د آبادی او پرمختګ پر لور ګټور ګامونه اخیستلای شي، د افغانستان د ځواکمنېدو لپاره د تېر تاریخ تجربه، ګډ کار او یووالی هغه مشترک تاریخي درسونه دي چې په لوستلو او عملي کولو سره یې د خلکو او ملت تر منځ د کرکې، تعصب، وروسته پاتېوالي او نفاق جرړې ایستلی شو، مولینا خادم څومره ښه ویلي دي: ((ټولې قومي او ملي کامیابي د اتفاق مرهونې دي؛ مګر اتفاق د پسرلي باران نه دی چې پخپله ورېږي؛ بلکې د ملت د اتفاق تهداوونه د هغه ملت خواخوږي حکیمان او فلاسفه بږدي.)) (٩: ٥٩ مخ)

## ٣- ملي ګټې

هر هېواد او ملت خپلې ملي ګټې لري؛ خو د افغانستان او زموږ د ملت ملي ګټې څه دي؟ ځواب روښانه دی او هغه دا چې ټول هغه عناصر او پدیدې چې د افغان ملت د بقا په ساتلو او ښه ژوند په تأمینولو کې رول ولوبوي؛ عبارت له ملي ګټو څخه دي. ملي ګټې هغو هدفونو او موخو ته ویل کېږي چې یو دولت په ملي او بین المللي سطحه د هغوی د ساتلو لپاره هڅه کوي، ملي ګټې ممکنې دي د یوه هېواد د لومړنیو او تلپاتې هدفونو په توګه تعریف شي او دغه تلپاتې هدفونه په لاندې ځلورو ارزښتونو وېشل کېږي:

١- وجودي امنیت.

٢- رفاهي امنیت.

٣- له نورو هېوادونو سره په اړیکو کې

د قدرت زیاتول.

۴- د خپل پرستژ او درېځ ساتل.

مورږ پوهېږو چې د (ملي ګټو) مفهوم له (مفاد او فایدې) څخه جوړ شوی دی چې د ګټو مجموعه ده او د ګټې معنا لري او (ملي) چې ملت ته منسوب دی؛ یعنې هغه ګټې چې په ملت پورې اړه لري، د ملي ګټو اصطلاح په لومړي ځل په اروپا کې رامنځته شوه او بیا د نړۍ نورو برخو ته خپره شوه، د دې اصطلاح او مفکورې ارتګرندېدل د اروپا په سیاسي او ټولنیز تاریخ کې له درېو مهمو بدلونونو سره مخامخ شو:

۱- د مرکزي او مطلقه سلطنتي حکومتونو جوړول.

۲- د ملي حاکمیت د اصولو رامنځته کېدل.

۳- د دولت راڅرګندېدل؛ د یوې خپلواکې اداري په توګه چې له افرادو څخه خپلواک او د ټولنې استازی وي او نه د ځانګړو اشخاصو او طبقو استازی.

دا درېواړه پرمختګونه د ځمکه والي نظام د راپرځولو او د پانګوال نظام د ټینګولو لامل وګرځېدل، په اتلسمه او شلمه پېړۍ کې د اروپا او امریکا په هېوادونو کې د ملي هویت او ملي ګټو د تصور دوره پیل شوه.

هر هېواد تل د خپلې (بقا) د پایښت په لټه کې دی او بې له شکه د هېواد (بقا) تر ټولو مهمه او د نورو ګټو د خوندي کولو زمینه برابروي، د دې مفکورې پلویان په دې عقیده دي چې د ملي ګټو نور اساسي ارزښتونه؛ لکه سیاسي خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا او کلتوري هویت له همدې بنسټیز ارزښت؛ یعنې د هېواد له (بقا) څخه سرچینه اخلي.

بله ډله مفکرین وايي چې د هېواد (بقا) د ملي ګټو د تر لاسه کولو لپاره کافي نه ده؛ بلکې د یوه هېواد د اوږدې مودې د ځانګړو کړنو په لیدلو سره د هغه هېواد د ګټو هدف محتوی ټاکل کېدای شي.

له پورته دوو مختلفو لیدلورو څخه ښکاري چې ملي ګټې د عمومي او تلپاتې هدفونو په توګه تعریفولی شو چې یو ملت یې د تر لاسه کولو لپاره هڅه کوي، د دې تعریف له مخې ملي ګټې یو پراخ مفهوم لري چې یوازې د ملي خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په معنا نه دی؛ بلکې کېدای شي چې پراخه ساحه ولري. (۱۰: اینټرنېټ)

او د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د سولې بشپړ تأمینول، ملي پخلاینه، د ملي حکومت او ټولنې جوړول، د انرژۍ تأمینول، د کانونو را ایستل، نوې ټکنالوژۍ ته لاسرسی، اقتصادي پراختیا، د معارف او لوړو تحصیلاتو پراختیا او له هېواده بهر د خپلو اتباعو او د سرحدونو دفاع پکې شامل ګڼل کېږي.

له ملي ګټو څخه منظور ټولې هغه پدیدې او عناصر دي چې د یوه ملت د بقا په ساتلو او ښه ژوند کولو کې مهم رول لري، ملي ګټې د هر ملت په جغرافیوي بستر او تاریخي پېټویي کې رامنځته کېږي او د تاریخ په اوږدو کې تل له معنوي ارزښتونو سره پیدا شوي، د ملي یووالي بنسټ او د بقا رمز جوړوي او دا د هر ملت تاریخي مشروع حق دی چې له خپل تاریخي موجودیت او د خپل هویت له جوړونکو عناصرو او ملي ګټو څخه دفاع وکړي، په اصولي توګه ملي ګټې په ټولو برخو کې څه په ځمکه، سیندونو، بحرونو او هوا کې قانونمندې شوې او هر دولت پوهېږي چې په سیندونو، ځمکه او فضا کې د هغه د ملي ګټو حد تر کومه دی؟ او د څه ډول حقونو لرونکی دی. (٦: ۴۱۰- ۴۱۱ مخونه)

د هر هېواد ملي ګټې معمولا د دولت او سیاسي مشرتابه له خوا ټاکل کېږي او دا یوه سیاسي مسئله ده او د ملي ګټو د دفاع مسؤلیت هم د دولت پر غاړه دی، که په لنډ ډول ووایو د

ملي یووالي د تأمینولو مهم عناصر مشترک سیاسي نظام، اقتصادي جوړښت، تاریخ، جغرافیه، فرهنګ، ملي ګټې، ژبې او عقاید ګڼل کېږي، په یوه هېواد کې ملي ټولنه هغې جامعې ته وایي چې اوسېدونکي یې له قومي، ژبني او مذهبي توپیرونو سره-سره ځانونه د هغې ټولنې (ټاټوبي) غړي وبولي، هغې ته نهایي وفاداري ولري او له بلې هرې ټولنې نه زیات له هغې سره کلک او ټینګ ټولنیز، سیاسي او رواني تړون احساس کړي، ژبني، قومي، مذهبي، دیني او تاریخي یووالی ټول کولای شي چې د ملي ټولنې له جوړېدو سره مرسته وکړي.

په لوېدیځو هېوادونو کې د ملي دولت په جوړېدو سره ملي ټولنه او ملي یووالی منځته راغلی، بیا اقتصادي ودې او په سیاست کې د عامو خلکو ګډون او ولسواکۍ ته پاملرنه وشوه او له ښې اقتصادي ودې وروسته د ملي عایداتو عادلانه وېش مطرح شو. (۱۱: ۲۵ مخ)

ملي هویت د یوه فرد او یا د ټولنې پیوند او تعلق په رسمي او قانوني بڼه له یوه هېواد، دولت او ملت سره راښيي او مهم عناصر یې ګډه جغرافیه، ګډ سیاسي نظام، ګډ اقتصادي جوړښت، مګډ تاریخ، ګډ فرهنګ، ګډې ګټې او ژبانونه دي. (۱۲: ۲۹ مخ)

ملي یووالی هغه وخت تأمین او ټینګېږي چې د ملت هر غړی په ځان کې دا احساس وروزي چې زه افغان یم او هېواد مې افغانستان دی او په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز لحاظ په همدغه ملت او هېواد پورې تړاو لرم، دغه ملي احساس او هېوادنی روحیه هغه وخت په هر افغان کې پیدا کېدای شي چې د ژوند په هره برخه کې له مشروعو حقونو څخه برخمن وي او د قانون په اړانه کې د برابرو حقونو او وجایبو لرونکی وي، د ملت د هر وګړي د حقونو او وجایبو د تأمینولو ملي دنده د دولت پر غاړه ده، دولت کولای شي چې د خپل عادلانه سیاست په پلي کولو سره ملي دولت، ملي ټولنه او ملي یووالی تأمین او پیاوړی کړي.

## ۴- امنیت

امنیت په یوه هېواد کې د ګواښوونکو او د هر ډول تېري د عواملو په وړاندې د ټولنې د حقوقو او عمومي ګټو مصونیت ته وایي، که چېرې په یوه ټولنه کې داسې حالت شتون ولري چې ملي ګټې او عمومي حقوق د ګواښوونکو عواملو په وړاندې له تېري نه په امن کې وي او خوندي پاتې شي، ملي ګټې تأمین او عمومي حقوق تأمین شي؛ دغه ډول حالت په ټولنه کې په امنیت سره تعبیرېږي، ملي امنیت، اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او اخلاقي ریښې لري او په حقیقت کې ملي امنیت هغه مؤلفه او عناصر دي چې د مفاهیمو له مجموعې یا په بل کې د پېچلو او ګټورو عواملو څخه منځته راځي؛ یعنې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز مثبت او منفي بدلونونه پر ملي امنیت ګټور او یا منفي اغېز ښندي، دغه راز بالمقابل په هېواد کې بې ثباتي د پرمختګ او امن په وړاندې خنډونه جوړوي او له ګواښ سره یې مخامخوي چې په همدې اساس (ملي امنیت) د هر هېواد او په ځانګړې توګه د افغانستان لپاره اوس مهال ډېر مهم دی او اسلامي امارت باید د یوه ستراتېژیک هدف په توګه ورته وګوري. (۲: ۱۲۶- ۱۲۷ مخونه)

د ملي امنیت په تأمینولو سره په ټولنه کې د هر اړخیز پرمختګ او د ملي یووالي زمینه برابرېږي؛ ځکه مشترک تاریخ، ګټې، راتلونکی برخلیک او متوازن سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ارزښتونه او پرمختګونه د ملي یووالي په پیاوړتیا کې خپل مهم رول لري .

# د ناوړه دودونو لاملونه او د مخنیوي لارې چارې یې

لنډیز

ليکوال: څېړندوی حضرت آغا همدرد

په ټولنه کې ناوړه دودونه هغه څه دي چې له امله یې د ټولنې وګړي له بدمرغیو او د ژوند له ډول ډول ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

په دې مقاله کې د دودونو پېژندنه او ډولونه یې ښودل شوي دي، بیا هغه عوامل هم په ګوته شوي دي چې له امله یې په ټولنه کې ناوړه دودونه رامنځته کېږي؛ همدا ډول هغه بدې پایلې چې په ټولنه کې د ناوړه دودونو له امله رامنځته کېږي په لنډ ډول وړاندې شوي دي او په پای کې هغه لارې چارې ښودل شوي دي چې په ترسره کولو سره یې په ټولنه کې د ناوړه دودونو مخنیوی کېږي.

## سریزه

پښتني ټولنه چې د اریایي توکم مشهوره څانګه ده او په ځانګړې جغرافیه کې ژوند کوي، ډېر داسې دودونه لري چې په نړیواله کچه نړۍ ته پښتانه ورپېژني. په دې دودونو کې داسې دودونه هم شته دی چې له اسلام څخه مخکې پښتني ټولنې خپل کړي وو او له ځینو سره بیا له اسلام څخه وروسته پښتنه ټولنه بلده شوې ده. په دې کې داسې دودونه شته چې له اسلام سره په ټکر کې نه دي، خو ځینې دودونه چې له اسلامي اصولو او قوانینو سره په ټکر کې دي هغه موږ ناوړه دودونه بولو. د داسې دودونو بېلګې یا ډولونه ډېر دي. دا چې د دې دودونو عوامل څه دي او باید څنګه یې مخه ونیول شي، اړینه موضوع ده، نو د دې لپاره په دې مقاله کې یاده موضوع څېړل شوې ده او هغه عوامل په ګوته شوي چې د ناوړه دودونو د را منځته کېدو او په ټولنه کې د خپرېدو سبب ګرځي او د مخنیوي لپاره یې هم حل لاره په ګوته شوې ده.

چې له امله یې ټولنه وکولای شي، له داسې دودونو څخه ځان وساتي.

وړاندې تر دې چې په اصلي موضوع پیل وکړم اړینه ده چې څه معلومات د دودونو په اړه وړاندې کړم.

## د دودونو پېژندنه:

دودونه د دود جمع ده چې په عربي ژبه کې ورته عرف وایي.

د عرف ماده په عربي ژبه کې د لغت له پلوه په ډېرو معانیو سره راغلی دی، لکه:

۱. په یو شي ادراک او پرهغې پوهېدل

۲. اعتراف او اقرار

۳. صبر

۴. معلوم او ځرګند

۵. ښه کړنه یا ښېګنه

عرف په اصطلاح کې

هغه څه چې په خلکو کې عادت وي او هغه په خپلو وینااو او کړو او وړو کې عملي کوي.

عرف په دوه ډوله دی:

۱. هغه څه چې شرعي صبغه ولري.

۲. هغه څه چې شرعي صبغه ونه لري. (۱: ۸ - ۱۰ مخونه)

هغه عرف یا دودونه چې شریعت ورته اجازه نه وي ورکړې، ناوړه دودونه بلل کېږي، لکه اجباري واده، د انجونو پلورل، بدل، په بدو کې د ښځو ورکول، ښځو ته د میراث نه ورکول، ډېر مهر، ښځو سره تاوتریخوالی، اسراف، د حیواناتو جنګول،

د نشه يي توکو استعمال، اداري فساد، نامناسبه لباس اغوستل، د ماشومانو حقوقو ته پام نه کول او داسې نور. ژوند د داسې کيسې چوکاټ دی؛ که خوښي، مينه او خلوص لري، نو تر څنګ يې درد، غم او خفګان هم شته دی. انسان په ټوله معنا د مينې او محبت لپاره جوړه هستي ده؛ ځکه خو يې د مينې سمبول ګڼي. د انسان لپاره دا نړۍ هيڅ ارزښت نه لري چې مينه نه وي او د سولې نغمې نه غږيږي. ښايي د انسان فزيکي جوړښت ته همداسې نړۍ پيدا وي او د باطن ټوله خوښي، احساس او زړه ته نږدې ښکلا همداسې نړۍ ته هوسېږي چې د محبت او مينې خوږه ولري. جګړه، درد او ژوند ته ګواښونکي ستونزې د ژوند د کيسې ټولې خواوې په تراژيدي بدلوي. نفرتونو، تربګنۍ او ظلم ته لاره هوارول به د داسې نړۍ زېږنده وي، دا چې دا ولې او څنګه کېږي؟؛ بېله پوښتنه ده. فکر او د حل لارې د سالم انسان او سالمې ټولنې مسئوليت او دنده ګرځي.

زموږ افغاني ټولنه که څه هم ښکلا، مينه او په خپلو منځو کې د ورورولۍ او خواخوږۍ وياړ لري؛ تر څنګ يې ځينې د ژوند برخې نيمګړې دي چې له امله يې د ژوند خواږه بې مالګې شوې دي. د افغانانو د ژوند په ټولنيزه څېره کې ننګ، غيرت، شهامت، قهرماني، ميلمه پالنه او ديانت که څه هم شته، خو علم او سواد يې ډېر کم دی چې له امله يې د عدل او انصاف کړنې کمې دي او تربګني او خپل منځي جنګونه پکې ډېر لېدل کېږي چې دا په ټولنه کې د ناوړه دودونو د رامنځته کېدلو لامل کېږي. استاد احمدعلي کهزاد د افغانانو ټولنيزه څېره داسې بيانوي: ((افغانان په اسيا کې زړور، غيرتي، پياوړي، هوښيار او ميلمه پالونکي خلک دي، له وطن سره مينه يې د مور په شېدو کې رودلې ده)). (۵: ۷۷مخ)

د پورتنۍ نظر پر اساس د افغاني ټولنې انځور ډېر ښکلی دی، خو ځينې عادتونه، لکه بدي، پر ښځو ظلم، لوړ ولور، ښځو ته د ميراث نه ورکول، په بدو کې د ښځو ورکړه، د اسلامي اصولو خلاف په ودونو او د مړي په مراسمو کې ځينې رواجونه او داسې نور دودونه شته دی چې ټولنيز ژوند يې تريخ کړی دی او بدې پايلې يې لرلې دي، لکه ځان وژنه، تېښته، لوړ ذهني فشارونه (ليونتوب حالات) او نورې بدې پېښې يې را منځ ته کړې دي چې ځينې په لاندې ډول دي.

١. ناوړه دودونه کورنۍ جدا کوي.

٢. عاطفه او صله رحمي په خلکو کې ختموي.

٣. په ټولنه کې د وګړو ترمنځ کرکه او نفرت رامنځته کوي.

۴. شخړې او جنګونه رامنځ ته کوي.

۵. د کورنيو ترمنځ مينه کموي.

٦. قتل او ځانوژنې ورسره ډېرېږي.

دا او دې ته ورته نورې ستونزې په ټولنه کې د ناوړه دودونو له امله رامنځ ته کېږي.

هغه عوامل چې په ټولنه کې ناوړه دودونو ته لارې چارې برابروي دا دي:

**١. په ژوند کې د الهي احکامو نه عملي کول:** په ژوند کې که خوښي ده او که خپګان، غم دی او که درد؛ له انسان سره تړلي دي، خو په ژوند کې سمه او نېغه لاره پيدا کول ځينو اصولو ته اړتيا لري چې هغه ته الهي احکام وايي. د الهي احکامو په پيروۍ سره انسانان د ژوند له دردونو، ناخوالو، او ستونزو څخه خلاصی موندلای شي. هغه ټولنه چې له الهي احکامو نه ناخبره وي، په هغې کې ناوړه دودونه ډېر وي او د خلکو ژوند يې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي.

**٢. د سواد نه لرل يا له تعليم څخه لرې والی:** زموږ ټولنه لا تر اوسه هغومره سواد ته نه ده رسېدلې، څومره چې

ورته اړتیا لېدل کېږي، معنا دا چې د سواد او فن په زده کړه کې په لومړنیو حالاتو کې ده، زیاتره وګړي مو لا بې سواده او بې هنره دي. د نړۍ د زیاتو هېوادونو کچه تر موږ لوړه ده، ځکه خو پرمختګ کوي، خو زموږ ټولنه تر اوسه دې حالات ته نه ده رسېدلې ، نو له دې څخه معلومېږي چې د دې ستونزو عامل د سواد نه شتون دی، ځکه هغه ټولنه چې سواد نه لري او د جهالت او ناپوهۍ په منګولو کې راګېره وي، نو هلته همدا ډول ستونزې رامنځ ته کېږي.

**۳. د عامه پوهاوي نه شتون:** زموږ ټولنه ډېره باسواده نه ده او ډېر خلک یې له دغه نعمته بې برخې دي او هغه خلک چې سواد لري، هغه بیا هغو ته چې سواد نه لري، عامه پوهاوی او ذهنیت هم نشي ورکولی. د ناوړه دودونو د رامنځ ته کېدلو یو عامل دا هم دی چې عامه پوهاوی نه شته، که چېرته سواد لرونکي عامه پوهاوی وکړي، نو د ناوړه دودونو مخه نیول کېدای شي، خو دا چاره هم زموږ په ټولنه کې ډېره کمه ده. که چېرته عامه پوهاوی وشي، خلکو ته د ناوړه دودونو د زیانونو په اړه معلومات وړاندې شي او د هغوی د له منځه وړلو لازمې سپارښتنې وشي، نو لرې نه ده چې ټولنه به له داسې بد و ناروغیو وساتل شي.

**۴. له تمدن څخه لرې والی:** پر موږ خپل کلتور او دودونه ډېر ګران او زړه ته نږدې دي او دا موږ د کاڼي کرښه ګڼو، خو د نړۍ هېوادونو اوس ډېر پرمختګ کړی دی، غوښتنې یې له وخت سره برابرې دي، خلک یې له تمدن سره بلد دي، زموږ ټولنه لا په دې برخه کې پاتې ده. د دې لپاره چې ټولنه له ناوړه دودونو څخه وساتو، نو اړینه ده چې له تمدن سره ژوند وکړو.

**۵. د وینا او عمل تر منځ لرې والی:** د وینا او عمل لرې والی په ټولنه کې ډېرې ستونزې پیدا کوي، که چېرته په وینا کې یو څه او په کړنه کې بیا بل څه وي، نو بیا د ښې ټولنې فکر کول بې ځایه کار دی.

**۶. د مظلوم او اړمنو لاسنیوی نه کول:** په کومه ټولنه کې چې د ظلم مخه نه نیول کېږي او د مظلوم لاسنیوی نه کېږي، داسې ټولنه بدمرغه او له ستونزو سره به لاس او ګرېوان وي. په داسې ټولنه کې د ناوړه دودونو شمېر ډېر وي.

**۷. له ناوړه حالاتو پند او عبرت نه اخیستل:** د ناوړه دودونو بل لامل د تېرو بحرانونو او زیانونو څخه عبرت نه اخیستل دي. که په ټولنه کې هر څومره ستونزې وې، او د حل لاره ورته نه سنجول کېږي، نو داسې ټولنې د ناوړه دودونو ښکار کېږي.؛ مانا دا چې موخو ته د رسېدو لپاره باید تېر درس وګرځو او هرې ستونزې ته باید د حل لارې ولټوو؛ ځکه چې د ژوند تېرولو لپاره ځانګړي مهارت ته اړتیا لېدل کېږي چې په عملي کولو سره یې له ستونزو څخه د خلاصي لارې را ښایي.

**۸. د ښې راتلونکې لپاره فکر نه کول:** په ټولنه کې د ناوړه دودونو د منځ ته راتګ بل عامل د هغو د منفي پایلو په اړه فکر نه کول دي چې له امله یې ټولنه له ستونزو سره مخامخ کېږي.

**۹. له زړه نه زړه ته د لارې نه شتون:** په ټولنه کې د ناوړه دودونو بل عامل د زړونو لرې والی او د قناعت نه شتون دی. داسې ټولنه چې رحم او لطف ونه لري، تل پکې ناوړه دودونه رامنځ ته کېږي.

۱۰. غربت او بېوزلي (له اقتصادي منابع څخه د ګټې نه اخیستل): په ټولنه کې د ناوړه دودنو د رامنځ ته کېدلو بل عامل غربت او بېوزلي ده او له اقتصادي منابع څخه د ګټې نه اخیستل دي. که څه هم افغانستان یو غني او بډای هېواد دی، د اقتصاد لپاره ښه منابع لري، خو ترې ګټه نه اخیستل کېږي چې له امله یې په اقتصادي

لحاظ شاته پاتې دی. کله چې هېواد په اقتصادي لحاظ کمزوری وي، نو هلته بیا دودونه د افراط او تفریط په بڼه رامنځته کېږي چې تر ډېره پورې د هېواد په زیان تمامېږي.

۱۱. **د عدالت نه شتون** (د هر چا خوښه نه ترسره کېدل): کله چې په ټولنه کې عدل او انصاف نه وي، نو هغه ټولنه کې ستونزې هم ډېرې وي، د بل چا حق اخیستل، د ټولنیز عدالت نه شتون، د میراث او زکات نه ورکړه او داسې نور ظلمونه ټولنه له بدمرغۍ سره مخامخ کوي.

۱۲. **بې تدبیره کار کول** (بې فکره کړنې کول): که په ټولنه کې ټولنیزې کړنې په تدبیر او فکر سره ترسره شي، نو ستونزې نه پیدا کېږي، خو که چېرته کارونه او ټولنیزې چارې په پلان، تدبیر او فکر سره وشي، نو بیا ټولنه له ستونزو سره نه مخامخ کېږي. شکسپیر وایي: ((د زړورتیا ډېره غوره برخه عقل او تدبیر ده)). (۲: ۳۲مخ)
کامبیتا وایي: ((څوک چې ستر کارونه بې تدبیره سرته رسوي، په پای کې به تراژیدي منځته راوړي.)) (۲: ۳۲مخ)

۱۳. **په پټوسترگو د تېرو ناوړه دودونو پیروي کول:** کله چې ټولنه د خپلو تېرو ناوړه دودونو پیروي کوي او هغه د خپل کلتور برخه گڼي، نو دا ټولنه به له ستونزو سره مخامخېږي. دا ډول دودونه د ټولنې ملا ماتوي.

۱۴. **پردی کلتور خپلول:** د ناوړه دودونو بل عامل د نورو د بې ځایه فرهنگ خپلول دي. پښتنې ټولنې هم دا ډول فرهنگونه څه نا څه خپل کړي چې له امله یې د ژوند رنگ پیکه شوی دی. دا او دې ته ورته نور عوامل دي چې ناوړه دودونه منځته راوړي.

### د ناوړه دودونو د مخنیوی لپاره لازې چارې

۱. د ژوند په ټولو برخو کې د اسلامي شریعت پلي کول.

۲. په ټولو وگړو باندې یو شان د قوانینو تطبیقول.

۳. د خلکو د پوهې کچه لوړول.

۴. د هېواد اقتصاد پیاوړی کول.

۵. خلکو ته د ناوړه دودونو د پایلو په اړه عامه پوهاوی او ذهنیت ورکول.

۶. د احتساب اداره په ټول هېواد کې پیاوړې کول. (۱: ۱۵۸ مخ)

۷. دیني عالمان کولای شي چې د ناوړه دودونو د مخنیوي لپاره پر خلکو د ممبر له لارې غږ وکړي.

۷. په مطبوعاتو، لکه راډیو، ټیلویزیون او چاپي رسنیو کې باید د ناوړه دودونو د مخنیوي لپاره بېلابېل پروگرامونه او لیکنې خپرې شي.

۸. په ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو ښوونیزو مرکزونو کې باید د ناوړه دودونو د مخنیوي لپاره بېلابېل پروگرامونه په کار واچول شي.

۹. ادیبان، لیکوالان او شاعران کولای شي چې په خپلو لیکنو او شعرونو کې ناوړه دودونه وغندي او خلکو ته په دې برخه کې لازمې سپارښتنې وکړي. (۴: ۲۶ - ۲۹ مخونه)

په پښتنه ټولنه کې ځینې خویونه هم شته چې ناوړه خویونه بلل کېږي چې په ترسره کولو سره یې ژوند بې خونده کېږي. داسې خویونه ډېرو شاعرانو او لیکوالو بد گڼلي او د نه ترسره کولو سپارښتنې یې کړې دي.همدا ډول خوشحال بابا د ښو خویونو د خپلولو غوښتنه کړې ده، دی وایي چې ښه خویونه له انسان سره لازم دي، ښه خویونه د انسان لپاره د گاڼو په څېر دي چې انسان او ټولنه پرې ښه ښکاري.

آدم زاد په اصل واړه آدم زاد دی
ښه هغه چې خوی یې ښه لکه سره زر
که صفت کړې د ښه خوی کړه
په ښه خوی کوه طرب
د ښه خوی منصب باقي دی
باقي نه دی بل منصب (۳: ۳۶مخ)

۱۰. قومي مشران او سپين ږيري هم کولای شي چې د ناوړه دودونو مخه ونيسي او د ناوړه دودونو د زيانونو په اړه د خپلې پوهې اوتجربې پراساس خلکو ته مثبت ذهنيت ورکړي.

۱۱. ځوانان او پېغلې هم کولای شي چې د ناوړه دودونو د مخنيوي په برخه کې کار وکړي او د داسې دودونو مخه ونيسي چې په ټولنه کې ستونزې پيدا کوي.

## پايله

د پايلې په توګه ويلی شم چې ناوړه دودونه د ټولنې وګړی له ډېرو ستونزو سره مخامخ کولای شي. د دې دودونو د رامنځته کېدلو عوامل شته دی، که چېرته دا عوامل په ګوته شي او بيا ورته د حل لارې ولټول شي، نو لرې نه ده چې ټولنه به له داسې دودونو څخه خالي شي او هغه ستونزې چې د دې دودونو له امله رامنځته کېږي، له منځه ولاړې شي. د دې لپاره بايد د ټولنې هر وګړی هڅه او کوښښ وکړي، تر څو د ناوړه دودونو مخه ونيسي.

## وړانديزونه

د دې لپاره چې په ټولنه کې ناوړه دودونه ختم شي، لاندې وړانديزونه کوم:

۱. د ناوړه دودونو په اړه بايد ورکشاپونه، سمينارونه او تمثيلي پروګرامونه په کار واچول شي.

۲. په هېواد کې بايد د وګړو د سواد کچه لوړه شي.

۳. د هېواد اقتصادي کچې لوړوالي لپاره بايد کار وشي.

## مأخذونه:


۱. ازهري، شيخ فريدالله. ناوړه دودونه او د شريعت په رڼا کې د هغو حل، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څېړنې او د اسلامي علومو د مطالعاتو رياست: کابل، سريع ګرافيکس طباعتي شرکت، ۱۳۹۸ ل کال.

۲. کارينګي، ډيل. د ژوند غوره اصول او لارې، ژباړن: ارزو زابلي اندړ، مهين خپرندويه ټولنه: پېښور، ۱۳۹۴ ل کال.

۳. مبارز، عزيزالله. د خوشحال په اشعارو کې د ځينو پښتني خويونو او دودونو تحليلي څېړنه، ناچاپ.

۴. مخلص، ناصر. د بدل واده د يو ناوړه دود په توګه (مونوګراف). ناچاپ

۵. مندوزی، محمدولي. هيومانيزم، اريانا مطبعه، ۱۳۶۸ ل کال.


# يوازينی زوی

اکبر خان بهرام

ټکنده غرمه د هلکانو له نارو سره د موټرونو غږ ګډ شو، په کلي کې زوږ و، ګورو چې د ملک خيرالدين کورته کتار موټرونه، چې په مخ کې يې په ګلانو پوښ شوی موټر و، ودرېدل. د دوی ښه راغلاست ته د کلي ګڼ شمېر مشران او واړه ولاړ ول، د ملک صاحب له راکښته کېدو سره تودو مبارکيانو زور ونيو. د ملک کشر ورور، چې خلکو په يرغه (مست) ځوان مشهور کړی و، له کلاشينکوف سره را ووت، په يوه ماشه يې ديرش ګولۍ د اسمان په لوري و اورولې. نيم ساعت وروسته له بر کلي د اعلان غږ راغی، چا سم نه واورېد، خو وروسته خبره معلومه شوه، د الله ګل کاکا يوازينی زوی په سږه مرمۍ لګېدلی و، او مخکې له دې چې روغتون ته يې ورسوي سا يې ورکړې وه.

# ستاینه «توصیف»

څېړنوال سیدنظیم سیدي

په پښتو ادبیاتو کې یو ډېر مهم او ارزښتمن بحث د معاني دي چې د ځینو ادبپوهانو په وینا د ادبیاتو روح بالله شي او بې له معاني موږ د ادبیاتو دویمه او کله ناکله دریمه معنا نشو موندلای، نو ځکه ادیب ته بویه چې پر معاني ځان پوه کړي.

په دې مقاله کې موږ د معاني پر اساساتو یا ادا چې معاني څه شی دی بحث نه کوو، ځکه د هغې موضوع راسپړل د دغې مقالې له اوسېلې څخه وتلې خبره ده، په دې څېړنه کې موږ د معاني د ښوونیزې لارې چارې په یوې برخې، چې هغه همدا ستاینه ده بحث کوو چې په ډېرو برخو کې د کتنې موارد لري.

ادبپوهان وایي ستاینه لومړی د گرامر(ژبدود) یو ډول دی او تر گرامر وروسته په ادبیاتو کې هم په پوهنو او فنونو کې کارېږي، هم په کیسه ییزو لیکنو کې د استعمال موارد لري او هم په رپوټونو، یونلیکونو او ډرامو کې. ځینې ادب څېړونکي په دې گروهه دي چې ستاینه تر ډېره په تجربي پوهنو کې د پېژند په توگه کارول کېږي. د ساري په ډول: که موږ وغواړو بوټي او گلان وپېژنو، نو اړ یو چې د یو شمېر بوټو ستاینه یا صفات په لاندې ډول وړاندې کړو، چې له امله یې بوټي وپېژندل شي:» ترمرغه: دا شین بوټی د غنمو په شان نری اوږدې پاڼې کوي، د لښتې او دُرمې غټوالی یې کټ مټ د غنم د ډکې او ډنډر په اندازه دی، د دغه بوټي دُرمه د نیم گز یا ځلورو لوېشتو او یو نیم گز په اندازه لوېږي، دغه بوټي غوایان په مینه سره داسې خوري، لکه رشکه، نور مالونه دومره مینه نه ورسره لري. د ترمرغې د بوټي درمه په سر کې د غنمو د وږي په شان وږي کوي، وږې وږې دانې کوي، د منې په وخت کې وچېږي او گلان نه لري؛ لکه چې وویل شول یو ډول وږې سرې او یا خړچکې غونډې دانې کوي، چې دا دانې د دغه بوټي تخم گڼل کېږي. د وږي نه یې د وچېدو وروسته د مځکې په مخ را تویېږي، په هغو...». (۱)

اوس نو که پورته څرگندونو ته ځیرنه وکړو او لږ پر خپل ذهن فشار راوړو، ښایي په ډېري اسانی سره د پورته بوټي انځور وباسو؛ نو ځکه ادب څېړونکي وایي په هغو لیکنو کې چې د خیال مراندې ډېرې اړینې دي او بنسټ گڼل کېږي، ستاینې په کې په دغه ډول جال غوروي او یوه ښکارنده په دغه ډول لوستونکو ته وړاندې کوي؛ خو دې ټکي ته هم ځیرنه په کار ده چې ستاینه یا ستاینې باید داسې وړاندې شي چې لوستونکي یا مخاطب کس ته د یادې ښکارندې انځور مخکې انځور شي او هغه وکولای شي په خپل ذهن کې یو انځور داسې مجسم کړي، چې که کټ مټ هماغسې نه وي؛ نو ډېر لږ به تري هم نه وي.

ستاینه په څو ډوله ده، چې ادب څېړونکي یې له طبیعي ستاینې څخه نیولې بیا تر زماني او عصري ستاینو پورې وېشي. په دغو ستاینو کې ژوي، انسانان، د انسانانو د ژوند د چاپېرچل حالات، لکه خوښی، محافل، غونډې، کورنی، ښار، ټولنه او داسې نورې کیسې ځای نیسي، چې بیا دا هره یوه

ځانته ځانګړنې او ډولونه لري، چې ټول د ستاینو په عمومي چوکاټ کې داخلېږي، د ساري په ډول که مور يې دا يو اړخ را ټينګ کړو؛ نو ښايي په کې مانوس طبیعت، وحشي طبیعت، د هوا حالات، د خلکو ځېرې، حرکات او سکنات، د خوښۍ او خپګان چاپېريال، نفساني خوندونه او حالات او دېته ورته نورې خبرې په کې ومومو؛ يعنې تر عواطفو پورې تړلې کيسې په کې نغښتې دي چې هره یوه ځانته ځانګړې ستاینه لري. د ساري په ډول د ټولنې د وحشت او کله ناکله انسانان له انساني چوکاټ نه د وتلو په اړه صالح محمد صالح په خپل ژباړلي کتاب کې وايي: «پربېږدئ له خپلو بدمرغيو سره، د خپلو تورو ورځو په غېږ کې، چې د همدغو ستاسو انسانانو د جنايتونو پايله ده، خوشحاله و اوسم او د فلاکت په دې انزوا او بد مرغۍ کې له انسان او انسانیت څخه لرې خپله وروستۍ ساه وباسم او له زهر لړلي ژوند څخه مې خلاص شم. لاړ شئ او ما د ذلت او محنت په سیند کې يوازې پرېږدئ! «(۲) ياد ليکوال د دې لپاره چې انساني احساسات يې نور هم را پارولي وي څو کرښې وروسته خپلې احساساتي خبرې نورې هم پسې غځوي او د ياد موجود له خولې يو بل روايت داسې وړاندې کوي: «تاسې ژاړئ!؟ ؟ایا په تاسو کې هم مينه او رحم پيدا کېږي، تاسې چا ته اوښکې تويوئ؟ زما بدمرغيو ته! که داسې وي زه مو دا خواخوږي نه منم، هيله کوم لاړ شئ او بې ځايه خپل وخت مه ضايع کوئ... «.(۳)

په پورته عباراتو کې وينو، چې ستاينې له احساساتو او عواطفو سره داسې اغېزل شوي، چې ډېر ځله يې معلومول هم يو څه ستونزمن وي، په دې معنا ليکوال هڅه کړې چې د انسان آر انسانيت او ستاينې د وحشت او بربريت په رڼا کې زباد کاندي چې انسان څومره کرامات او ستاينې لري؛ خو که کله په حيواني خرمن کې ننوځي، نو بيا ترې بل ګواښونکی او بدمرغه ژوی نه شته، نو وينو چې په مبهمو الفاظو کې د انسان ستاينه کوي، چې دا هم په ټولنه کې د ستاينې يو ډول دی. پر دې سربېره ځينې نورې بېلګې هم وينو، چې د ټولنې يا طبيعت د ستاينو استازي لي، لکه اسدالله غضنفر چې په خپل کتاب د نثر ليکلو هنر کې د استاد رښتين يوې ليکنې ته نغوته کوي: «لمر د خپلو زرينو پلوشو په زنځيرو کې د براسونو ذرې بخرې د وريځو ټاپوانو ته وخېژول، هلته ژر ژر له تاوه اوبه شول او بېرته د بوټو او ژويو د ژوندانه او ښېرازۍ دپاره زمکې ته راکوز شول. د زمکې په غېږ کې پرتو ويدو بوټو او شنېلو د ژمي له اوږده خوب نه سترګې وغړولې د وريځو له جزيرو نه راغلو ځاڅکو ورله مخونه ووينځل، د نمر تودو وړانګو په کې ګرمي او تودوخه واچوله... «.(۴)

پورته ټولې ځرګندونې د پسرلي ستاينې يا صفتونه دي، ليکوال نېغ په نېغه نه وايي چې ژمی تېر شو او پسرلی راغی، خو ستاينې وړاندې کوي او د ستاينو له مخې سړی اټکل کولای شي، چې دا نښې نښانې د پسرلي دي او بايد پسرلی راغلی وي، نو دغه ډول ستاينې د معاني د ښوونيزو لارو چارو په يو اصل کې شاملېږي، چې د معاني بنسټ

جوړوي او له ټولنې سره نېغ په نېغه اړيکې لري.

اوس که وغواړو د پښتني ژوند په اړه معلومات پيدا کړو او ستاينې يې ځانته معلومې کړو؛ نو اړ يو چې د نصير احمد احمدي کيسه ييز نثرونه ولولو او په دې ځان پوه کړو، چې نوموړی ښاري ژوند ته په کوم نظر ګوري او کله چې ورسره د بې کفايتۍ مالګه هم ګډه شي، نو څه شی ترې جوړ شي.؟ ده چې په ځوانو ليکوالو کې د ناول ليکنې په برخه کې اسمان ته پورۍ اېښې په خپل «بوډا او د لېوانو پلونه» ناول په يوې برخې کې پښتني اصيل او نجيب فرهنګ ته په کتو سره د پښتني ټولنې ستاينې داسې وړاندې کوي: «هغې ته مې وکتل، ښکلې وه او په ګرد سپين مخ کې يې اوږدو شنو سترګو يوه نوراني ځلا، خو لوڅې غاړې او بې لستوڼو کميس يې خوند را نه کړ.

د انور غږ مې واورېد:

پلاره! مېوه در واخله!

انجنير ته مې وکتل، خو هغه ته مېوه نه وه اېښې او د پخوا غوندې يې کتاب سترګو ته نيولی و، بېرته مې انور ته سترګې ور واړولې، ده ماته کتل، حيران شوم، انور به ماته ابا ويل، د ده له خولې نه په لومړي ځل د پلار ټکی راته ووت «پلار» هم ښکلې کلمه ده؛ خو ماته نابلده ښکاره شوه، دومره خوند مې ورنه وانه خيست، لکه څومره چې د ابا په ټکي کې پروت و؛ ځکه انور په لومړي ځل ماته ابا ويلي و، دې توري ته مې اوښکې تويې کړې وې؛ خندلي مې وو او د ژوند خواږه يادونه مې په کې پراته وو؛ خو دا يو کليوال توری و، فکر کوم، انور به د ابا په ويلو شرمېده؛ ځکه يې پلار...

مور، تر ناوخته پورې خبرې وکړې، خو کله چې د کوژدنې موضوع رامنځته شوه، نجلۍ په ځړېدلي سر له کوټې نه ووته، که څه هم چې د انجنير د لور د ژوند مسئله وه؛ خو ده له خبرو سره دومره دلچسپي نه ښوده، کله کله به يې يوه خبره له خولې نه را ووته، چې د ده د ذوق نماينده ګي به يې کوله؛ خو مېرمن يې بيا سور اور وه، ژبه يې بې واره چلېده، خبرې يې کولې، د سويتا د راتلونکي ژوند نيکمرغي يې غوښته او له هرې خبرې سره به يې خندل، ما ته د کور اصلي واکداره دا ښکاره شوه. ». (٥)

اوس نو که پورته کرښو ته په دقيقه توګه ځير شو؛ خورا ډېر ارزښتونه او پښتني ستاينې په کې موندلای شو، په دې معنا سره له دې چې د ابا کلمه کليوالي ده؛ خو کوم خوند او بې تکلفي چې په دې ويي کې نغښتی هغه د نړۍ په هېڅ کلمه کې هم نشي موندل کېدلای او دا هغه وخت سړي ته معلومېږي، چې په خولو خېشت پېشت له قولبې څخه د ونې سيوري ته د دې لپاره راشي، چې کوچنی زوی يې ورته سبناری راوړی وي او ور ناري کړي، ابا سبناری مې درته راوړی دی، يخې شوملې او تازه شوتلې دي، د پيازو غوټه مې هم په درسترخوان کې اچولې. واه – واه، خدای دې دا خوند په ټولو وڅکي. دغه شان ليکوال په ډېرې ځيرنې د پښتني دودونو دې مسألې ته هم ځير شوی، چې د تصميم نيونکی او د کور واکمن پلار او يا نارينه وي نه

ښځه او د نارینه په شتون کې ښځه د خبرو جرائت
هم نه لري. ښایي دا خبره ځینې ربړې هم ولري،
خو په عین حال کې له ګټو هم خالي نه ده؛ په
دې معنا په ښاري ژوند کې ډېر ځله موږ وینو،
چې نارینه د ښځو تابع وي دومره تابع، چې هغه
د چا خبره له نارینتوبه یې خلاص کړی وي، خو په
کلیوالي ژوند کې بیا ښځمنو ته د هېڅ خبرې اجازه
نه شته، که څه هم کلیوال دودونه اوس ډېر بدل
شوي او مېرمنې کولای شي، چې په ځینو مواردو
کې له خپلو نارینه وو سره په مهمو مسألو کې
تصمیم ونیسي، خو په دواړو حالاتو کې افراط او
تفریط شته، خو اعتدال د خدای هم خوښ دی.
نو پورته بېلګې ته په کتنې سره لیکوال ډېر
په مهارت قلم چلولی او د پښتنې ټولنې
داسې انځور یې وړاندې کړی، چې هم یې
ښېګڼې او هم یې نیمګړتیاوې په ګوته کوي
اوپه دې توګه ستاینه یې په کې ځای کړې ده.
د ستاینې په اړه ادب څېړونکي دا خبره هم وایي،
چې د یوې خبرې ټولې ستاینې بیانول او یا اضافي
ستاینې ورته ورکول نه اړینه خبره ده او نه هم
کومه ښکلا لري، بلکې د یوې خبرې یا ښکارندې
یوازې هغه ستاینې باید وړاندې شي، چې هغه
هم د لیکوال موخه وي او هم موضوع ته هنر
او ښکلا ورکولای شي، د ساري په ډول که چېرې
موږ د یو خطاط د هنر ستاینه کوو، نو اړینه نه ده
چې وواېو پلانی خطاط ډېر ښایسته سړی دی او
ډېرې ښکلې سترګې لري، ځکه دا خبرې یا ستاینې
د هغه د هنر په ځلونه کې هېڅ ډول مرسته نه
کوي او نه یې هم څرګندونه کولای شي، بلکې
اړینه دا ده چې وواېو پلانی خطاط په نسق،
نستعلیق او یا هم مات «شکسته» خط کې د
خورا پوره کمال او هنر څښتن دی، دومره په مهارت
خطاطي کوي چې سړی پرې له ورایه مینېږي او د
هر چا زړه غواړي، چې شاګردي یې وکړي او... نو
که خبره مو رانغاړلې وي، ستاینه د ټولنې په هره
برخه کې شونې ده او لیکوال کولای شي د هرې
ښکارندې ستاینه وکړي، خو داسې ستاینه باید
وشي چې لیکوالي یې غوښتنه کوي او اړینه وي،
نه بې ځایه ستاینې چې د ګټې او ارزښت پر ځای
ورته زیان وکړي او د خلکو زړونه ترې تور کړي.

## مأخذونه:


۱- منګل، علي محمد، په منګلو کې د بوټيو
نومونه، د پکتیا پېژندنې د سیمینار په ویاړ، علمي
څېړندویه ټولنه: پکتیا، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۲۷ مخ.

۲- انصاري، ربیع، پاڼه ورژېده، د صالح محمد صالح
ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال،
۳ مخ.

۳- انصاري، ربیع، پاڼه ورژېده، د صالح محمد صالح
ژباړه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال،
۴ مخ.

۴- غضنفر، اسدالله، د نثر لیکلو هنر، په نیدرلند
کې افغاني کلتوري ټولنه، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۳٦ او ۳۷
مخونه.

۵- احمدي، نصیر احمد، بوږا او د لېوانو پلونه،
مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، دویم چاپ، ۱۳۸۸
لمریز کال، ۱۱۳ او ۱۱٤ مخونه.



عرفان الله احمدزی

# افغانستان کې د کوچیتوب ډولونه

زموږ د ګران هېواد جغرافیایي شکلي جوړښت د کوچیاني ژوند زمینه برابره کړې ده. پراخې دښتې، د غرونو لمنې او شنه ایلبندونه هغه څه دي چې زموږ خلک یې له پېړیو راهیسې مالدارۍ او کوچیتوب ته هڅولي دي. مخکې له دې چې د کوچیتوب ډولونه بیان کړم په لنډ ډول به کوچي وروپېژنم.

«کوچی» ترکي کلیمه ده، چې موسم ته په کتوله یوې سیمې (ځړځای) نه بلې سیمې (ځړځای) ته کډې کولو ته وایی . یا کوچیان هغه خلک دي چې په ډله پیزه توګه د کال په ټاکلو موسمونو کې له خپلو مالونو سره په ټاکلو عنعنوي لارو، ټاکلو عنعنوي سیمو ته لېږدي. یا کوچیان هغو وګړو ته ویل کیږي، چې موسمونو ته په کتو خپلې کډې له یو ځای څخه بل ځای ته لېږدوي او د څارویو روزنه پکې کوي.

د وروستي او منل شوي تعریف له مخې بیا کوچي د افغانستان هغه تبعه ده، چې ابایي( پلرنی) کسب یې مالداري وي او موسمي مېنې ولري.

د پورتنیو لنډو تعریفونو او د کوچیانو د ژوند څرنګوالي له مخې د افغانستان کوچیان په لاندې دوه لویو برخو وېشل کیږي:

**۱. اصلي کوچیان**

**۲. نیمه کوچیان**

**اصلي کوچیان:** د کوچیانو هغه ډول دی، چې له خپلو څارویو سره یو ځای خپلو ټاکلو مېنو ته ځي ، دوی یوازې د څارویو روزنې له لارې خپل ژوند پر مخ بیایي. اصلي کوچیان هم په دوه برخو وېشل کیږي:

**الف: عبوري کوچیان**

**ب: غیرعبوري کوچیان**

عبوري کوچیان: دا هغه کوچیان دي، چې له خپلو مالونو سره یو ځای د کال په ټاکلو موسمونو کې د افغانستان له اوسنیو پولو څخه اوړي او د منځنۍ اسیا شېرازه دښتو، د ایران مشهد او په ختیځ کې د اباسین تر غاړو، پنجاب او آن تر ډهلي او کلکتې پورې رسیږي. په دې کوچیانو کې سوداګر، کسبګر او مزدوران هم شامل دي.

غیرعبوري کوچیان: د کوچیانو دا ډول د اوسني افغانستان د پولو دننه د کال په ټاکلو موسمونو کې د هېواد له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته کډې کوي. یعنې له پولو نه اوړي، دا کوچیان د شمېر له پلوه

ډېرې او لويې رمې لري چې په دوه برخو وېشل کېږي:

**الف: نږدې ګرځېدونکي**

**ب: لرې ګرځېدونکي**

نږدې ګرځېدونکي: دا ډول کوچيان ګڼ شمېر په يو ولايت کې دننه خپل مالونه څروي يا له خپلو هوارو مېنو څخه لويو نږدې دښتو او د غرو لمنو ته ورځېږي لکه: د شينوارو او خوګيانيو د سيمو کوچيان چې له رمو سره د بابا د غره لمنو ته ځي، يا د نورستان کوچيان او يا هم په شمال کې ازبک او ترکمن کوچيان، چې په بلخ، فارياب او جوزجان... کې ژوند کوي او د البرز او بابا د غرو لمنو ته ځي. همدارنګه



د ارزګان، لغمان او بلوڅو کوچيان د دې کوچيانو په ډله کې راځي، چې د دوی مزل له درې ورځو څخه نه زياتېږي.

**لرې ګرځېدونکي:** دا ډول کوچيان له يو ولايت څخه بل ولايت ته د خپلو څارويو د څرولو لپاره شنو ورشوګانو ته ځانونه رسوي. د دوی تګ زياتره له جنوب او ختيځ څخه مرکزي سيمو ته دی، چې د منې په رارسېدو بېرته خپلو تودو مېنو ته ورستنېږي.

**۲. نيمه کوچيان:** هغه کوچيان دي، چې د څارويو له روزنې سربېره ځمکې هم کري. انګرېز پوه ډاکټر بيګن د نيمه کوچيانو په اړه وايي: نيمه کوچيان د راټولېدو په ځای (موقتي مېشت ځای يا د کوچيانو د اړولو په سيمه) کې يوه اندازه غله کري چې دوی هم د ژوند او لېږد له پلوه په دوه برخو وېشل کېږي.

**۱. د سړو سيمو نيمه کوچيان**

**۲. د تودو سيمو نيمه کوچيان**

**د سړو سيمو نيمه کوچيان:** دا هغه کوچيان دي، چې په يخو سيمو کې د اوسېدلو ځايونه اوکرونديز لري. دوی درې فصله (پسرلی، اوړی او منی ) په خپلو ځايونوکې وي، يوازې په ژمي فصل کې د مالونو څرولو لپاره ګرمو سيمو ته ځي. د کابل، لوګر، زابل، کټواز او غزني سيمو نيمه کوچيان همدا ډول دي.

**د تودو يا ګرمو سيمو نيمه کوچيان:** دا ډول کوچيان يوازې د اوړي په موسم کې له خپلو مالونو سره يو ځای يخو سيمو ته ځي او نور درې فصلونه (منی، پسرلی او ژمی) د خپلو کروندو تر څنګ تېروي، د ننګرهار، لغمان او نورو تودو سيمو نيمه کوچيان همدا ډول ژوند لري.

**اخځليکونه**


۱ – کوچيان او نوی ژوند. د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت. ۱۳۶۸ لمريز .

۲ – پښتانه کوچيان، د علوموو اکاډمی، ۱۳۶۳ لمريز کال.

۳ – د ايلبند مجلې ۲۰ مه ګڼه، مقاله ۳۵ مخ .


يادونه: ځيرونکو او ليکوالانو کوچيان په مختلفو بڼو وېشلي دي. دبېلګې په ډول ځينو کوچيان په پوونده، لوګرو( هغه چې لوونه کوي) او سوداګرو کوچيانو ، ځينو بيا پښتانه کوچيان په غلجي او دراني او يو شمېر ليکوالانو بيا کوچيان د کېږديو د ډولونو له مخې سره بېل کړي، خو پورتنی وېش د کوچي تعريف ته په کتو تر ډېره بريده جامع دی.

د يادولو ده چې د کوچيتوب دوره د دنيا او افغانستان ټولو قومونوتېره کړې ده ، اوس هم افغانستان غير پښتانه قومونه کوچيان لري.

# د کلیله او دمنه پښتو ژباړې

ليکوال: پروفيسور سيال کاکړ
ژباړن: بشرمل زرغون

د سنسکريټ، پهلوي، پارسي، پښتو، روسي، عربي، سُرياني، ترکي، مالايايي، يوناني، هندي، هسپانيوي، چکسلوا کې، ايټالیايي، الماني، انگلېسي او... د ادبياتو په تاريخ کې د (کليله او دمنه) د کتاب نوم به تلپاتې وي، په لومړي ځل دغه ارزښتناک اثر (ويشنوشرما (Wishnusharma د ماشومانو د روزنې او پالنې لپاره په هند کې وکېښ او د کتاب نوم يې (پنچاتنترا= پنج تنتر (Pancha Tantra کېښود، پرهمدې اساس پورتنی اثر د کتابونو په منځ کې د (پنچاکيانه) او (کرتکادمنگا) په نامه هم ياد شوی، دغه اثر د ارزښتمنو، په زړه پورې او رابنکونکو داستانونو لرونکی دی، ليکوال د ياد کتاب سياسي او ټولنيز مسايل د ژوو په ژبه په ښه طريقه بيان کړي دي.

په همدې ترتيب (کليله او دمنه) د زده کړې او پالنې له اړخه يو گټور او ارزښتمن کتاب دی، په ټول هند کې يې اوځارتوب وموند او ورپسې يې د ايران خاوري ته هنگامه ورسېده، پر همدې اساس دغه له ارزښته ډک کتاب د نوشېروان په دوره کې (۵۳۱- ۵۷۹ هـ ق) د يوه طبي ډاکتر چې (برزويه) نومېده؛ ايران ته راوړ او په پهلوي ژبه يې وژباړه، نومړي خپلې ژباړې ته (کليلک و دمنک= کليلگ و منگ) نوم ورکړ چې ورپسې همدغه نوم يې په پهلوي ژبه د (کليله او دمنه) په بڼه واړوه.

کله چې برزويه (پنچاتنترا) په پهلوي وژباړه؛ نو له دې وروسته عبدالله بن مقفع ياد کتاب له پهلوي نه په عربي وژباړه، دغه ژباړه ډېره مهمه او ډېرې زياتې گړنې يې درلودې؛ همدارنگه عبدالله بن هلال اهوازي د دويم ځل لپاره (کليله او دمنه) په عربي وژباړه؛ البته دغه ژباړه د ليکوالۍ د سبک له مخې د مقفع ژباړې ته نشي رسېدی.

بايد ووېل شي چې د عبدالله بن مقفع د ژباړې هنگامه ډېرو اسلامي هېوادونو ته ورسېده چې پر همدې اساس زيارکښو ليکوالو او شاعرانو (کليله او دمنه) په خپلو ژبو له عربي متنه وژباړله، په همدې ترتيب د سامانيانو د دورې درباري شاعر ابو عبدالله بن جعفر رودکي د لومړي ځل لپاره (کليله او دمنه) په پارسي منظومه وژباړله، ورپسې د غزنويانو د دورې يوه شاعر ابوالمعاني حميدالدين نصرالله بن محمد بن عبدالحميد د بهرامشاه غزنوي په امر په نثر وژباړله او بيا يې د همده نامه ته منسوب هم کړه؛ همدارنگه بهاؤالدين احمد بن محمود، د قانعي په تخلص نومولې (کليله او دمنه) په خپل فکر په پارسي نظم وژباړله چې په همدې ترتيب د سلطان بايقرا په دوره کې مولانا حسين واعظ کاشفي سبزواري بيا (کليله و دمنه) وژباړله او ياده ژباړه يې په خپل نامۀ په (انوار سهيلي) ونومولـه، هېره دې نه وي، د جلال الدين اکبر گورگاني په دوره کې ابوالفضل په هند کې (کليله و دمنه) د (عيار دانش) په نامه په پارسي وژباړله.

هو!! د کليلې او دمنې د ژباړو دغه لړۍ په هند کې د گورگانيانو په دوره کې پای ته و نه رسېده؛ بلکې تر نن ورځې دغه لړۍ ناپايه يونتيا لري او د ښاغلي حبيب الله رفيع په وينا په نولسمه پېړۍ کې د

انګرېزانو په دوره کې د یوه ناپېژانده لیکوال له خوا د کلیلې و دمنې ژباړه د (نګار دانش) په نامه ژباړلې ده.

استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې لیکي:

« د افغانستان امیر عبدالرحمن خان په «۱۳۱۷ هـ ق، ۱۸۹۹ ز» د کاشفي له «انوار سهیلي» نه د «آئینهٔ جهان نما» په نامه د دې کتاب لنډیز وکړ، ژبه یې ورسمه کړه او په همدې کال په «۳۱۶» مخونو کې د کابل د دارالسلطنة په مطبعه کې چاپ شو.»

یاد څېړونکی خپلو خبرو ته داسې غځونه ورکوي:

« .... په همدې وخت کې د ابوالمعالي «کلیله او دمنه» د درسي موخو لپاره د محمدعلي بن حسن تهراني له خوا تلخیص او تهذیب شوه او ځینې برخې یې لرې«حذف» کړې او نوم یې پرې «اخلاق اساسي» کېښود.»

ښاغلی استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې په خپل لیک کې داسې لیکي:

«... په «۱۳۴۷ هـ ق، ۱۹۲۸ ز» میرزا عبدالوهاب ایرانپور د کاشفي «انوار سهیلي» د «ګلشن آراء» په نامه په پارسي نظم کړه.»

ښاغلي استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د کلیلې او دمنې د څو نثري او نظمي ژباړو یادونه کړې ده چې په وروستیو کې لیکي:

«...جالبه ده چې په پارسي کې تر اوسه هم د کلیلې و دمنې د نظمولو او په ورځنۍ نثر لیکلو ذوق او کار دوام لري، په همدې وروستنیو کلونو کې دا کتاب د «پیمانهٔ پند یا کلیله و دمنهٔ منظوم» په نامه غلام حسین فخر طباطبایي په ایران کې لیکلې چې په «۱۳۵۹ ل، ۱۹۸۰ ز» پای ته رسېدلې او په خواږه نظم یې اړولې چې په انځوریز«مصور» ډول او ډېر ښکلي صحافت اوس- اوس چاپ شوی او خپور شوی دی.»

ډېره خوښي ده چې پښتو هم د پهلوي، سُریاني، عربي، پارسي، اردو او داسې نورو.... ژبو په کتار کې ګډه شوه چې په بېلابېلو دورو کې پرې د (پنچاتنترا) ژباړه وشوه، په تېر وخت کې د افغان خاورې پوهانو او لیکوالو د (کلیلې او دمنې) اهمیت او ارزښت ښه انګېرلی و او د دوی پام و چې د هند دغه ارزښتناک کتاب په پښتو وژباړل شي چې پښتانه وکولای شي چې ګرانه پښتو یې مورنۍ ژبه ده؛ ښه پرې پوه شي او له دغې ارزښتناکې او بډایې زېرمې څخه بشپړه ګټه واخلي؛ نو په همدې اساس په بېلابېلو دورو کې یې کلیله او دمنه د پښتو په نثر او نظم را اړولې ده چې په همدې ډول لاندې یې په تفصیل سره د کلیلې او دمنې ټولې پښتو ژباړې ګرانو لوستونکو او قدرمنو څېړونکو ته وړاندې کېږي:

## ۱: علم خانهٔ دانش

د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې افضل خان خټک د اشرف خان هجري زوی او د پښتو د اوځار شاعر حضرت خوشحال خان خټک لمسی لومړی کس دی چې کلیله او دمنه یې د (عیار دانش) له مخې په پښتو نثر وژباړله، افضل خان خټک د (۱۱۷۵ هـ، ۱۷۶۱ م) په شاوخوا کې زېږېدلی دی، نوموړی نه یواځې د پښتو یو غوره لیکوال و؛ بلکې د یوه وړ او اوچت تاریخپوه په حیث اوځارتوب لري چې د (تاریخ مرصع) په نامه تاریخ د همده دی. څنګه چې د دري او عربي ژبو له لارې د کلیله او دمنه اوځاروالی د افغانانو هېواد ته رسېدلی و؛ نو افضل خان خټک نه یوازې د کلیلې او دمنې په ژباړې بسنه وکړه؛ بلکې دغه ګټور او ارزښتمن کتاب یې د پښتنو لپاره اړین وباله چې په همدې اساس یاد نړیوال کتاب یې د رومبي ځل لپاره په پښتو نثر په ښکلي انداز وژباړهٔ او د

(عیار دانش) د ژباړې نوم یې (علم خانهٔ دانش) کېښود، باید وویل شي چې د افضل خان ژباړه ډېرې ادبي ګڼنې لري، نوموړي د عیار دانش نثر په پښتو نثر او شعرونه یې د نظم په چوکاټ کې راوړي دي او د علامه عبدالحي حبیبي په وینا: ((...افضل خان په یاد کتاب کې د نثر په منځ کې ځای پر ځای د خوشحال خان او د خپل پلار شعرونه راوړي او د کتاب منځپانګه ډېره ښکلې کوي.)) رښتیا چې د (علم خانهٔ دانش) نثر ډېر خوږ او ښکلی دی او ژبه یې ډېره ساده، روانه او له ابهامه پاکه ده، ځنګه چې نوموړي له عربي او دري ژبو سره ډېره بلدتیا درلوده؛ نو همدا لامل دی چې دهٔ په خپلې ژباړه کې له عربي او پارسي ګړنو ډېره ګټه اخیستې ده، لنډه دا چې د افضل خان خټک نثر د همغه وخت په ښو او غوره نثرونو کې شمېرل کېږي.

هو!! د (علم خانهٔ دانش) خطي نسخې په نړیوالو کتابتونونو کې موندل کېږي، د ښاغلي استاد حبیب الله رفیع په وینا: ((د یاد کتاب قلمي نسخې او چاپي غورچاڼونه «انتخابونه» شته؛ خو په بشپړ ډول لا خپور شوی نه دی.))

او د یاد پوه په وینا: ((د «علم خانهٔ دانش» یوه بشپړه قلمي نسخه د انګلستان په «انډیا آفس India office Library» کې په «پښتو، ب، ۳» نومره خوندي ده چې د «۱۱۸۳ هـ ق، د محرم الحرام په ۱۴ مه، ۱۷۶۸ ز» سید محمدعلي خطاطي کړې او «۳۳٦» پاڼې لري.))

ښاغلی استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د (علم خانهٔ دانش) په اړه دا ډول مطالب ثبت کړي دي: ((یوه بله بشپړه نسخه یې د پېښور پوهنتون، د پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې په «۲۰» نومره خوندي ده، په «۱۲۰٦ هـ ق، ۱۷۹۱ ز» د سردار شهبازخان خټک زامنو صدرخان او حسن خان لیکلې چې «۲۱۸» پاڼې لري.)) پر همدې اساس د «علم خانهٔ دانش» د خطي نسخې په اړه لکه څنګه چې استاد رفیع لیکلي چې په پښتو اکاډمۍ کې خوندي ده؛ ما د دغې نسخې د نږدې کتلو لپاره د یادې اکاډمۍ له کتابوال(مسؤل) ښاغلي سرفرازخان مروت سره د ۲۰۰۹ ز، د مارچ په ۱۷ مه ولېدل، دغه نسخه مې وکتله، چې بشپړه او ښکلی لیک(خط) یې درلود، په همدې ترتیب د ګران او ښاغلي استاد رفیع په وینا: ((همدا راز د یاد کتاب یوه نیمګړې نسخه د انګلستان د «برټش موزیم British Museum» په ختیځه څانګه کې چې «۹۰» پاڼې لري، په «۴۵۰۳» نومره خوندي ده.)) یاد څېړونکی د دبیر دانش په سریزه کې د «علم خانهٔ دانش» په اړه موږ ته داسې معلومات راکړي دي: ((درېیمه بشپړه نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې په «۱۳۳/۴ » نومره خوندي ده، د کتابت کال یې «۱۲۲۹ هـ ق، ۱۸۱۳ ز» دی او «۲۲۳» پاڼې لري.)) ښاغلی رفیع د (علم خانهٔ دانش) نثر دا ډول پرتله کوي: ((د «علم خانهٔ دانش» متن د تاریخي متنپوهنې له مخې د خپل وخت معیاري، پوخ او نماینده نثر دی او د پښتو ژبې د هغه وخت په ارزښتناکو متونو کې شمېرل کېږي)).

افضل خان خټک (عیار دانش) له پارسي ژبې په (۱۱۲۸ هـ ق، ۱۷۱۵ ز) کې په پښتو نثر ژباړلی، نوموړي د خپلې ژباړې تاریخي ماده په (علم خانهٔ دانش) کې د پښتو اشعارو له لارې روښانه کړې ده چې دلته یې د استاد رفیع د استناد پر اساس ستاسې خدمت ته وړاندې کېږي:

نصیحت په غوږو کله ځای نیولی د کېږو دی

شـــنوا به پــند ترې واخلـــي، دا کتاب د زمانــو دی

شکر دا چې دا نامه مې تر مرګ وړاندې په انجام شوه

دانایان په دا پوهېـــږي، جـــهان سرایه د لمـــبو دی

کـــه تــــاریخ یې له ما غـــواړئ! راشـــئ واورئ!

«کـــه یې وګـــورئ، یــو ګنـــج د پښتنو» دی

(۲۳+ ۱۰ +۲۳۲+ ۱٦ +۷۳ +۴+ ۷۵۸= ۱۱۲۸ هـ ق)

او دغـه د (علـم خانـهٔ دانـش) د سریزې لـه برخې نـه د نـثر بېلګـه کتلای شـئ:

« دا کتـاب چـې پـه نظـر زمـا راغـی، مـدت شـوی و چـې اراده مـې د نـوي کتـاب د وضـع پـه پښتـو ژبـه پـه خاطـر ګرځېـده چـې علـم اخـلاق پکـې بیـان کـړم، پنځـه ویشـت کالـه حکمـراني چـې پـه دا خپـل قـوم بانـدې وشـوه، پـه دا سـن چـې عمـر عزیـز پـه دري پنځـوس راغـی، پـه دا حکمـراني کـې نېـک و بـد تجربـې د روزګار لکـه عـادت د روزګار غـدار دی، لـه خپلـو پردیـو ولیـد شـوی؛ پـه خاطـر راورسـېدل...له دې تجـارت وروسـتي هـم مګـر بهرمنـد شي یـو کتـاب د حکمـت یـادګار پرېـږدم؛ لکـه خان مرحوم ملـک خوشـحال خـان چـې نیکـه زمـا دی، دسـتارنامه ځنـې پاتـې شـوې ده، همـدا راز زوړ کتـاب چـې دسـتورالعمل د خـاص و عـام دی او پـه ډېـرو ژبـو ترجمـه شـوی و؛ مګـر پـه پښتـو ژبـه ترجمـه مـې کـړ، مشـکلات یـې پـه سـهولت قـرار ونیـسي او فایـده یـې پښـتنو تـه عامـه ورسـي، شروع مـې پـه ترجمـه وکـړه، السـعي منـی والاتمـام علـی اللـه؛ یعنـې کوشـش لـه مـوږه ده، تمامښـت پـه خـدای دي.»

**آغاز متن** دا آغـــــاز دی پهٔ نامهٔ د هـــــغهٔ خدای

چې بې ځایه دی، بې دهٔ نشته بل ځای

پـــه «تخـلقوا» و خلق ته رهنمون دی

« فاســـتقم کما امـــرت» رهـــنمای

څلور طبقې بادشاهان د عجم وو چې په شاهنامه کې بیان شوي دي.

**مثنوي**

ګروهٔ شهان چهار بود در جهان

یکی «پیشدا دان» و دیګر «کیان»

ګـــــروهٔ سیم بود «اشکانیان»

چـــــهارم ګروه اند «ساسانیان»

نوشـېروان عـادل پـه څلـورم طبقـه کـې دی چـې «ساسـانیان» یـې بـولي، ډېـر دانـا دوسـت بادشـاه و؛ لکـه پـه کتابونـو کـې پـه هـر ځـای د دهٔ صفـت دی.

**بیت:**

نوشېروان چې مخ په عدل، په انصاف وه

کـــه یې ګـــورې تر قیامته یې اوصاف وه

علامـه حبیبـي پـه پښـتانه شـعراء، لومړي ټـوک، ۲۳۰ مـخ کې د (علم خانهٔ دانش) وروستی کرښې دارنګ را اخیستي دي: «...اصـل کتـاب د کلیلـه و دمنـه تمـام شـهٔ، خاتمه یې پـه نظـر ثـاني پـه دیارلسـم د محـرم، سـن هجـري، یـک هـزار و یـک صـدو بیسـت و هشـت، عجـب کتـاب پښـتنو تـه یـادګار پاتـې شـهٔ؛ البتـه چـې خالي بـه لـه فایـدې نـه وي... د دې کتـاب نـوم مـې «علـم خانـهٔ دانـش» کښېښـود».

## ۲: د کلیله او دمنه پښتو ژباړه

ویـل کېـږي چـې ابوالحسـن هـراتي کلیلـه او دمنـه پـه پښـتو ژباړلـې وه، پـه دې بـاره کـې پښـتو تذکـرو څـه نـه دي لیکلي؛ البتـه نوموتـی پـوه ښـاغلی زلمـی هېوادمـل پـه (فرهنـګ زبـان و ادبیـات پښـتو)، پـه لسـم مـخ کـې پـه دې بـاره کـې داسـې لیکـي: ((... ابوالحسـن هراتـی یـو د پښـتو لـه لیکوالـو څخـه دي.))

ورپسـې نومـوړی د قـاضي خیراللـه پېښـوري پـه حوالـه

زیاتوي: ((...چې ملا ابوالحسن هراتي کلیه و دمنه په پښتو ژباړلې ده.))

پر همدې اساس ښاغلي رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د دې لړۍ په حواله لنډ معلومات راوړي دي، نوموړی لیکي: ((قاضي خیرالله پېښوري د «خیراللغات» په سریزه کې کښلي دي چې ابوالحسن هراتي «کلیله و دمنه» پښتو کړې وه، د دې ترجمې په اړه تر دې زیات معلومات نشته.))

د یادې ژباړې په باره کې له دېنه زیات معلومات په لاس کې نه لرو، اړینه ده چې لیکوال او په ځانګړې توګه پښتو څېړونکي د ابوالحسن هراتي د کلیلې و دمنې د ژباړې په باره کې له ژورو پلټنو او څېړنو څخه کار واخلي، بویه چې یوه ورځ یې په موندلو بریالي شي.

**۳: دبیر دانش**

ښکاره ده چې د کلیلې او دمنې د ژباړې هنګامه له افضل خان خټک د پښتنو پر ځمکه را روانه وه، د پښتو ژبې شاعران او پوهان د دغه اخلاقي، ټولنیز او سیاسي کتاب له ارزښت او اهمیته ناخبره نه وو، همدغه ملي احساس و چې په پښتني ټولنه کې لیکوالو او شاعرانو کلیله و دمنه د پښتو نثر او نظم په جامه وژباړله او دغه اوږده لړۍ همداسې شاد محمد خان یوسفزي ته راورسېده. هو!! شاد محمد خان نه یوازې رئیس او د مردان لوی خان و؛ بلکې نوموړی یو غوره شاعر او د پښتو لاسبرى ژباړن هم و، ده شاعري خوښوله چې په همدې اساس یې شاعرانو او لیکوالو ته ډېر درناوی کاوه، د ده دربار د هغه وخت د شاعرانو او پوهانو دمه ځای و، په عامه او ساده کچه د ده په کور کې به د علم او پوهې خلک راټولېدل او د علم او ادب پرمسایلوبه یې سره بحثونه کول. شاد محمد خان د ژوندي وجدان خاوند او با احساسه شخص و، پوهه او پوهان یې ډېر خوښ ګڼل، له نوموړي نه څو قیمتي آثاره د نښې په توګه راپاتې دي، دیوان یې (د شاد محمد خان رئیس مردان دیوان) په نامه په دې وروستیو کلونو کې د پښتو اکاډمۍ، پېښور پوهنتون له خوا د ډاکتر سید عظیم شاه خیال بخاري په عالمانه سریزه چاپ شوی دی، ده (معراج النبوة) چې په پارسي ژبه و؛ په پښتو نظم ژباړلی او نوم یې (معراجنامه) پرې ایښی دی، نوموړي کلیله او دمنه له (انوار سهیلي) نه د (دبیر دانش) په نامه ژباړلې چې په لاندې کرښو کې به سره پرتله شي. ویل کېږي چې شامحمد خان یو زبده شاعر و؛ نو پر همدې اساس د پښتو دغه شاعر «کلیله و دمنه» په «۱۳۰۸ هـ ق، ۱۸۹۰ ز» په ښکلي انداز د نظم په بڼه اوډلې ده چې په همدې اړه د «دبیر دانش» په اخره کې دی په خپله داسې وایي: ((شکر- شکر چې په خیر سره کتاب په ما ختم کړ، په نظم پاک تواب هجري سن و دیارلس سوه اته نور، سن عیسوي نوي اتلس سوه خور او تاریخ و اووه ویشتم، وخت مازیګر، د ربیع الثاني مه کې شه تر سر او په ورځ د پنجشنبې او د زیارت دا کتاب واړه تمام شه سلامت.)) نوموړي د خپل استاد مولانا محمد رفیق اکبرپوري او نورو خلکو په غوښتنه دغه هندي شهکار «کلیله و دمنه» په پښتو وژباړهٔ چې په همدې اړه شادمحمدخان له حمد و ثنا وروسته د «دبیر دانش» په پیل کې د «سبب د تصنیف د کتاب د نظم» تر سرلیک لاندې داسې بیتونه راوړي دي:

يــوه ورځ و د اســـتاد په لاس کتاب
په مضمون يې کړم خبر د هر هر باب
څوارلس بابه وو په شمار عجب رنګين
کُل مطلـــب پکې د عقل ښه سنګين
خيال مې وشه چې پښتو کړم دا کتاب
چـــې ترې لرې د پارسي کړمه حجاب
چــې دماغ د پښتنو پرې معطر شي
چـــې خبر يې له مطله سراسر شي
يو باعث پر ما استاد شه څو هم نور
چــې پښتو کـــړه دا کتاب د زړه په زور
چـــې حاصـله ترېنه نفع افغانان کړي
په دعـــا به دې هم ياد سره تر ځان کړي
پس له مرګه به دې پاتې هم يادګار شي
خصـــوصاً د پښتنو به هـــم پکار شي

نـو د پورتنـی وينـا پـر اساس شـاد محمـد خان د استاد او د يـو څـو نـورو خلکـو پـه غوښتنه کليله و دمنه لـه «انـوار سـهيلي» څخه پـه پښـتو چـې د پښـتنو ملـي ژبـه ده، پـه پارسي ژباړل شوې وه؛ لـه هغـې ښـکلې ژباړې څخـه يـې د پښتنو په ملي ژبه د نظم په جامه کې وژباړله، د دۀ په اند د کليلې و دمنې دغه ژباړه افغانانو تـه ښـه تمامـه شي.

دبـير دانـش د لومـړي ځـل لپـاره پښـتو اکاډمـی، پېښـور پوهنتـون پـه «۱۹۹۳ ز» کـې پـه دوو ښـو، پـه سـپين کاغـذ کـې خپـور کـړی دی؛ يعنـې جلـد او ناجلـد، قيمـت يـې «۳۳۰» روپـۍ او د زده کوونکـو لپـاره «۳۰۰» روپـۍ دی، دغـه درونـد کتـاب چـې «۱۱۲۰» پاڼـې لـري؛ ښـاغلي اسـتاد رفيـع پـرې يـوه عالمانـه سريـزه ليکلـې ده چـې پـه رښـتيا د يـوې سريـزې حـق يـې ښـه ادا کـړی دی، پـه دې اړه يـې زيارکښـنه د سـتاينې وړ ده.

هـو!! دبيردانـش تـه د اسـتاد رفيـع سريـزې نـوی ژونـد او بېـل انـداز وربښـلی دی، نومـوړي د مهاجـرت د ژونـد پـه دې لاره کـې ډېـر زيـات زيـار کښـلی او ډېـر زيـات کړاوونـه يـې تېـر کـړي دي، دغـه سريـزه د يـوې نښـې پـه توګـه چـې «٦٦» مخـه ده؛ يـاد څېړونکـي پښـتو ادبياتـو تاريخ تـه لـوړ مقام بخښـلی، لـه دې پرتـه اسـتاد رفيـع د يـاد کتـاب حواشـې هـم ليکلي، دۀ د کتـاب پـه اخـره کـې د دغـو سرليکونـو: د آيتونـو، حديثونـو او مقولـو لارښـود، متلونـه، محـاورې او اصطلاحـات، نومونـه او ويينـو پـه راوړلـو سره د دبـير دانـش ټـول اړخونـه او ښـې شـنلي او څېـړلي دي، پـه حقيقـت کـې د دبـير دانـش نښـلونې(ملحقات) چـې «٩٦» مخـه دي؛ اسـتاد رفيـع د زړه پـه وينـو تيـارې کـړې دي، پـه رښـتيا چـې پښـتو ژبې د اسـتاد رفيـع ډېـر پـوروړې دي.

(دبـير دانـش) چـې شـاد محمـد خـان (۱۸۹۹ ز مـړ) پـه پښـتو نظـم اړولـی دی؛ څلـور څېرکـي او «۱۱۳۲۲» بيتـه لـري، د خطـي نسـخې ليک(خـط) د مولانـا محمدرفيـق اکبرپـوري دی، ښـاغلي اسـتاد رفيـع د خطـي نسـخې ځانګړنـې پـه دې ډول کښـلي دي: ((...دا نسـخه ۷۸۳ مخونـه لـري، پـه هـر مـخ کـې ۱۵ کرښـې او د مـتن کچـه يـې ۱۴X ۲۳ سـم ده، د کتابـت کال نـه لـري؛ خـو ښـکاري داسـې چـې د تأليـف لـه کال سره جوخـت ليـکل شـوې وي.))

ياد استاد د (دبير دانـش) شـعر پـه اړونـد خپـل نظـر داسـې څرګنـد کـړی دی: ((....د دبـير دانـش شـاعري تـر ډېـره حـده درنـه، پېچلـې، مغلقـه، لـه تکلفـه ډکـه او پـه زور قافيـه بنـدي شـوې چـې حتا کله کله يې درنـې ګرامري ګـډوډۍ او تېروتنې رامنځته کړې دي او مفهوم يې ګونګ کړی دی.))

پـه هـر حـال !! (دبير دانـش) د پښـتو ادبياتـو پـه تاريخ کـې لـوړ مقـام لـري او شـادمحمدخان پـه دې لاره کـې ډېـر زيات

کړاوونه ګاللي دي او د (کلیلې او دمنې) حکایات یې د پښتو ژبو لپاره په ډېرې ښې طریقې وړپېژندلي دي، تر کومه چې په ادبي نړۍ کې د (کلیلې و دمنې) یادونه کېږي؛ نو د مردان رئیس شاد محمد خان نوم به هم ژوندی وي، د (دبیر دانش) په دغو ټکو کې پای ته رسېدلی دی: ((هذه النسخة المیمونة المبارکة برحمته «انوار سهیلي» بزبان افغانی المسمی به «دبیر دانش» من تصانیف عالیجاه جناب شاد محمد خان صاحب جلیل المراتب رئیس قصبهٔ مردان مد ظلکم والسلام.)) په اخره کې د دبیر دانش یو څو پښتو بیتونه د بېلګې په توګه ستاسې درانه حضور ته وړاندې کوم:

...

چــې بې سعې، بې کــوششه هــر یو کار
حاصلـــوالی دی په مــثل پښه د مـــار
چـــــې څـــوک تېره سختي نه کړي د سفر
د مقصود په لاس به نه راوړي ګوهر... تر پایه

## ۴: انوار سهیلي

د پښتو په ادبي نړۍ کې میا محمد عبدالغفور قاسمي څلورم لیکوال دی چې د سوات حاکم میاګل عبدالودود په امر یې «انوار سهیلي» په پښتو د نثر په بڼه وژباړه، دا ځکه چې د سوات پادشاه د پښتو ژبې او ادبیاتو پلوی و چې په همدې اساس د نوموړي په دوره کې څو کتابونه په پښتو ولیکل او وژباړل شول چې له دغو نه: تاریخ فرشته، انوار سهیلي، تاریخ سوات، فتاوای ودودیه یې د یادونې وړ دي. ښکاره ده چې له لرغونو زمانو راهیسې کلیلې او دمنې د افغان پر ځمکه ډېر زیات مینه وال درلودل چې د همدغې اړتیا له مخې انوار سهیلي په پښتو وژباړل شو، د لومړي ځل لپاره دغه ارزښتمن کتاب په «۱۹۴۳ ز» خپور شو، ورپسې د خلکو د غوښتنې پر اساس دغه نه پناکېدونکی اثر درې ځلې چاپ شو او څلورم چاپ یې په «۲۰۰۷ ز» د کب په میاشت کې شوی دی.
میا محمد عبدالغفور قاسمي د پښتو یو غوره لیکوال دی، نوموړي په ځانګړې مینې او بېل انداز انوار سهیلي په پښتو وژباړه، دهٔ د یاد کتاب مطالب په روانې، ساده او خوږې ژبې بیان او وژباړل، د نوموړي د لیکنې مېتود دومره راښکونکی او په زړه پورې دی چې لوستونکی هېڅ نه ستړی کوي. باید وویل شي چې میا محمد عبدالغفور قاسمي د مولانا کمال الدین حسین بن علي بیهقي چې په حسین واعظ کاشفي اوځار و؛ د کتاب نوم بدل نه کړ؛ بلکې انوار سهیلي د افغان پر ځمکه تلپاتې ژوند تر لاسه کړ، د پښتو انوار سهیلي څلورم چاپ چې د ښاغلي فضل ربي راهي په اهتمام تر سره شوی؛ «۴۳۲» مخه لري او د دغه ګټور کتاب انتساب د سوات مؤسس میاګل عبدالودود ته شوی دی، د دغه باارزښته اثر په څلورم مخ د غوره شاعر او نوموتي لیکوال رحیم شاه رحیم داسې نظر راغلی دی:

خــــزانه د معلـــــوماتو دا کتاب دی
د عــبرت او نصیحت یې هر یو باب دی
د حکمت ډکې خوږې کیسې دي ټولې
په کوزه کې یې بند کړی لوی دریاب دی

میا محمد عبدالغفور قاسمي د (د دغه کتاب اهمیت تر سرلیک لاندې دا رنګ لیکي: ((د دغه کتاب دوه منځوی برخې دومره ګټورې نه وې؛ نو ځکه مې پرېښودې او پاتې څوارلس برخې مې په ساده ژبه وژباړلې.))

دلته د انوار سهیلي د حکایتونو له برخې یو حکایت ګرانو لوستونکو ته د بېلګې په توګه وړاندې کېږي:

(( پادشاه د فقیر دا عرضي قبوله کړه، د اس نه راکوز شو او د فقیر په خوا کې ښه په شوق کښېناست، فقیر د پادشاه سره یو ساعت خبرې اترې وکړې، پادشاه چې رخصتېدو؛ نو فقیر ورته عرض وکړ چې ای پادشاه! زه یو فقیر یم، ستا د مېلمستیا قابل سامان ما سره نشته، البته ماته د پلار نه یوه خزانه په میراث رسېدلې ده، په دې غار کې ښخه ده، زه فقیر به په دولت څه چل کوم، دا خزانه ستا لایق ده، ته یې واخله چې د خدای د مخلوق په فایده کې یې خرڅ کړې.))

## ۵: د کلیلې او دمنې ژباړه

هو!! د کلیلې او دمنې د پښتو ژباړو د نثر او نظم لړۍ همداسې غځېدا لري، تر دې دمه د کلیلې و دمنې وروستۍ ژباړه چې د پښتو نظم په جامه اوډل شوې؛ د ښاغلي تاج محمدخان زیب سر ده، دغه نومیالی لیکوال او غوره شاعر د پیرمحمد خان زوی، په «۱۲۹۱ هـ» د «چنداخوره» په سیمه، د سوات په لمنو کې دې نړۍ ته راغلی، دۀ د سوات پادشاه جهانزیب له لوري د «سوات ادیب» د درناوي لقب اخیستی و، ښاغلی زیب سر د جهانزیب په دوره کې له کوچنۍ رتبې اخر د دۀ تر سلاکارۍ رسېدلی دی، پښتو دیوان، د افغان زوال، دوه ټوکه، د قیامت نښې او اصطلاحات د نوموړي آثار دي چې چاپ شوي هم دي. ښاغلی تاج محمد خان چې په زیب سر نوموړی دی؛ یو د کلیلې و دمنې له ژباړونکو څخه دی چې د جهانزیب د پادشاهۍ په وخت یې په خوږه پښتو د مثنوي په قالب کې یې یاد کتاب ژباړلی دی؛ خو ډېر افسوس!! چې دغه قیمتي اثر د ګرانو لوستونکو ته تر دې دمه د چاپ په ښه نه دی رسېدلی، د ښاغلي استاد رفیع وینا ده چې: ((امکان لري چې ډېر ژر چاپ شي))، تر هغې چې د سوات ادیب دغه منظومه ژباړه چاپ شوې نه وي؛ تر هغه وخته دغه نالیدلې ژباړه اصلاً مونږ بېخي پرتله کولای نشو، ګورو به چې د زیب سر دغه د کلیلې او دمنې ژباړه څوک د چاپ ډګر ته راوباسي؟.

## مأخذونه


د یادې لیکنې د لیکلو پر وخت له لاندې کتابونو اخیستنه شوې ده:

۱ـ شفق ، ډاکتر رضا زاده، تاریخ ادبیات ایران، لومړی چاپ،: انتشارات آهنګ، آرمان، تهران، ۱۳٦۹ لمریزکال.

۲- د کلیلې و دمنې غورچاڼ، د ابوالمعالي نصرالله منشي ژباړه، غورچاڼ او انتخاب: ډاکتر رضا انزابي نژاد، پنځم چاپ، تهران، ۱۳۸۰ هـ ش.

۳- ادب نامۀ ایران، ړومبی چاپ، لیکوال: میرزا مقبول بېګ بدخشانی، خپرندوی: یونیورسټي بُک ایجنسي، چاپخونه: اتحاد پریس، لاهور، د خپرېدو کال نه لري.

۴- دبیر دانش، د انوار سهیلي منظومه ژباړه، ژباړن: شادمحمدخان، څېړنه، اوډنه، او نښلونې: د استاد حبیب الله رفیع، خپرندوی: پښتو اکاډمي، پېښور پوهنتون، چاپخونه: ندیم یونس پرنټرز، لاهور، لیکګر: لطف الله، محمد رسول او محمد رشاد، د خپرېدو کال: ۱۹۹۳ ز.

۵- انوار سهیلي، پارسي ژباړن: مولانا حسین بن علي واعظ کاشفي سبزواري، پښتو ژباړن: میا محمد عبدالغفور قاسمي، سریزه: فضل ربي راهي، خپرندوی: شعیب سنز پبلشرز اینډ بُک سېلرز، مینګوره، سوات، لیکګر: لقمان حکیم، چاپخونه: حنیف اینډ سنز پرنټرز، لاهور، د خپرېدو کال: ۲۰۰۷ ز.

٦- پښتانه شعراء، لومړی ټوک، لیکوال: اروابناد علامه عبدالحی حبیبي، خپرندوی: پښتو ټولنه، کابل، چاپکال: ۱۳۲۰ هـ ش.

پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، لیکوال او خپرندوی: همېش خلیل، چاپخونه: پبلک آرټ پرېس، پېښور، د خپرېدو کال: ۱۹۵۸ ز.

حیات الله ( آریا)

# د میرویس نیکه دیپلوماسي او د هېواد آزادي:

د شپاړسمې پېړۍ لـه پیل څخـه افغانسـتان د سـیاسي او عـرضي تجزیـې بلا پـه غېږ کـې ونیـو چې تـر (۱۷۰۹ م. ) کال پـورې یـې دوام وکـړ؛ پـه افغانسـتان کـې د تجزیـې دوره د اروپـا لـه رنسـانس دورې سره همزولـې وه، اروپـا کـې پـه هـر اړخیـز ډول اصلاحـات او ریفـورم روان و،کلیسـا خپـل واک لـه لاسـه ورکـړ، مـلي دولتونـه تاسـیس شـول، صنعتـي، ادبي، هـنري او عقیـدوي رنسـانس د فرانسـې د سـتر انقـلاب د بـري رېښـو تـه اوبـه اچولـې، افغانانـو د تجزیې پـه دې دوره کـې درې لـوی زیانونـه ولیـدل؛ لـه سـوداګرو ډک ښـارونه یـې خالي شـول، لـوی عالمـان او پوهـان مجللـو او مجذوبـو دربارونـو تـه جـذب شـول، د ټولنـې خلکـو د پردیـو پوځونـو او لښـکر کشـیو بـاج او بـال پـه اوږو واخیسـت.

د افغانسـتان شـمال د ازبکـي، ختیـځ یـې د ګـورګاني او جنـوب یـې د صفـوي دربـار تـر واک او ځـواک لانـدې و چـې پـر وړانـدې یـې د روښـانیانو، خټکـو او هوتکـو مبـارزې جـاري وې. لـه دې درېګونـو جبهـو څخـه جنوبـې جبهـې د میرویس نیکـه د ډیپلوماسـي پـه نوښـت او بنسـټ د هېـواد خپلواکـي تضمیـن کـړه. روسـیې سیاسـتوال آسـټالین وایـي » ښـه دیپلوماسـي د یـوې فرقـې کار کـوي « د میرویـس نیکـه ډیپلوماسـي چـې د معـاصر افغانسـتان د آزادۍ بـاب یـې پرانیسـت یـوه ښـه دیپلوماسـي وه او پـه لانـدې مهارتونـو او تکـړه توبونـو یـې ډېره وهلـې وه .

**موقـع پېژنـده:** افغانسـتان چـې د بلواکـۍ تـورې دورې لـه پرمختـګ څخـه پـه شـاه تېلواهـه، لـه یـوه بـل ګـواښ سره مخامـخ شـو هغـه دا چـې صفـوي دربـار د کندهـار کلانتـرۍ تـه یـو جدیـد الاسلامه ظالـم سړی د ګورګیـن پـه نـوم ( ۱۷۰۵ م. ) کال کـې را ولېـږه، دا مهـال میرویـس نیکـه د قـام مـشري پـه غـاړه لرلـه، تنـد روه ګرګیـن ډېـر ژر د میرویس نیکـه لـه موقـف، درک او سیاسـت څخـه متاثـره شـو او د اصفهـان دربـار تـه یـې د امپراتـورۍ د سیسـه ساز بنـدي پـه توګـه ولېـږه.

میرویـس نیکـه د یـو فرصتشـناس او موقـع پېژانـد سیاسـت مـدار پـه حیـث د صفـوي دربـار فسـاد او خپلمنځـي اختلافـات د خپـل ولـس د خپلواکـۍ پـه نفعـه اسـتفاده کـړل، دربـار تـه یـې د ګرګیـن د بـد چلنـد پـه اړه مقنـع او مسـتدلل دلایـل وړانـدې کـړل، میرویـس نیکـه د یـو پیـاوړي دیپلومـات پـه حیـث خپـل موقـف لـه سـیاسي زولانـه تویـه د مشـاور مقـام تـه لـوړ کـړ. موقـع پېژنـده د میرویـس نیکـه د دیپلوماسـي اصلـي آر و.

**د مذهبـي ټولنـې پـه رمـز بانـدې د پوهېدنـې ځانګړنـه**: میرویـس نیکـه چـې د ولـس د آزادولـو پـر پـروژه بانـدې فکـر کاوه، د شـاه حسـین پـه وړانـدې یـې خپـل اعتبـار لـوړ کـړی و او لـه هغـه څخـه یـې د حـج کولـو اجازت واخیسـت.

میرویس نیکه له حج کولو څخه ډېرې درنې ملي موخې لرلې، د یوه ټولنپوه او انټرپولوجیست په حیث، دې پایلې ته رسېدلی و، چې د یوې مذهبي او کلکې سنتي ټولنې لپاره مذهبي تقدسات لومړیتوب لري، نو د خپلې مبارزې د مشروعیت لپاره یې ولس ته د حجاز له نومیالیو عالمانو څخه لیکلې فتواوې راوړې، په دې مستندونو کې راغلي و، چې د یو جابر او اشغالگر په وړاندې غږ او څوړ پورته کول انساني او اسلامي حق دی.

**په جرگه وال سیستم د پښتو تحلیل او حل:** له حج کولو وروسته د اصفهان دربار میرویس نیکه د گرگین د ټولنیزوچارود مشاور په حیث را ولېږه. میرویس نېکه د لوړې سیاسي پوهې په بناء نه یوازې ځان وژغولو، بلکې د گرگین سیاسي مشاور وټاکل شو او د هېواد د خپلواکۍ لپاره یې په زړه پورې مراحل طی کړل، میرویس نیکه کندهار ته له راستنېدو سره سم له قومي مشرانو سره جرگې پیل کړې او د « شاورهم فی الامر » آیت مبارک په بناء باندې یې خپل پلان د اسلامي او لرغوني افغاني دود ( جرگې او شورا ) له لارې د محبوبیت، قاطعیت، موفقیت او مشروعیت موقف ته لوړ کړ، په جرگه کې میرویس نیکه دوې سیاسي ښېگڼې لېدلې؛ د ټولو قومونو د مشرانو اتفاق او انسجام او د افغاني او اسلامي سنت پیروي.

**د میرویس نېکه لیکونه:** میرویس نیکه د سیمې په وضعیت او سیاسي جریانونو باندې د وخت اگاه او باخبره شخص و، نو هغه و، چې د هند او د اصفهان دربار ته یې د لیکونو لېږلو سیاست کار لاندې ونیوه.

**۱ـ د هند دربار ته لیک:** له افغانستان څخه د صفوي واک او لاس له لنډولو وروسته میرویس نېکه سیاسي چارو ته نور هم فارغ شو او د هند گورگاني دربار ته یې لیک واستوه، په لیک کې میرویس نېکه د ښې همجوارۍ غوښتنې تر څنگ د متقابله همکاریو وړاندیز هم کړی و. په دې لیک کې دربار ته لیکل شوي و، چې صفوي دربار د یو مداخله گر سیاست په بناء سیمه گواښوي، نوبناء د هند مسلمان حکومت او هوتکي دربار د گډې مذهبي حنفي سلیقې له مخې باید یو د بل ملا وتړي.

**۲- د اصفهان دربار ته لیک:** صفوي دربار ته د میرویس نیکه لیک لېږنه د ده د فوق العاده سیاسي دراکت او ښې همجوارۍ غوښتنې مستند دی. په دې لیک کې میرویس نېکه دربار ته څرگنده وې، چې د گرگین مظالمو عامله قوه را وپاروله او ما د خپل قام د مشر په توگه یاده قوه رهنمایې کړه. دغه لیک د اصفهان دربار دومره په اندېښنه کې کړ، چې د فوري فوځي خوځښت گام یې وانه خیست.